لیکوال: مارک فیشر    ژباړن: میر احمد یاد

Afghan Salar
افغان سالار کتابتون

# د میلیونر راز

مهمه نده چې څومره ځنډیږي؛
خو مثبت فکر، مثبت ګام او مثبت کار،
تل ښې پایلې لري....!

Downloaded By: Afghan Salar Library


# نیولیک

لومړی څپرکی.......................................... ۷
په کاري چاپېریال کې د پردیتوب احساس......... ۷
دویم څپرکی.......................................... ۱۵
زلمي لومړنی اغېزناک گام واخیست.................. ۱۵
درېیم څپرکی.......................................... ۲۲
زلمي بیا خپلې وزرې وموندلې......................... ۲۲
څلورم څپرکی.......................................... ۲۷
زلمي ماته تجربه کړه.................................. ۲۷
پینځم څپرکی.......................................... ۳۰
زلمی له یوه په زړه پورې سوالگر سره گوري......... ۳۰
شپږم څپرکی.......................................... ۳۵
میلیونر زلمي ته د میلیونرانو فکر ور زده کوي......... ۳۵
اتم څپرکی.......................................... ٤۱
زلمی پوه شو چې هم گل دی هم بنوال.................. ٤۱
اتم څپرکی.......................................... ٤۷
زلمي تمرکز زده کړ.................................. ٤۷
نهم فصل.......................................... ۵۵
زلمی د باور قوت مني.................................. ۵۵
لسم څپرکی.......................................... ٦۱
زلمي ته پخوانی وخت وریادېږي......................... ٦۱
یوولسم څپرکی.......................................... ٦۳
زلمی د ژوند په معنا پوهېږي......................... ٦۳
دولسم څپرکی.......................................... ٦۹

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د زلمي برخليک بدليږي ............ ٦٩
ديارلسم څپرکی ............ ٧٦
زلمی د خپل ژوند تر ټولو سخته پرېکړه کوي ............ ٧٦
څوارلسم څپرکی ............ ٨٠
زلمی بايد يو شی ټاکلي وی: رڼا که تياره ............ ٨٠
پينځلسم څپرکی ............ ٨٣
زلمي په کلک هوډ کار پيل کړ ............ ٨٣
شپاړسم څپرکی ............ ٨٧
زلمی رټل کېږي ............ ٨٧
اولسم څپرکی ............ ٩١
زلمی ابدي ژوند مومي ............ ٩١
اتلسم څپرکی ............ ٩٤
زلمی د موخې (هدف) په قوت پوه شو ............ ٩٤
نولسم څپرکی ............ ١٠٣
زلمی په خپل بايللي ژوند فکر کوي ............ ١٠٣
شلم څپرکی ............ ١٠٦
زلمی د استقامت په ارزښت پوه شو ............ ١٠٦
يو ويشتم څپرکی ............ ١١٣
زلمی د خطر مخې ته وځي ............ ١١٣
دوه ويشتم څپرکی ............ ١٢١
زلمی د خبرو اترو هنر زده کوي ............ ١٢١
درويشتم څپرکی ............ ١٢٦
زلمي هوښيارتوب وکړ ............ ١٢٦
څلرويشتم څپرکی ............ ١٣٣
زلمی د خپلو سختيو په لامل پوه شو ............ ١٣٣
وروستی څپرکی ............ ١٤١
زلمی د مينې په اصليت پوهيږي ............ ١٤١
بالآخره ............ ١٤٤

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# په کاري چاپېريال کې د پرديتوب احساس...

اپارتمان ډېر نوی نه و، شيان يې تقريباً ګډوډ پراته وو، جان بليک په همدې کور کې سهار له خوبه راويښ شو، ګوري چې نهه نيمې بجې دي. دوه ديرش کلن لنډی خو چالاکه زلمی پوه شو چې نن پرې ناوخته شوی دی. زنګ دار ساعت يې کار نه و کړی که خدايزده بيګا يې کوک ورکول هېر شوي وو.

د لمبا وخت نه و، مخ ته يې يخې اوبه واچولې، ويښته يې ګومنځ کړل، د ويټامين سي يوه ګولۍ يې خولې ته کړه، بيا يې پام شو چې سترې ورځ يې مخ ته پرته ده، دويمه او پسې درېيمه ګولۍ يې هم واچوله. خوا کې يې جامې پرتې وې، ګډوډې وې، همدا جامې يې بېګا ويستې وې، خو ګډوډې پرتې وې، بېرته يې را واخيستې. نيکټايي هماغسې د يخن قاق په غاړې پورې نښتې وه، ده هم په يخن قاق کې سر او لاسونه ور ننويستل.

د کور مخې ته ٦٥ ماډل زوړ موستانګ موټر ولاړ و، دوه درې سلفونه يې پرې ووهل خو بلاخره په زور چالان شو، ځان سره يې وويل: «نن خو مې بيخي راپاڅېدو ته زړه نه کېده، چې قلارې ويده وی».

په اډيسن واټ يوه زړه خو بيا رغول شوې ودانۍ وه او ګلډسټن تبليغاتي شرکت همدې ودانۍ کې فعاليت کاوه. زلمي جان بليک له څو کالو راهيسې دلته د ليکوال دنده کوله. دده په رسېدو يې سکرترې لوئيز په انديښمن نظر ور وکتل او بيا يې ورسره روغبړ وکړ، ويې ويل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



«چېرې وې؟ ګلډستن درته غوسه دی، ټول دفتر یې درپسې لټ په لټ کړ، ناستې (جلسې) ته پنځه دقیقې پاتې دي، هغه ویل چې له جلسې مخکې یو وارې تا او ګیت سره ویني.»

جان د خپل کار دفتر ته روان او په تګ کې یې وویل: «دا ټول د سات د زنګ له لاسه.» بیا کوټې ته ننوت، په مېز پراته اسناد یې ولټول، سکرتره یې پسې ورننوته.

جان هماغسې په اسنادو کې لګیا و، سکرترې ته یې وویل: «د کوپر دوسیه چېرې ده؟»

لوئیز ورته وویل: «همدلته ده» بیا موسکۍ شوه او دوسیه یې جان ته وړاندې کړه، لوئیز دوسیه له مخکې چمتو کړې وه.

جان ترې مننه وکړه، غوښنه دوسیه یې ترې واخیسته ویې ویل: «که خفه کېږې نه لوئیز یوه پیاله چای خو راوړه.» او همدې خبرې سره یې سګرټ ولګاوه.

کوپر شرکت بوټان جوړول او ګلډستن شرکت سره یې تړون کړی و. تړون دا و چې کوپر شرکت نارینه بوټان تولید کړي وو، د دې بوټانو پوندې اوه سانتې لوړې، خو په تلي کې پټې وې او د ټیټو ونو خلکو ته ښه وو. ګلډستن شرکت باید دې بوټانو ته تبلیغات کړي وی.

ستونزه دا وه چې جان لا د سوداګریز اعلان متن نه و لیکلی او په دې متن باید نن بحث او خبرې اترې شوې وی. جان ډېر فکر کړی و خو څه ذهن ته نه وو ورغلي ګني همدا جان ددې شرکت د سوداګریزو اعلانونو تر ټولو نوښتګر او پنځګر لیکوال و.

د سګرټ لوګی یې په غوسه پوو کړ. څینو خلک ده ته په سخت وخت کې لاس ورکاوه او ده غوښتل نن ترې مرسته وغواړي، خو څوک ورياد نه شول. تا به ویل ګني تخیل او نوښت یې وچ شوی دی. تېره اونۍ یې یادښتونه اخیستې وو هغه یې له سترګو تېر کړل. یو یې هم ښه او کافي نه و. تندی یې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


خولې شو، وخت لږ و او په دې لږ وخت کې باید ده یو کار کړی وی او ځواب یې ورکړی وی.
لوئیز لا د چایو توده پیاله نه وه راوړې چې د دوی رئیس گلډستن له جیمز گیټ سره یو ځای په چټکو گامونو دفتر ته راننوتل. گلډستن لنډی سړی و، په سر گنجی و، خو انرژي پکې ډېره وه.
غوسه غونډې ښکارېده، خپل ساعت یې په گوته ټکاوه ویې پوښتل: «چېرې وې جانه؟ ساعت دې لیدلی؟ ځان خرابوې زویه، د درې لکه ډالرو کیسه ده، پرېښودی یې نه شو، دا قرارداد نه شو پرېښودی، ته ووایه چې څه دې وکړل؟»
ده لا ځواب نه و ورکړی چې رئیس په دوسیې ورپیټ شوی و او په دوسیې کې یې د ښځې او سړي یو انځور ته کتل، ویې ویل: «لیکنه کوم ده؟ ناستې ته دوه دقیقې پاتې دي، ناوخته کېږي.»
جان خپل یادښتونه په لاس کې نیولي وو، ویې ویل: «نه پوهېږم، زړه مې پرې اوبه نه څښي.»
گلډستن د جان یادښتونه ولیدل او چیغې یې کړې: «زه په دې څه وکړم!؟»
دې وخت جیمز گیټ رامخکې شو، گیټ لوړ دنگ ښایسته سړی و، سترگې یې شنې وې او په ونه له رئیس نه لږ لوړ و، دی چې رامخکې شو په دوسیې کې ایښې انځورگرۍ ته یې ولیدل، ده هم ورسره لیکنه ونه لیده، دوی دواړه وارخطا وو او رنگونه یې په دې خاطر الوتي وو چې نن یې باید پېرودونکي ته کار سپارلی وی.
جیمز ورته وویل: «جانه دا په تا څه شوي دي؟ ته خو پخوا داسې نه وې ...»
جان فکر کې شو: «دا څو اونۍ...» بېخي څو میاشتو ته ورته وې، یا یو کال لا تر دې هم ډېر.
دا څه موده سودایي و، که له دې ډېر فکر یې کړی وی وخت پرې تېرېده او د تخیل قوت یې له لاسه ورکاوه. همکارانو سره یې څه وخت مخکې پېښنه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

شوې وه. یوازې دا یې غوښتل چې د خپلې انرژۍ دریځه پرانیزي او د فلم کیسه ولیکي، خو د دې زړه یې نه کاوه، ځان یې له اروایي پلوه کمزوری باله.
گلډستېن چیغه کړه: «هله جانه! تکړه شه اوس څه چل وکړه چې له دې لانجې ووځو.»
گیټ وویل: «څه وکړو؟»
رئیس یې وویل: «ما ولې پوښتې؟ ته خپله نه پوهېږې؟»
گیټ د مفکورې سړی نه و، دا خوار دې ته وارخطا و چې که دې نیمگړې طرحې سره ناستې ته لاړ شو؛ نو کیسه به خرابه شي، ویې ویل:
«زه څه خبر یم، یوازې خفگان او دعا کولای شم.»
جان د دوی خبرې نه اورېدې، خپلې سودا کې و، د پخواني لیکوال ځوابونه ورته را ژوندي کېدل او بلاخیره یې خپله ورکه پیدا کړه. په خپل ښکلي لیک یې په ډېر دقت د خپل هنري اثري عنوان ولیکه: «یوازې سړی پوهېږې چې په ونه لنډ دی، ځکه ښځه چې تر څو پوهېږي اوبه به له ورخه تېرې وي او دواړه به پښې لوڅې وي.»
گلډستېن چې متن ولوست په کړس یې وخندل ویې ویل: «ښه ډېر ښه، ښکلی دی.» گیټ هم عبارت ولوست، ویې خندل خو د ده خندا لږه رسمي او مودبانه وه. گیټ تل د جان ورتیاوې ستایلې خو دې ته یې هم پام و چې دده دوه چنده معاش یې اخیسته او د ادارې هره بریا د گیټ له لاسه گڼل کېده.
گیټ لږ شکمن غوندې هم و ویې ویل: «خدای دې وکړي چې د پېرودونکي هم دا طرحه همدومره خوښه شي.»
جان څه ونه ویل خو په دې خوشاله و چې د سوداگریز اعلان لپاره لیکلې طرحه یې رئیس خوښه کړه. دومره خوشاله و لکه ړوند چې اسماء ومومي خو دا سودا هم ورسره وه چې په څه خبره مشر خفه کولای او خوشالولای شي.
جان خپله هم په خپله لیکنه ډېر ډاډه نه و او چندانې ښه ورته نه ښکارېده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297898/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


گلډستین هنري اثر واخیست ویې ویل: « راځئ چې ځو، خلک راته تالار کې په تمه دي.»
رئیس مخکې شو، گیټ ورپسې او جان تر ټولو وروسته له کوټې ووتل، دوی تالار ته مخه کړه او تالار کې تیار د کوپر شرکت درې تنه استازي په رسمي درېشۍ کې ناست وو، دوی خپلو کې خبرې کولې او چای ورته ایښی و.
روغبړ چې وشو، گیټ پورته شو، له یوې تختې یې پرده لیرې کړه او په پرده د جان راځرېدلې طرحه ښکاره شوه. دا نو په خبرو کې استاد و، داسې به غږېده چې د پېرودونکي پام به یې ځان ته ور اړوه، جان لګیا و په وېره وېره یې خپل چای څښه.
د گیټ خبرې چې ختمې شوې، گلډستین پوښتنه وکړه:« ښه نو څنګه و؟» د کوپر شرکت درې واړو استازو سره سرونه جوخت کړل او وښکېدل، وروسته جورج کوپر وویل: «په زړه پورې وه، خوښه مو شوه.»
گلډستین خوښ شو، په موسکو شونډو یې وویل: « ډېر ښه، گلډستین کورنۍ ته ښه راغلاست.» بیا یې د تړون دوه نقلونه د پېرودونکو مخې ته کېښودل.
گلډستین د خپل شرکت اړوند تړون نقل را واخیست، راغلي درې واړه مېلمانه پاڅېدل، په درناوي یې مخه ښه وکړه او له کوټې ووتل. دوی چې لاړل گلډستین گیټ ته مخ کړ، لاس یې ورکړ او په همدې وخت کې یې ورته وویل: «مبارک شه معاون صیب، دا مو بله بریا.»
گیټ وویل: «معاون؟»، پوښتنه یې داسې وکړه لکه په هېڅ شي چې نه وي خبر.
رئیس وویل: «هو معاون! ته له نن پس ددې شرکت د اجرائیوي رئیس معاون یې.»
گیټ وویل: «ډېره مننه صیبه، کور مو ودان.»
د جان پر ځای چې بل هر څوک وی خفه کېده، خو دی داسې کارونو سره عادت شوی و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


ګلډستن له تالاره په وتو کې جان ته مخ کړ او ورته یې وویل: «وی رښتیا، جانه ستا دې هم مبارک وي، ودې لیده، ما خو درته وویل چې کار لږ بدل کړه، بریالی شوې، مننه.»

جان په خفه غږ وویل: «مننه»

ګیټ لاره کې په تمه و، ګلډستن ورسره یو ځای کېده، خو بېرته جان ته راستون شو او ورته یې وویل: «رښتیا د دوشنبې په ورځ روسانو سره کتنه لرو، درنه هېر نه شي، لویه سودا ده، نږدې د لسګونو زرو ترون دی. زه نه پوهېږم روسان دا پیسې له کومه کوي؟ خو دومره پوهېږم چې اوس د پخوا غوندې کمونیستان نه دي.» بیا یې همدې خبرې ته په لوړ غږ وخندل، ویې ویل: «یو بیخي فوق العاده اثر باید وپنځوې، سمه ده؟ خدای دې وکړي چې د اونۍ د پای رخصتۍ ته څه پلان ونه لرې.»

جان وویل: پلان نه لرم.

دا د یوې ورځې کار نه و، جان لا واده نه و کړی او کورني مسئولیتونه یې هم دومره نه وو، رئیس یې پوهېده چې د اونۍ د پای رخصت کې جان شپه او ورځ کار کولای شي او ښه فوق العاده لیکنې ورته کولای شي، ده فکر کاوه چې د جان شوق ګني یوازې سوداګریزې خبرتیاوې لیکل دي، خو اصلاً دا څو میاشتې د جان ګوزاره په خپل اعتباري (کریډټ) کارت کېده او هېڅ پور یې نه و پرې کړی.

جان چې نن له شرکته وتلی یوه ورځپاڼه یې باید اخیستې وی او پکې یې لیدلي وی چې د ده ټکټ پچه اچونه کې ګټونکی شوی دی که نه؟ سهار به ترې دا خبره هېره وه، خو ګټه هم نه وه، دوه پخواني ټیکټونه یې غورځولي وو او پر ځای یې نوي دوه اخیستي وو.

جان شمېرو ته داسې ځیر و لکه په دې ځیرتیا چې ګني خپل بخت بدلولای شي. ماښام چې کور ته راستون شو د روسانو دوسیه یې لاس کې نیولې وه، طبیعت یې ډېر ښه نه و، ځکه دې ټولې رخصتۍ کې یې باید په دوسیې کار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


کړی وی.

دا څو میاشتې په رخصتیو کې کار بیخي ځوراوه. کارونه یې بیخي ډېر وو، په خپل ژوند د فکر کولو وخت یې نه لاره. دی لا ۳۲ کلن و، نه یې ښځه لرله او نه بچي، له ټولنیز ژوند یې هېڅ ګټه نه اخیسته خو د خپل شرکت پېرودونکو خوار سخت تنګ کړی و. ده فکر کاوه چې ژوند یې طبیعي نه دی او همدې فکر ځوراوه هم. ده یو شي ته ډېره اړتیا لرله او هغه هر اړخیز بدلون و.

جان خوار درې شپې په لمدو سترګو له خوبه راویښ شوی و، د دې ژړا لامل په خوب کې د یوې بې وزرې مرغۍ لیدل وو او هغه بې وزره مرغۍ په اصل کې همدا خپله و.

له یوې خوا یې یوازیتوب زغملی نه شو او له بلې خوا یې چاته حال هم نه شو ویلی، بس هغه د پښتو ټپه وه چې (نه یې دارو شته نه یې حال ویلای شمه). جان څو مینې او یارانې کړې وې، ټولو یې زړه مات کړی و، خو بیا یې هم مینه منله، د ده غوښتنې لکه چې لوړې وې په همدې خاطر یې څو ښه ښه فرصتونه له ګوتو ووتل. داسې ښځې ډېرې وې چې ده سره به یې ظاهراً ځان لیواله ښوده، خو ده داسې ښځو ته ډېر وخت نه ورکاوه.

جالبه دا ده، ده به داسې ښځې په ځان راګرمولې چې هېڅ پام به یې ورته نه کاوه او بیا به خپله په داسې ښځې ورګرم شو چې هغې به دې ته پام نه کاوه. بس داسې یو حالت به راغی لکه په دنیا کې چې د جان هېڅ مرستندوی انسان نه وي.

خو زلمی جان سم انسان پیدا کولو ته په تمه و او دغه تمه یې له نیمګړې او موقتې اړیکې ښه بلله، ځکه لنډې اړیکې یوازې انسان دردوي او هسې وخت ورسره ضایع کېږي. دی نهیلی هم و، ځکه فکر یې کاوه چې د ژوند د ملګرې موندو وخت یې له لاسه وتی او له دې وروسته پرې عمر هسې هم تېر دی.

Downloaded By: Afghan Salar Library



بس څان سره يې ویلي وو چې له کلونو راهیسې یوازې یم او له دې وروسته به همداسې یوازې ژوند کوم، خو اصلي مسله د پیسو د ستونزې حل و، دا به یې څنګه حل کولای؟ چا ورسره مرسته کولای شوه؟ له پلار خو یې لاس مینځلی و؛ نو چا مرسته کولای شوه؟

دې وخت کې وریاد شو چې تره (کاکا) يې شتمن دی، خو ده ورسره چندانې نه پالل. کال کې به یې ایله یو وارې په اختر کې ولید. جان وویل چې د تره لیدو ته به ورځي، هغه ورته لاربنوونه یا ښایي مالي مرسته کولای شوه. ده ویل چې د تره په مرسته به اوسنی دنده پرېږدم او خپله یوه شخصي اداره به رامنځته کړم، دا یې له کلونو ارمان و. بس سمدستي یې ټیلیفون را واخیست، زنګ یې وواهه او د لیدو وخت یې ورسره وټاکه، چې سبا ماسپښین به سره وګورو. خبرې چې ختمې شوې جان نیغ د روسانو دوسیې ته لاړ.

په سبا یې ورسره تره ښه برخورد وکړ، خو مالي مرسته یې ورسره ونه کړه، تر دې چې پور یې هم ور نه کړ. په ټوکو کې یې ورته وویل: زه مالداره خلکو ته پور ورکوم. دا یې خپل وراره ته د پور نه ورکولو یوازینی دلیل و. بیا یې وراره ته وویل چې نیویارک کې زما یو پخوانی اشنا اوسېږي، هغه ښه شتمن سړی دی، هغه سره وګوره، څه لار به دروښیي. دا یې هم پسې زیاته کړه چې نوموړي ماسره هم د کار په پیل کې مرسته کړې وه، ان په لیک کې یې سپارښتنه ولیکله او هغه لیک یې ورکړ چې دده میلیونر ملګري ته به یې ښیي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


دویم څپرکی

# زلمي لومړنی اغېزناک ګام واخیست...

د سهار لس بجې به وې چې جان د میلیونر ماڼۍ ته ودرېده. ساتونکې ترې د وخت اخیستو پوښتنه وکړه، خو ده ورته د خپل تره سپارښتنه وښوده. ساتونکي یوه تڼۍ کېکاږله او د ماڼۍ دروازه بېرته شوه، جان په خپل موستانګ موټر کې ورو په دروازه ور دننه شو.

موټر یې ودراوه، له زړو تیږو په جوړې پاتخې (زینې) پورته شو، زنګ یې وواهه، شېبه وروسته یو د پوخ عمر سړی راغی، رسمي یونیفورم یې اغوستی و او جان ورته د خپل راتګ علت په ګوته کړ. دا سړی هنري نومېده.

هنري د خدمتګارو مشر و، ورته یې وویل چې صیب یې کور کې نشته او دی دې ورته بهر باغچې کې په تمه شي، جان ترې مننه وکړه او خدمتګار پسې باغچې پلو روان شو.

باغ کې یو سړی د ګلاب یوه بوټي ته وربیټ شوی و. باغ ډېر لوی او ژېړه کیاره ترې تاوه وه. جان لږ ورمخکې شو، سړی بېرته نېغ ودرېده او ګل یې پرېښود. بیا موسکی شو او شنې سترګې یې را ورې کړې، په موزون غږ یې وویل:

- **دلته څه کې؟**
- **د میلیونر لیدو ته راغلی یم.**
- **څه کار دې ورسره؟**
- **ځینې مشورې مې ترې اخیستې.**
- **ښه ښه**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



زوړ سړي بیا ګلاتو کې لاس وهل پیل کړ، خو شیبه وروسته یې بیا کار پرېښود او جان یې وپوښت:

- یو لس ډالره لرې چې ماته یې پور راکړې؟
- لس ډالره ... ښه

جان جیب ته لاس کړ او ټولې ماتې پیسې یې ترې را وویستې، ټول ورسره پنځلس ډالر وو، لا معاش پسې بانک ته نه و تللی او د تل په څېر بې خرڅه و.

- همدا پنځلس ډالره لرم.
- مننه، همدا بس دي، لا ډېرې هم دي.

سړي ترې پیسې واخیستې، خپل جیب ته یې واچولې، ورته یې وویل:

- لس ډالره چندانې پیسې نه دي، خو ښوک څه خبر دي، که میلیونر شې.

جان څه ونه ویل، ځکه د دومره لویې ماڼۍ مېلمه و، هسې یې خبره نه ورانوله، خو په دې پوهېده چې لیدنه یې ښه پیل نه شوه، ځکه په شین سهار یې لس ډالره زیان ولید.

دې وخت کې د خدمتګارو مشر بیا راغی او په ډېر ادب یې وویل:

- صیبه، یو وړوکی مشکل دی، یو اشپز نن کار پرېږدي او کلک دی چې ماته به خپلې پیسې نغدې راکوئ، موږ سره نورې پیسې شته خو لس ډالره پکې کم دي.

باغوان زر جیب ته لاس کړ او د پنځوس او سلو ډالرو یو نوی بنډل یې را

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


وویست، جان حیران ولاړ و. سړی موسکی شو او له جان نه اخیستي لس ډالر یې خدمتګار ته ورکړل. خدمتګار پیسې واخیستې او په ادب روان شو.

جان ته غوسه ورغله، ویې ویل:

- **تاسره خو ډېرې پیسې دي، مانه دې ولې پیسې واخیستې؟**
- **دلیل لرم.**

بیا یې ورته نور لوټونه وښودل، ورته یې وویل:

- **ماسره لسګون نه و او غتې پیسې ما نه ورکولې.**

جان چې دا خبره واورېده، ځان سره یې وویل، انسان نه پوهېږي چې کله چا سره مخ کېږي، سړي ته یې وویل:

- **ته هماغه مشهور میلیونر یې کنه؟**
- **هو خلک خو همداسې وایي.**
- **ښه زما نوم جان دی، جان بلیک.**

دا یې وویل او میلیونر ته یې لاس ور اوږد کړ، میلیونر د پیسو بنډل جېب کې کېښود او د جان لاس یې زور کړ:

- **ستړی مه شې، هرکله راشې.**

سړي داسې خبرې وکړې، لکه دده لیدو ته چې تیار په تمه و.

جان ځان سره وویل چې نورې پوښتنې به نه کوي، په دې وخت کې میلیونر سړي وویل:

- **خیر خو و؟ څنګه دې راپېښه کړې؟**
- **تره مې وویل چې ته مې د ارمانونو پوره کولو کې**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


راسره مرسته کولای شې، زه غواړم چې بریالی او شتمن شم.

- ښه نو ... تر اوسه دې ولې ارمانونه نه دي پوره شوي؟ کله دې ځان نه دا پوښتنه کړې؟
- نه ولا
- دا به اولینی کار وي چې ته به یې کوې، ښه زما په مخکې په لوړ غږ ځان نه همدا پوښتنه وکړه.
- څوک، زه؟

د جان ژبه بنده بنده شوه، میلیونر سړي ورته وویل:

- ښه نو په لوړ غږ فکر کولو سره لکه چې عادت نه یې، یا به بیخي فکر نه کوې، ښه چای راسره څښئ؟ دا به درسره په فکر کولو کې مرسته وکړي.

جان په ډاډه زړه د میلیونر بلنه ومنله، وروسته بیا د ډوډۍ خوړلو تالار کې دوه تنه یوه لوی میز ته ناست وو، میز به نږدې دېرشو کسانو ته برابر شوی و. جان تراوسه د ډوډۍ دومره لوی تالار او میز نه و لیدلی.
جان چې څنګه چایو ته کېناست میلیونر ورته وویل:

- خپل کار سره دې مینه شته؟
- که رښتیا درته ووایم نه! ځکه زه اوس یوې تبلیغاتي ادارې سره کار کوم، خو زړه مې دی چې خپل کاروبار پیل کړم.
- نو څه وایې چې خپل کار کې به کامیاب شې؟
- هو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


- نو ستونزه څه ده؟
- ستونزه دا ده چې د خپل کار لپاره پیسې نه لرم.
- ما هم چې کار پیلاوه دومره پیسې مې نه لرلې، خو کار وشو.
- خو زه نه پوهېږم چې پیسې به څنګه ...

میلیونر سړي په مهربانۍ وویل:

- ستا اصلي ستونزه وېره ده، ته په ځان پوره باور نه لرې، که رښتیا دې باور لرلی بریالی کېدې، ته پوهېږې، ستا په ذهن کې چې څه راځي که باور پرې ولرې ورته رسیدی شې.

میلیونر جېب ته لاس کړ، یوه سیکه یې ترې را وویسته، ویې ویل:

- ښه که د بریا راز درته ووایم څومره پیسې به راکړې؟
- زه خو یو غیران هم نه لرم.
- که وی څومره دې راکولې؟
- سل ډالره

پاخه عمره سړي سیکه هوا ته پورته کړه، په خندا یې وویل:

- سل ډالره ... دا خو هېڅ شی هم نه دی، لږ ښه شه.
- زر ډالره

سړي بیا په لوړ غږ وخندل:

- که پوهېدی چې داسې کوم راز شته، پیسې به دې لوړې ویلې وی. بیا فکر وکړه، که پیسې درسره وی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


**څومره دې راکولې؟**

**- نه پوهېږم، خو فرض کړه پنځه ویشت زره ډالر.**

دوو کسانو څو ساعته سره خبرې وکړې، کله به باغ کې گرځېدل، کله به کېناستل، کله به یې چای وڅښه. میلیونر سړي د خپلې شتمنۍ راز جان ته ونه ووید. جان حیران شو چې دا فکر ده خپله ولې نه کاوه، کیدای شي ده به داسې فکر نه کاوه چې کوم راز گني شته.

خبرې چې ختمېدې، میلیونر سړي جان لا ډېر ښه پېژندلی و، دا زلمی پرې ښه لگېده، روڼ اندی ځوان و، خو بخت یې لا بند و، میلیونر سړي جېب ته لاس کړ، د پیسو یو بنډل لاس ته ورغی، ویې ویل:

**- واخله**

جان لومړی څه ونه ویل، خو بیا یې ویل:

**- زه یې واخلم؟**

**- هو دا پنځه ویشت زره ډالر تاته درکوم.**

**- دا ټولې پیسې ماته راکوې؟**

**- که رښتیا درته ووایم تاته یې نه درکوم، پور یې درکوم، لس پنځلس کاله وروسته چې شتمن شوې دا پیسې بیا بل چاته ورکړه چې هغه کار پیل کړي.**

سړی یوه شېبه غلی و، بیا یې وویل:

**- خلک به وایي چې زما بریا گني سوداگرۍ کې ده، خو زه ځان یو عادي بڼوال (باغوان) گڼم، که ډېرې پیسې مې گټلې وي لامل یې دا دی چې باور لرم، یوه ورځ به زما په دې خبره پوه شي.**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


سړی جان ته نږدې شو، د شهادت گوته یې دده په تندي کېښوده، ورته یې وویل:

- ځان وپېژنه، حقیقت به دې خپلواک کړي.

دا خبره یې وکړه، جان یې یوازې پرېښود، دا عجیبه شېبه وه، له یوې خوا یې دومره پیسې تر لاسه کړې وې او له بلې خوا ورسره یو میلیونر ښې خبرې کړې وې.

دې وخت کې خدمتگار (هنري) تالار ته راننوت، جان ته یې وویل چې یوې خونې ته باید لاړ شي او ماښی نه له تلو مخکې دې څه وخوري. جان بلنه ومنله او پوه شو چې د کتنې وخت یې ختم شوی دی، هنري د کوټې څنگ ته په تمه ولاړ و او جان ته یې یو پاکټ ورکړ.

- دا مې صیب راکړی دی.

مازیگر شوی و، جان چې کوټه کې یوازې شو پاکټ یې پرانیست، دننه پکې شپېته پاڼې معنوي وصیت پروت و، جان پاکټ ځان سره واخیست او د میلیونر مخه ښې ته ورغی.

همداسې د ډوډۍ تالار او بیا د ناستې خونې ته ورغی، خو سړی نه و، ځان سره یې وویل چې باغچې ته به وتی وي، خبره یې رښتیا وه، خو دا چې باغچې ته لاړ عجیبه حالت یې ولید، گوري چې سړی پروت دی، دواړه لاسونه یې په سینه ایښې یو سور گل یې گوتو کې نیولی او په همدې حالت کې یې ساه ورکړې ده.

خو دا چې سړی څنگه د خپل عمر په پای پوه شوی و، دا نو داسې راز دی چې بیا ترې چا پلو وانخیست.

جان وویل چې راځه د سړي له گوتو گل د لاس د ننبې په توگه واخله، خو بیا یې وویل چې دا د میلیونر وروستی ملگری دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


دریېیم څپرکی

# زلمي بیا خپلې وزرې وموندلې...

د وروپسې اونی دوشنبه وه، د کنفرانسونو په تالار کې د روسي شرکت رئیس داسې ښودل چې د جمیز ګیټ سوداګریز اعلان یې خوښ نه شو، همداسې له ځایه پاڅېده او همکاران یې هم ورپسې شول.

د روسي شرکت رئیس وویل:

- **که بل شرکت ته لاړ شو ښه به وي، ستاسو اعلان هغسې نه و چې مونږ یې فکر کاوه.**

ګلډستن خفه ښکارېده، هیڅ یې ونه ویل. جان ورسره نه و او دوی رئیس او معاون چنداني بریا ترلاسه نه کړی شوه. روسان لاړل او ګلډستن له غوسې سور شین شو، ګیټ ته یې وکتل:

- **لیوني یې، له دې ښې شی ذهن ته نه درته؟ د بازارموندنې یا ستراتیژۍ خبره به دې کړې وی.... مثلاً ته بازار موندنه کې مافوق لسانس یې، که نه ده؟**
- **هغه خو ده، خو زه څه خبر وم چې د بلیک په زړه کې څه وو؟؟**
- **ګوره! څوک چې بازارموندنه کې مافوق لسانس وي، له هرې ستونزې باید ځان وباسي، ان که اضطراری حالت وي. ستا د ترفیع په اړه باید درته ووایم چې دویم اعلان یې ځنډوم. زما معاون چې د ستونزې پر وخت زما په کار نه شي نو څه یې کوم.**

Downloaded By: Afghan Salar Library



- خو تاسو داسې نه شئ کولای ښاغلی ګلدستن.
- ولې يې نه شم کولای؟ همدا اوس مې وکړ او دې بليک صيب ته به هم زه وښييم چې دلته د چا خبره منل کېږي، ته لږ وار وکه.

جان څو دقيقې مخکې راغلی و، ټول ورته حيران وو، ځکه يو خو ناوخته راغلی و او بل يې ټولو همکارانو ته يو يو سور ګلاب ورکاوه، په ځان دومره ډاډه وو لکه ددې شرکت يو کلن کارمند چې نه وي.
سکرترې يې ترې وروستی ګل په حيرانۍ واخيست، ويې ويل:
- صيبه چېرې وئ؟ زنګ خو به مو راوهلی وی، ګلډستن به دې ووژني.

جان يوازې يو (اه) وکړ او د خپلو شخصي وسايلو په راټولولو بوخت شو، ټول شيان يې کاټن کې واچول چې دې وخت کې ګلډستن په غوسه راننوت:
- څه اسمان درباندې رالوېدلی و جانه؟ خبر يې چې څه دې کړي؟ ستا د لاسه مو د روسي شرکت قرارداد وبايله.
- ولې؟ ګيټ خو راغلی و کنه؟
- و خو هغه خوشې کم عقل دی ... ته اوس دا ووايه چې دا دوه ورځې ولې ناوخته راځې؟ ځان راباندې سپکوې؟

جان موسکی شو ويې ويل:
- د پروستات ناروغي خو به نه لرې؟
- ټول پوهېدل چې ګلډستن سخت غوسه دی او دې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


خبر پرې نور هم اور بل کړ، خلکو ورپسې ډېرې خبرې او ټوکې کړې وې.

- دې موضوع سره يې زما د پروستات څه؟ دا ټولې لانجې تا سازې کړې دي، خو دا درته وایم چې زه دې ګوره له دې دفتره شړلی شم.
- نه مې شې شړلی.
- څنګه دې نشم شړلی؟؟؟؟؟
- ځکه چې ستا له شړلو مخکې دا دی زه خپله استعفا کوم.
- څه؟ استعفا کوې؟
- هو! هغه هم پوره یوولس نیمې بجې.

بیل ګلډستین استعفا سره ډېر نه و عادت، ده به خلک شړل، دا خبره ورته هسې ټوکه ښکاره شوه. ګلډستین شرکت ته لا چا استعفا کولای شوه؟ ده ته دا د نړۍ تر ټولو ښه اداره ښکارېده.

جان رئیس ته شا کړه او وروستي وسایل یې هم خپل کارټن ته راټول کړل. ګلډستین یو وار وویل چې راشه پرې ورحمله کړه، خو بس ځان یې راقابو کړ، ویې ویل:

- ګوره جانه! ښه فکر وکړه، تادي کوې، زه د روسانو له موضوع تېرېږم، خبرې به سره وکړو، زه د خبرو سړی یم، راتلونکې میاشت به دې معاش هم پنځه سلنه لوړ شي.

جان لګیا و خپل وسایل یې راټولول، بیا یې له مېزه د آس یوه مجسمه را

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



واخیسته، گلډستین ته یې وویل:

- **که دا دې خوښ چې در یې کړم، زما نه دی پکار.**

گلډستین یې له لاسه مجسمه واخیسته او په مخامخ دیوال یې وویشته، ده ویل چې څوک یې گنی هسې ځوروي، هېڅوک د ده د ځورولو حق نه لري، یو مامور پکې لا څوک و.

گلډستین پوښتنه وکړه:

- **بل څوک لکه چې ډېرې درکوي، گني نوره خو څه خبره نشته.**
- **نه د معاش خبره نه ده.**
- **گوره ته زموږ ښه همکار یې، ښه وړتیا لرې، په همدې خاطر زه د شرکت قانون ماتوم او معاش دې زر ډالره زیاتوم.**
- **زر ډالر؟**
- **هو! د میاشتې زر ډالر، یعنې د کال دولس زره.**
- **د کال دولس زره ډالر، ما مخکې ویل چې معاش مې گني لږ دی خو اوس راته رئیس د کال دولس زره ډالر راکوي.**

گلډستین ورته وویل: **هو! خو ته وایه څه پکې وایې؟**

جان وویل: **دولس زره ډالر.**

رئیس یې ورزیاته کړه: **هو او د شرکت له خوا یو موټر هم درکول کېږي.**

د جان بیخي باور نه کېده، له دې ډېر امتیاز یې هسې هم نه ورکاوه، یوه شبیه غلی شو، دولس زر ډالر ډېر شي و او بیا یو موټر سرباري. نو نه به یې منلی؟ پنځه ویشت زره ډالر ورسره وو، په دې یې تول پور خلاصولای شو، خو که یې منلي وی نو میلیونر سره خیانت نه و؟ خپل ارمان سره یې خیانت نه و؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بلاخره دې پایلې ته ورسېده چې ستونزه په معاش او موټر نه حل کېږي، رئیس ته یې وویل:

- **ډېره مننه! خو ما درته وویل چې خبره د معاش نه ده.**
- **نو څه خبره ده؟ خپل کار پیلوې؟ ... خو ګوره ته دومره امکانات نه لرې چې خپل کار پیل کړې، ځان به غرق کړې، دومره تکړه نه یې، خلک به درپورې خاندي.**

جان د خپلو وسایلو کارټن ته وکتل او پوه شو چې دا کارټن یې هم نه دی په کار، ځان سره یې وویل چې هر څه باید له سره پیل کړي او په همدې فکر له شرکته ووت.

په لاره چې روان و ځان یې خپلواک احساساوه، له څه مودې په دې فکر کې وه چې د ګلدستې ماموریت پرېږدي او نن یې دا دی پرېښود. داسې خوشاله و چې لکه د ښوونځي شاګرد چې کلنیو رخصتیو ته خوشاله وي، ژوند ورته بیخي نوی نوی ښکارېده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


څلورم څپرکی

# زلمي ماته تجربه کړه...

«ښښه غواړم ښاغلی بلیک، موږ له مخکې یوه تبلیغاتي شرکت سره تړون لرو.»

جان نن سبا ډېره خوشاله و، نن یې په لسم ځل غوښتنه ونه منل شوه، که د کار لومړی اونی وی پروا یې نه کوله، خو د ده په شخصي کار دا دی شپږ میاشتې اوښتې وې. په جان د هغه زوړ میلیونر خبرو ډېر اغېز کړی و، پر ځان یې باور ډېر و او راتلونکي ته یې هیلې لرلې، په دې باور و چې بریا به یې په برخه شي.

تر اوسه یې یو پنځه زره ډالریز او څو نور واړه قراردادونه اخیستي وو، خو دې دومره اقتصادي ارزښت نه لاره. څومره لوی او واړه شرکتونه چې ورته راغلي وو ټولو یوه خبره کړې وه چې: موږ ستاسو د شرکت په اړه نه پوهېږو. یا به یې ورته ویل چې: تاسو تجربه نه لرئ. ځینو به ترې د نورو پېرودونکو پوښتنه کوله یا به یې ورته ویل چې موږ لویو شرکتونو ته کار ورکوو ... دا جمله یې هم مشهوره وه چې ویل به یې: تاسو بیا د زنګ زحمت مه کوئ، که اړتیا شوه موږ به درسره اړیکه ونیسو.

خو جان چې کار پیل کړ، فکر یې کاوه چې د اړتیا وړ هر څه ورسره شته، ځکه لویو شرکتونو سره یې کار کړی و او تجربه یې وه. پخوانیو پېرودونکو یې هم پېژانده او ده فکر کاوه چې د کار جوړېدو لپاره دا هم بس دي.

جان خپلو پنځونو ته د وخت پیدا کولو لپاره ځان ته یوه معاونه وګومارله، نوم یې راشل وینتر وه او په ډېرو خلکو کې دا یوازې په دې خاطر ټاکل شوې وه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


چې په شونډو به یې موسکا خپره وه. له اوله معلومه وه چې راشل جان ته درناوی لري او په همدې خاطر یې پرې اغېز هم کړی و. خلک ډېر راغلي وو، خو دا وړوکی دفتر به یې چې ولید، زړه به یې ورته نه ښه کاوه. جان لومړیو کې ځان سره ویلي وو چې خپلو کارکوونکو سره به عاطفي اړیکه نه پالي او کار به احساساتو سره نه ګډوي، خو په دې نجلۍ یې زړه بایللی و. د نجلۍ اوږدې زلفې، شنې سترګې، لوړه دنګه ونه، هوښیارتیا او ځیرکتیا ددې لامل شو چې جان ورخوږ شي. که څه هم ریښتل ځان سره ویلي وو چې خپل رئیس سره به احساساتي اړیکې نه ساتي، خو بیا یې هم په سترګو کې د مینې څرکونه ښکارېدل. دا په دې اداره کې معاونه او معشوقه وه.

له بده مرغه کارونه ښه نه وو، جان نیمه پانګه لګولې وه، اوس یې فکر کاوه چې دومره زر یې باید دنده نه وی پرېښې. د پلار خبره هم وریادېده، هغه چې مړ کېده ده ته یې څو ورځې مخکې ویلي وو چې ته ډېرو پیسو ګټلو ته نه یې جوړ. د جان لویه تېروتنه به ښایي دا وه چې د پلار له مرګ وروسته د هغه کار ته ونه درېده او د دې پر ځای یې تبلیغاتي اداره راسازه کړه.

دی په همدې فکرونو کې ډوب و چې راشل کوټې ته راننوته، ذهن یې بوخت غوندې ښکارېده، په جدي لهجه یې وویل:

- **زه ځمه.**

جان خپل ساعت ته وکتل ویې ویل: چېرې ځې؟ لا خو څلور بجې هم نه دي.

- **هو! خو دا ځای بیخي غلی دی، زه وایم چې یو دوه درې ورځې سره جلا شو، دواړه دې بېلتانه ته اړتیا لرو، زه داسې ګنم لکه په تا چې بار یمه... زه پوهېږمه چې کارونه ښه نه دي او ستا خفګان موږ خفه کوي. موږ یو ځای کار کوو، خو زه وایم چې یو څو ورځې بوستن ته**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



**خپلې ملګرې کره لاړه شمه...................... بېرته چې راغلمه تا به خبر کړم.**

جان خفه و، خو د راشل لپاره یې څه ونه ویل، ده ځان او راشل تر منځ یې څه شخړه احساسوله، د هغې ناڅاپي خبرو جان خفه کړی و، خو دا ورته ښه ښکاره شوه چې یو څو ورځې سره جلا شي، دې وخت کې جان د خپلې ادارې په پلانونو هم فکر کولای شو، د جان ورپام شو چې د راشل رنګ الوتی او لاس یې په خپل تندي ایښی. جان ترې پوښتنه وکړه:

- **ولې؟ خیر خو به وي؟**
- **نه، هسې سر راباندې وګرځېده.**

جان راشل ته د اوبو ډک ګیلاس ورکړ، هغې اوبه وڅښلې او همداسې غلې له دفتره ووته.

جان ووېرېده، لکه راشل یې چې تل لپاره پرېږدي، اړیکه لکه چې تر همدې ځایه وه؟ ځان سره یې وویل چې راشل پسې لاړ شي او ورته ووايي چې لږ تر لږه اړیکه خو مه ختموه ... خو تر څو چې ور واته هغه تللې و او جان بېرته په سترو ګامونو خپلې کوټې راستون شو، څوکۍ کې کېناست او په همدې موضوع یې فکر پیل کړ.

په خپله ناکامۍ یې فکر وکړ، د کار پیل کې هر څه اسانه ښکارېدل، څو میاشتې مخکې یې چې سپین ږیری سړی ولید فکر یې کاوه چې تووله نړۍ ګنې دده او په منډه ځان تر بریا رسولای شي. جان فکر کاوه چې ښه ورټیا ګنې لري او په لنډه موده کې تر لوړ موقفه رسیدی شي، خو ولې ناکام شو؟ لکه چې د میلیونر بوډا په خبرو سم نه و پوه شوی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پینځم څپرکی

# زلمی له یوه په زړه پورې سوالګر سره ګوري...

جان له خوبه ناوخته راویښ شو، بیګا یې ګډوډ خوبونه لیدلي وو، خوب یې نارامه و. دفتر ته لاړ چې لږ کار وکړي، خو له لاسه یې ونه شول. راشل هم نه وه او ورځ هم عادي نه وه، رخصت و، دې وخت کې نو کار نه کېده.
دفتر کې یې زړه تنګ شو، بهر راووت چې لږ پیاده وګرځي، نیم ساعت مزل یې وکړ، هوا ښه وه، ټایم میدان ته چې ورسېده په زړو جامو کې ورته سپین ږیری سړی ودرېده، توره چلمچي خولۍ یې په سر وه، ده ته رانږدې شو ویې ویل:

- **یو لس ډالره کومک خو وکه.**
- **لس څه چې یو هم راسره نشته.**

سوالګر خولۍ جیګه کړه، جان ته یې د ګلاب ګل ورکړ او ترې روان شو، په تلو تلو کې یې ورته وویل:

- **دا ګل مې درته د بخت لپاره درکړ، بېرې دې روانه شه.**

سړي داسې خبرې وکړې لکه جان چې له کلونو راهیسې پېژني.
جان ګل ته ولیدل، ځان سره یې وویل چې دا ګل به یې کیدای شي د سوالګر په وینا بنده بېړی روانه کړي، د ګل ښایست یې سترګې ونیوې، دا ورته خپله بریا ښکاره شوه. دې وخت کې د زاړه میلیونر خبرې ور په زړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



شوې: (د ګلاب زړه ته خير شه ... د ګلاب زړه ته خير شه.) ده په سوالګر پسې کتل او د زاړه میلیونر خبرې وریادېدې، څو میاشتې مخکې ورته یوه نابلده سړي ۲۵۰۰۰ ډالر ورکړي وو او اوس دا دومره سپېره شوی چې یوه سوالګر ته یې څو سنته نه شوو ورکولای؟

خو د سوالګر لیدو او د میلیونر لیدو جان حیران کړی و، سترګې یې بېخي هغه سړي ته ورته وې، ښایسته رڼې او روښانه سترګې وې.

داسې ښکارېده لکه دې سترګو چې کوم مسئولیت ترسره کاوه، جان په دې فکر و چې دا سترګې یې پخوا چېرته لیدلې وې.

جان ټکان وخوړ، یو خو د سوالګر سترګې میلیونر ته ورته وې او بل یې د هماغه په څېر له ده لس ډالر وغوښتل ... که هر څه وو خو دا کار جان ته تصادف نه ښکارېده.

خو دا ممکنه نه وه، ځکه هغه سړی ده خپله لیدلی و چې باغچه کې مړ پروت و او د ګلو لښته یې لاسونو کې نیولې وه، هغه سړی نو بیا څنګه را ژوندی کیدی شو؟

بلاخره یې ځان سره یې وویل که هغه میلیونر ژوندی هم وي داسې سوالګرو غوندې خو به نه ګرځي، سوال خو به نه کوي، خو دې وخت کې یې له خپل درونه یو غږ واورېده چې ښايي دا کار امکان ولري.

جان زر په سوالګر پسې منډې کړې، خو یوې زړې ښځې سره ټکر شو، هغې سودا اخیستې وه او ټوله سودا یې په لاره وشیندله.

جان په منډه و خو بیا یې هم ولیدل چې زړې ښځې ته کوم زیان نه وي اوښتی، ټوله سودا یې ورته راټوله کړه، بیا یې چې څنګه مخکې ولیدل، سوالګر ترې فنا شوی و.

منډې یې کړې، لا یې څو قدمه نه وو اخیستې چې سړی یې تر سترګو شو، سوالګر براډ وی واټ ته ورتاو شو، ده ورپسې پښه ور واخیسته، څنګه چې په ګوډېر ور وتاو شو ګوري چې بوډا سړی د یوه دوکان مخې ته ولاړ او په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



شیشه کې ایښې کیک ته خیر دی.

جان خوشاله شو، ورغی، په اوږه یې لاس ورکېښود، سوالګر مخ را واړاوه، خو دا هغه کس نه و چې لس ډالر یې غوښتل، د جان دومره تادي وه چې ددې سړي تور سر ته یې هم پام نه شو، د هغه خو خولۍ په سر وه.

بېرته نهیلی شو، ښښنه یې تری وغوښته، سوالګر ته یې لس ډالر ورکړل او خوشاله یې کړ. سوالګر ګردچاپیره ولیدل، څوک نه وو، ده نه یې مننه وکړه او زر په دوکان ورننوت.

جان په منډه هماغه میدان ته راستون شو، لا هم د هغه کس موندلو ته هیله من و، ټول ځایونه یې ولټول، خو ګټه یې ونه کړه، زړه کې یې شک و چې دا ګني هماغه زوړ میلیونر بېرته را ژوندی شوی دی، دا خبره حقیقت هم نه ښکارېده، جان لږ خفه و او په دې وخت کې یوه بې معنا او بې مفهومه هیله هم انسان سره مرسته کولای شي.

څو شېبې میدان کې وګرځېد، بیا یې د ښار بلې خنډې ته یوه لاره ونیوه، تږی شو، ویل یې چې چېرته به څه وخوري وڅښي. دې وخت کې یوه قهوه خانه ته څېرمه یې بوډا سوالګر ولید، اول یې ویل هسې خیال ګنيویني، خو نه خیال نه و، هغه یوه مېز ته ناست و او د مالټې جوس ورته په مېز ایښی و، هماغه جامې یې اغوستې وې، یوه زړه کورتۍ، غټه توره خولۍ او یوه سکه چې پچه به یې پرې اچوله، هماغه زوړ میلیونر و چې ده ورسره ډوډۍ خوړلې وه. سوالګر سکه هوا ته واچوله، دومره لوړه شوه چې دده له لاسه خطا شوه او ځمکې ته ولوېده، همداسې پسې جان ته ورغړېده او جان له ځمکې راپورته کړه.

بېرته چې نیغ شو، د بوډا سړي غوسه سترګې یې ولیدې او بیا احساساتي شو. شک یې رښتیا و، دا سوالګر هماغه میلیونر و، دا سترګې هماغه سترګې وې. هغه چې پوه شو جان یې پېژني موسکی شو، په دې موسکا کې نړۍ پرته وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


جان وویل حیران به شي خو هغه عادي و، لکه دا لیدنه یې چې له مخکې پلان کړې وي.
جان لا هغسې حیران و، سیکه یې لاس کې وه، زوړ میلیونر ته ورنږدې شو او ډېره د خندا پوښتنه یې ترې وکړه:

- **تر اوسه څنګه ژوندی یې؟**
- **څکه چې ژوندی یم.**

د سري په شونډو موسکا خپره شوه، جان ورته وویل:

- **خو زه پوه نه شوم، دا خو امکان نه لري، ما خپله ولیدې چې ته په خپل باغ کې غځېدلی پروت وې.**
- **شکسپیر ویلي دنیا دومره سخته ده چې څوک یې د فلسفې په کتابونو نه شي پېژندی، زه په زوړ خوب ویده وم، له خپل اصلي ځان سره په اړیکه کې وم ............... خو ستا نیکتایي ښکلې ده.**

جان دې ناڅاپي صفت ته حیران شو، په نیکتایي یې ګوتې راښکلې، دا ورته ډېره ګرانه وه او ان د پلار د وخت یې وه، په شرم یې وویل:

- **مننه**

جان نور سوالګر نه ده بیا را ژوندي کېدو پوښتنه ونه کړه.
چوپتیا خپره وه، جان په خپلې نیکتایي ګوتې وهلې او خو میاشتې مخکینی ستونزې وریاد شوې، ده ماتې تجربه کړې وې او خو څله یې د زوړ میلیونر د سپارښتنو ارمان کړی و. داسې یې ګڼل لکه د څوربدنې یوه څپه چې پکې راپورته شوې وي، سیکه یې په مېز واچوله ویې ویل:
- **ستاسو په خاطر مې خپل کار پرېښود، خو اوس نور**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



**دیوالیه کېږم.**

زوړ سړي سیکې ته وکتل، لکه دده په خبرو چې خفه شوی وي، بیا موسکی شو.

- **که مې درته د کب در کړی وی او د کب نیولو طریقه مې نه وی در ښودلی بیا زه ملامت ... خو ما خو تاته طریقه هم در وښوده او د پنځه ویشت زرو ډالرو یو غوښن کب مې هم درکړ، دا خو به دې په یاد وي.**

همدې وخت کې یو شین لیموزین موټر راغی، د دوی په خوا کې ودرېده، موټروان ترې راښکته شو، جان ګوري چې زوړ سوالګر موټران وپېژني، خو دا موټروان ادګار نومېده او د بوډا شخصي موټروان و.

Downloaded By: Afghan Salar Library



شپږم څپرکی

# میلیونر زلمي ته د میلیونرانو فکر ور زده کوي...

میلیونر خپل موټروان سره روغبړ وکړ، په شونډو یې موسکا خپره وه، موټروان ته یې وویل چې د موټر ډاله (ډیګی) خلاصه کړي. بوډا سړي د لرګي یو ښایسته کیندل شوی کوچنی بکس را واخیست، زلمي ته یې وویل چې موټر کې ورسره سپور شي، درې کسان موټر ته ور وختل او موټر روان شو.
سره خړاغ ته چې ورسېدل بوډا سړي د موټر ښیښه ښکته کړه او د سرک په غاړه ولاړ بوډا سړي ته یې اشاره وکړه، هغه زړې جامې اغوستې وې، پرې لنډې شوې وې، رنګونه یې ګډوډ وو او په لاس کې یې یو زوړ بکس نیولی و، په موټر کې ناست زوړ سړي وویل:

- **پوهېږې زما او د هغه تر منځ څه توپیر دی؟**
- **هو نو، هغه موټر نه لري، پیسې به هم ورسره تا هومره نه وي او تا غوندې جامې هم نه شي اغوستی.**

سړی په خندا شو ویې ویل:

- **دا خبره دې منم، خو اصلي توپیر دا نه دی، اصلي توپیر په دې بکس کې دی.**

بیا بوډا سړي بکس په زنګنونو کېښود او خلاص یې کړ، ویې ویل:

- **دا مې راته استاد راکړی و، هغه وخت ما نوی کار پیل کړی و، دا بکس زما د پرمختګ یو دلیل دی، اوس**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


**یې دا دی تاته درکوم، ځکه زما نور نه دی په کار، وخت یې چې راغی دا به بل کوم ښځې یا سړي ته ورکړې، په دې توګه زنځیر نه ماتېږي او پوهه له یوه بل کس ته ځي.**

د جان سودا شوه چې دې زاړه بکس کې به څه وي؟ مرغلرې به وي؟ د کوم بانک چېک به وي او که د کوم ملکیت اسناد به وي؟ ښایي د شتمنی کوم فورمول یا راز به پکې وي؟

بوډا سړي په موسکو شونډو بکس جان ته ورکړ، ده زر پرانیست، زړه یې ولوېد، بکس کې یوه ځلوېښت کلنه زړه راډیو پرته وه، ده راډیو راوویسته او په شکمنو سترګو یې بوډا سړي ته وکتل، بوډا سړي هماغه په سرک ولاړ سړي ته په اشاره وویل:

- **په ډېرې ښښې، هغه سړی بیخي وحشي و، لکه ځنګل کې چې اوسېږي، تر اوسه یې راډیو نه وه لیدلې.**

دې وخت کې ځراغ شین شو او موټر روان شو، بوډا خپله خبره وغځوله.

- **ته داسې وګڼه چې په ځنګل کې دې یو وحشي ولید، دا راډیو ورته ښیې او ورته وایې له دې ډبې غږونه راوځي، بلکې خبرې او سندرې وایي. هغه سړی به درته وایي چې کاکا لیونی شوی یې، ځکه راډیویي څپې نه لیدل کېږي او هغه یې د درک لپاره معنا او مفهوم نه لري.**

عادي خلک وحشیانو ته ورته وي، دوی فکر نه کوي چې مفکورې (ایډیا) ګني واقعي دي، بیخي هماغسې لکه ځنګلي انسان چې د راډیویي څپو واقعیت نه مني، خو موږ پوهېږو چې راډیویي څپې شته، حتی که په سترګو یې نه شو لیدی. له بده مرغه د عادي خلکو سواد او معلومات همدومره دي،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د عادي خلکو معلومات او سواد تر هغه ځای وي له کوم ځایه چې د فوق العاده خلکو پیل کېږي. فوق العاد خلک پوهېږي چې مفکوره هویت لري، حقایقو ته بڼه ورکولای شي او دا مهمه نه ده چې مثبت دي که منفي. فوق العاده خلک دا مني چې مفکورې حقیقي دي، دوی پوهېږي چې د انسان ماغزه راډیو ته ورته دي او ښایسته موسیقي خپرولای شي. دوی پوهیږې چې د انسان ماغزه وړتیا لري او د دوی راتلونکې ستونزې حل کولای شي. زه یوازې په پیسو نه غرېږم، په بریاوو او لاس ته راوړنو هم غرېږم. دا لړ مخکې مو چې یو سړی ولید، که ده له خپلو دننیو وړتیاو ګټه اخیستې وی خپل ارمانونه یې پوره کولای شول. تاسو یو میلیونر وګڼئ، هر څه ترې واخلئ او ددې غریب سړي ځای کې یې ودروئ. هغه میلیونر به څو میاشتو یا څو کالو کې خپلې بایللې پیسې بېرته وګټي، دا ولې؟ ځکه د هغه تر ټولو مهم شی ذهن دی او ذهن ترې موږ نه شو اخیستی.

***هر څه کې مې وژنې خیال او فکر مې مه وژنه***
***په دې کې مې وطن ته لوی تاوان لیدلی دی***
***ګل پاچا الفت***

زوړ سړی شبه غلی و، بیا یې وویل:

- **د مفکورو او اړتیاو لیست کې باید خپل لومړیتوبونه په نښه کړې. له ځانه وپوښته چې که په یوې مفکورې یا ایډیا د کار کولو فرصت لرې نو په کومې یوې کار کوې؟ کومې بالقوه وړتیاوې لرې؟ دا چې دې وټاکله بیا خپلې ټولې هلې ځلې همدې لپاره وکړه او مفکوره په حقیقت بدله کړه.**

جان وویل:

- **نو زه څه خبر یم چې زما ټاکلې مفکوره سمه ده که نه؟ زه ډېر**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



خلک پېژنم، ټول فکر کوي چې ښه مفکورې لري، خو همدې مفکورو يې ژوند ور برباد کړی دی.

میلیونر وویل:

- په خپل داخلي ادراک او خبرتیا باید حساب وکړې.
- نو زه به څه پوه شم چې زما دننني غږ به سم وي؟
- ښه پوښتنه ده.

میلیونر موسکی شو ویې ویل:

- دا دی زده کړه له خیره کولای شې، دا دې زده کړل چې مناسبې پوښتنې وکړې. دا مهمه ده چې ذهن باید سم پلان گذاري کړې. ځان سره په مثبت ډول دا تکراروه چې د هرې ورځې په تېرېدو لا ښه کېږم، په لوړ غږ يې وایه. دا یاد ساته چې ذهن یو تیاره اړخ لري دا بدخواهي ده. میلیونونه انسان د همدې تیاره اړخ په مرسته کنټرولېږي، همدې ځای کې د تورتم قوت پټ دی، په همدې ځای کې د حقایقو ماهیت ورکېږي او مخرب نفوذ کېږي.
- جان وویل: پوه شوم.

بوډا سړي خبره وغځوله:

- د لومړیتوب ټاکلو اصل د ژوند په هره برخه کې کارولای شو، ځان وپوښته چې کوم کارونه درته مهم دي او کوم ډېره خوشالي درکوي؟ ښه چې ځير شوې په دې پوهېږې چې زموږ هر کار یوه موخه لري،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



**يعنې موږ خپل رښتيني ځان ته نږدې کوي. په دې چې پوه شې بيا ځان خپل کار ته پوره وقف کولای شې. يوه شېبه نه ضايع کوې، ځکه پوهېږې چې کلونه وخت دې ضايع کړی دی، ان پېړی دې ضايع کړې دي، بيا نو د وخت له ضايع کولو لاس اخلې.**

د خلکو لويه ستونزه دا ده چې وايي د مهم کار کولو لپاره ګني کافي وخت لري. د نړی سپېځلي او بريالي خلک هره ورځ په دې نيت کار پيلوي چې نن بې ګني د ژوند وروستی ورځ ده، په همدې خاطر پرلپسې مهم کارونه کوي، په دې موضوع ښه سر خلاص کړه.

موټر د نيويارک په ګڼه ګوڼه کې لانګ آيلنډ خوا ته روان و، په دې سيمه کې ميليونر ژوند کاوه، خپله خبره يې وغځوله:

**ځينې خلک دا مبهمه تمه لري چې ګني يوه پېښه به وشي او د دوی ژوند به ښه شي، يا به ګني د ژوند پچه وګټي. وايي چې دولتي سياست به د دوی په ګټه بدل شي، خو دې ته يې پام نه دی چې هر څه په دوی پيليږي او په هم دوی ختمېږي، دوی نه پوهېږي چې يوازې همدوی د خپل برخليک مسئولين دي. د دوی په ذهن خپرې مفکورې به د دوی ژوند بدلوي او څه چې په موږ کې دننه دي بلاخره بهرنی تجلي پيدا کوي.**

د انسان ذهن چې څه تصور کړه هغه عملي کولای هم شي. که په دې لوی اصل دې شک شو يا درته ناسم ښکاره شو؛ نو دغه بکس پرانيزه او پکې پرتې زړې راډيو ته ځير شه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جان د زاړه سړي په خبرو فکر کاوه، راډیو یې بېرته بکسې کې کېښوده او بکس یې پسې وربند کړ، په نوره لاره دواړه غلي ناست وو او چوپتیا خپره وه. د شتمن سړي کور ته نیم ساعت لاره وه، جان ښه احساس کاوه، د تېرو څو ورځو په پرتله ډېر ارام او ډاده و، لکه له یوه اوږد سفره چې بېرته کور ته راستون شوی وي. بلاخره جان دې پایلې ته ورسېده چې میلیونر سړی دده معنوي پلار شوی دی. د شتمن سړي بیا پیدا کېدو د جان خفگان او موقته ناکامي ختمه کړې وه.

ربښتیا دا وه چې بوډا سړي عجیب کیفیت لاره، هغه ان بې له خبرو نور خلک اغېزمنولای شول.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


اتم څپرکی

# زلمی پوه شو چې هم ګل دی هم بڼوال...

موټر د لویې دروازې مخې ته تم شو، موټروان (ادګار) ور پرانیست، د ګلانو له باغچې تېر او لویې ودانۍ ته ورسېدل.
جان ویل دا ګني د میلیونر نوی کور دی، خو چې پام یې شو ګوري چې ګراج دی، څو شېبې وروسته یې چې اصلي کور ولید لږ نهیلی شو، ځکه تر پخواني کور ډېر کمزوری و، خو جان ډېر زر په خپله تېروتنه پوه شو. کور ته بیخي نږدې شول، درې منزل کور دی او دوه ډبرین دودکشونه لري. د جان یوې تابلو ته پام شو، په تابلو یې لیکلي وو: (د ادګار جونګړه)
جان فکر وکړ، (ادګار؟؟؟ ښه دا ددې موټروان کور دی.)
د ډریور له جونګړې تېر شول او پراخه انګړ ته ورسېدل، دلته څو آسونه څرېدل، د آس یو بچي د مور شیدې رودلې.
جان یوه شېبه د آسونو صفتونه وکړل او بیا یې سترګې په یوې لویې ودانۍ ولګېدې، دا کور د ادګار تر هغه درې چنده لوی و، پوړونه یې ډېر وو او ګردچاپېره ترې ونې، فوارې او مجسمې تاوې وې.
میلیونر وویل: (دا مېلمستون دی، خو که ته وغواړې اصلي کور کې هم اوسیدی شې.)
بلاخره کور ته ورسېدل او جان ایله پوه شو چې شتمني څه ته وایي، سترګو یې تور وخوړ، کور بیخي د فرانسې د اولسمې پېړۍ مانۍ غوندې ساز شوی و، پنځه پوړه و، پنځه شپږ برجونه یې لرل او نږدې پنځوس کړکۍ پکې وې.
سړي وویل: را ورسېدو پخیر.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جان ځان سره وویل چې دا سړی لکه چې زما له فکره هم خو ځله ډېر شتمن دی، ځکه یوازې دا کور دېرش میلیونه ډالر ارزښت لري یا به لا ګران وي او بیا لا په داسې ځمکه جوړ شوی و چې بیه یې تر بل هر ځای لوړه ده.

یو مشر خدمتګار او خدمتګاره ښه راغلاست ته راغلل، دوی د خپل بادار مخې ته داسې ولاړ وو چې درونای یې له ورایه معلومېده، خو دې دواړو کسانو زاړه میلیونر ته د خپل پلار هومره عزت ورکړ.

سړي هم ځان پرې لوړ نه باله، نه یې کبر کاوه او نه یې امرانه چلند، ده هم ورسره د خپلو بچو غوندې چلند کاوه، دې وخت کې د جان ورپام شو چې دی عجیبې جامې اغوندې خو ښوک ورپورې د خندا فکر هم نه کوي.

میلیونر خدمتګار ته خپله توره خولۍ ورکړه او ورته یې وویل چې پام ورسره کوه. بیا یې وویل چې مېلمه ته یوه خونه هم برابره کړئ، البته تر ټولو ښه خونه. بیا راتاو شو او جان ته یې وکتل، یعنې چې جان شپې ته پاتې کېږي که نه؟ جان سر د هو په نښه وخوځاوه.

زاړه میلیونر وویل: **که زړه دې وي لومړی به درته د خپلو ګلونو بڼ او بیا نور کور در وښییم.**

جان ورته وویل: **دا خو به ډېر خوند وکړي.**

دوی ادګار او نور خدمتګار پرېښودل او د کلا شنډو ته وخوځېدل. انګړ له فوارو ډک و، بیا له یوه لوی ډنډه تېر شول، ښه یې عجیبه وه. د کلا دروازې ته چې ورسېدل په یوه لمریز ساعت او لوحې یې سترګې ولګېدې. په لوحې عجیبه عبارت لیکل شوی و: (د هر څه راز د ګلاب په زړه کې دی.)

میلیونر له جان مخکې و، باغ به دوه سوه متره په سل متره کې و، بېلابېل ګلابونه پکې کرل شوي وو، د باغ هاغه سر سیند خواته ټیټ شوی و، سیند ښکلی ځلېده، کښتۍ پکې شمال سره سمې ورو ورو روانې وې.

جان وویل:

**ربښتیا هم ښکلی ځای دی.**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


د گلابو باغ یې ډېر خوښ شو، ځکه تراوسه یې د گلابو دومره لوی باغ نه و لیدلی.

باغ ته د راننوتو په دروازه کې یو بدل رنگ گلاب کرل شوی و، نور ټول بوټي تازه وو خو دا یو پکې مړاوی و او پاڼې یې رژېدلې وې، داسې ښکارېده لکه مړ شوی چې وي. میلیونر ورته ودرېده او یوه ځانگه یې دده ولیدله. د مرض او افت نښې پرې نه وې، بیا ور بېته شو، د گلاب ډنډر یې ولید، یو څو غونچې او څو نازکې پاڼې یې پرې ولیدلې، د زوړ میلیونر په څېره غمجنه موسکا خپره شوه. بیا یې ملا سیده کړه ویې ویل:

**دلته ددې لپاره راغلی یم چې ددې گل ساتنه وکړم،**

**دا چې وشو دلته سې هم کار خلاصېږي.**

جان ته یې ښخي د خبرې موقع ورنه کړه. جان همداسې ورکتل.

بېرته راتاو شو، جان ته یې ښخي د خبرې موقع ورنه کړه، جان همداسې ورکتل. یا به د گلابو بوی و یا د سیند تازه شمال، خو جان چې دې باغ ته راوتی و، ځان یې ارام او خوشاله احساساوه، لکه هر څه چې ارام شوي وي. فکرونو کې یې واټن راغلی و او دده چې څومره یادېده، تر پخوا ډېر خوښ و. څو شیبې خو ترې دا هېر وو چې څوک دی او چېرته دی، جان په دې فکر و چې که ددې حالت راتگ د جان په زړه شي او هر وخت یې وغواړي راشي؛ نو ژوند به بیا څومره خوندور وي.

پښه یې واخیسته، میلیونر پسې ورسېده. زاړه سري پیاوړې روحیه لرله، لکه په هوا کې چې الوځي، بوډا سړی او داسې حالت رښتیا هم د حیرانۍ و. شیبه وروسته د باغ منځ کې یوه ډنډ ته ورسېدل، گردچاپېره ترې ژېړ گلان ولاړ وو. څو مرغاوی ډنډ کې لمبېدې، یوه توره هیلۍ هم ورسره وه او ډنډ کې گرځېده. ملیونر یوه بوټي ته ورېبت شو، گلاب یې بوی کړ. ښایسته شیبه همداسې ولاړ و، لکه مراقبه چې کوي، جان د خبرې زړه ونه کړ، حالت یې روحاني او معنوي و، څو شیبې وروسته یې زلمي ته مخه کړه، ویې ویل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



- دا چې تراوسه سم نه یې بریالی شوی، لامل یې دا دی چې په تمرکز کولو نه پوهېږې.
- زه خو په تمرکز پوهېږم.
- راشه، دې بوټي ته رانږدې شه.

د ګلابو دا بوټی له نورو لوړ، تازه او ډک و، جان ورمخکې شو، سودا یې وه چې بوډا سړی به څه وایي، یوه شیبه چې ګلاب ته ځیر شو په شونډو یې موسکا خپره شوه، جان میلیونر ته مخه کړه او خبرو ته یې په تمه شو.
میلیونر وویل: ته څه وایې چې دا یو بوټی ولې تر نورو لوی دی؟
جان اوږدې پورته واچولې:

- ولا که رښتیا درته ووایم پوه نه شوم، ځکه زه بنوال نه یم او په دې کارونو مې سر نه خلاصېږي.
- معلومات بنه وي، د نړۍ د ټولو جالبو شیانو او ژوندیو موجوداتو او د ژوند په اړه به دې معلومات پیدا کړي وی. ټول قوانین په طبیعت کې شته او څوک چې د طبیعت قوانین لوستی شي په اصل کې ژوند هم لوستی شي، ته یو ځل بیا دې بوټي ته وګوره، دې لوی ګلاب ته پکې وګوره.

جان د سړي خبره ومنله، ګلاب ته بیا ور بیټ شو، چې ګلاب ته بنه سم ځیر شي، خو بیا هم ذهن ته څه ورنغلل، یوازې دومره پوهېده چې دا ګلاب لوی دی، یو وار خو یې وویل چې زوړ سړی ګني ورسره هسې ټوکې کوي، جان وویل:

- ولا زه خو نه پوهېږم، تصادف به وي.

میلیونر وویل:

- خلک چې ورته چانس او تصادف وایي دا بهرني وجود

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



**نه لري، تصادف د علیت د قانون بل نوم دی او په هر څه کې صدق کوي. مثبت فکر، مثبت گام او روغ ذهنیت تل نتیجه ورکوي، ان که وهم ځنډېږي، ځکه د عمل او پایلې یا نتیجې تر منځ واټن وي. موږ علت هېروو او په معلول ډېر فکر کوو، ځکه نو بیا د بخت، طالع او تصادف خبرې کوو، خو بیا خپل گلاب ته ورستنېږو، ته ورته ځیر شه.**

جان يې بيا خبره ومنله، خو دا ځل يې هم پکې خاص څه ونه ليدل، يوازې څو ښاخکي پرې پراته وو، ځان ورته ناپوه ښکاره شو، ځکه د بوټي د لوی والي دليل يې ونه موند. سړی ورته وويل:

- **کوم خاص شی درته پکې نه ښکاري؟**
- **نه**
- **که غواړې کار کې بريالی شې، د مشاهدې، منطق او استدلال قوت دې بايد زيات کړې. زه چې څومره ميليونران پېژنم دا تانه کړې پوښتنه راته ډېره ژر ځوابوي، که څه هم د بوټو او گلانو په اړه به چندانې نه پوهېږي. بريالي خلک جزياتو ته پام کوي او اصولو ته رسېږي، خو نور خلک دا کار نه کوي، عادي خلک وايي چې ددې بریالیو خلکو بخت ښه دی، خو دوی قوانين په ډېر دقيق ډول کاروي.**

سړي په خپل لاس کې گل ښاخکي ته اشاره وکړه يې ويل: دې کې څو گلان دي؟

- **يو**
- **ښه په دې بوټي کې څو دي؟**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جان وشمارل ویې ویل:

- دولس

- ښه ډېر ښه اوس ځواب پیدا کېږي، دا یو ګلاب په خپل بخت نه دی لوی شوی، بلکې بنوال پرې کار کړی او تمرکز یې پرې کړی دی، دلته رانږدې شه.

جان چې بوټي ته ورنږدې شو، بوډا سرې څانګې لاندې څو غونچو ته اشاره وکړه، ویې ویل:

- دا وګوره، په دې څانګې کې ډېرې غونچې دي، ما ترې نورې غونچې راپرې کړې او یوه مې پرېښوده، داسې ښکارېده چې دا غونچه به ښه وده وکړي؛ نو دې بوټي ته چې څومره غذایي مواد راتلل ټولېږي دې یوې غونچې ته شول او په دې خاطر یې ښه وده وکړه، همدې کار ته تمرکز وایي.

د جان مخ راتود شو.

بنوال د فیلسوف په خبره خرګند شوی و، ویې ویل:

- جالبه دا ده، که ما هر بوټي کې داسې یوه غونچه پرېښې وی همداسې وده یې کوله. هر انسان خپل ژوند کې په همدې طریقه بدلون راوړی شي، د انسان او نورو موجوداتو تر منځ ډېر زیات توپیر نشته، یا په بل عبارت انسان په یوه وخت کې هم ګل کیدای شي، هم بنوال کیدی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



اتم څپرکی

# زلمي تمرکز زده کړ

زوړ سړی د اوبو ډنډ ته لاړ، د زړې کورتۍ له جېبه يې د ډوډۍ کپ راوویست، میده میده يې کړ او اوبو ته يې واچاوه، کېونه يې زر زر ګوزار کړل. بطکې زر زر راټولې شوې، هرې یوې زر زر ټونګې وهلې، خو هیلی يې کیسه کې نه وه، لکه ډوډۍ يې چې ښخې لیدلې نه وي، یا به يې ویل چې دې بطکو سره خوراک هم خوند نه کوي.

ميليونر سړي وويل:

- د عادي خلکو ژوند دې بطکو ته ورته دی، هره ورځ يې ملګري، کورنۍ او نور خپلوان حواس ګډوډوي، هر څه ترې هېر وي، له دوی بیا خپل هدف هم هېر شي، یوه ورځ یو شی غواړي او بله ورځ بل. هر څه چې ورمخې ته شي هماغه ټاکي، خو فوق العاده انسان بیا ځیرک وي، دوی هغې هیلۍ ته ورته وي، خپل دنیې غږ اوري، متمرکز وي، هېڅ شی يې حواس نه شي شیندلی، د عادي خلکو اراده کمزورې وي، مثلاً ځانته وګوره ... خپله اداره کې دې په هلو ځلو څومره تمرکز کړی؟

جا ورته وويل:

- پېرودونکو پسې مې سلګونه زنګه وهلي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



- **ټول زنګونه دې یوه کس ته وهلي؟**
- **نه، سلګونو کسانو ته مې زنګونه وهلي، تاسو راته وویل چې حوصله باید ولرم او په کار پسې وګرځم، ځکه مې حوصله نه ماتېږي او نه نهیلی کېږم.**

د زاړه سړي خبره بدله شوه، لکه شاګرد یې چې تراوسه خبره نه وي درک کړي، ورته یې وویل:

- **اسکیمو (په کنګلونو کې مېشت خلک)، چې کبان رانیسي بېلابېلو ځایونو کې کنګل ماتوي چې له جوړې شوې کندې کبان راونیسي؟**

جان خجالته شو، موسکی شو، دا یې باید منلې وی چې دا درسونه ډېر اسانه دي.

میلیونر خپله خبره وغځوله:

- **د تهوماس ایډیسن کیسه دې یاده ده؟ آیا هغه هغه کوله چې لس زره بېلابېلې اختراع ګانې وکړي؟**

جان ځواب ورکړ: **نه هغه زرګونه ځله تجربې وکړې چې یو برښنایي څراغ اختراع کړي.**

دواړه یوه شېبه غلي وو.

میلیونر سړي خبره وغځوله:

- **ځيني خلک دا هېروي یا پرې فکر نه کوي چې هره ماته خپل لامل لري عیناً لکه هر بری چې خپل لامل لري... نو تا څه تېروتنه کړې؟**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جان په حیرانۍ وویل: نه پوهېږم

زوړ سړي ټینګار وکړ: ښه فکر وکړه، تاته ټول ځوابونه درځي، بس لږه خواري وکړه او رایاد یې کړه.

- زه نه پوهېږم، که پوهېدی تېروتنه به مې نه کوله او بریالی شوی به وم.

میلیونر سړي په خندا وویل:

- همداسې ده، کله کله له اعصابو هم کار اخلې، دا یې لا سر دی. خو تر څو چې د فکر کولو په موضوع بحث کوو، ته راته دا ووایه، له کومې ورځې چې دې اداره سازه کړې، په بریا دې څومره فکر کړی؟
- پوهېږم چې کم عقلتوب دی، خو ډېر زیات کارونه کوم.
- ډېر کارونه ... لکه ټول خلک چې پرې خپل ژوند ضایع کوي او بې ګټې کارونه کوي، په داسې حال کې چې دوی باید فکر وکړي. پاسکال به ویل د انسان لویه ستونزه دا ده چې کوټې کې یوازې نه شي پاتې کېدای. ډېر ښه، د سوداګر، هنرمند یا عالم (کسب مهم نه دی) لویه ستونزه دا ده چې په خپل دفتر، سټوډیو او لابراتور کې یوازې نه شي پاتې کېدی. داسې نه شي کولای چې موبایل بند کړي، سکرتره یې نه وي، همکاران یې نه وي، په مېز یې دوسیه نه وي، ذهن یې بوخت نه وي او یوازې په دې فکر وکړي چې بریا ته څنګه رسیدی شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما چې کار پیل کړی په دې راز پوه شوم، ټوله ورځ به مې فکر کاوه، ذهن مې تش کړ، ځان مې دفتر کې بند کړ، موبایل مې بند کړ او ځان سره مې وویل چې یوې اونۍ کې به لس غوره مفکورې پیدا کوم او ښو پایلو ته به رسېږم. یوه اونۍ کې مې مفکورې پیدا کړې، پروژې مې وپېژندې او دې ټولو راته یو میلیون ډالر راوړل.

- یو میلیون ډالر؟
- هو پوره یو میلیون ډالر. که د نورو خلکو غوندې کار مې کولای دومره ګټه مې نه شوه کولای. البته زه دا نه وایم چې انسان دې یوازې فکر کوي، ځینې خلک په دې برخه کې هم افراط کوي او له دې امله د عمل کولو وخت نه مومي. دوی مفکورې زېږوي او بیا پرې دومره فکر کوي چې ترې فلج کېږي. کار او عمل ته هم باید وخت ورکړل شي. کار چې پیلوې ډېرې هڅې به کوې. ذهناً، روحاً او جسماً به ورته ځان وقف کوې، زه دا منم چې یوازې کار مهم نه دی، خو بل شی د کار ځای نه شي نیولای. که ریښتیا هڅه وکړې ډېر وخت به ورته ولرې، اصلي تمرکز یو ډول قرباني ده.

جان وویل: **قرباني؟**

زاړه میلیونر ځواب ورکړ:

- **هو قرباني ده، تمرکز کول یعنې نور شیان یوې خنډې ته کول، یعنې ټوله انرژي، قوت، ورتیا، اعصاب، هورمونونه او نور یوې موخې ته سمول. یعنې په ټول**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


**وجود یو شی وغواړئ او دغه غوښتنه، شوق او هیله بیا تر اونیو، میاشتو ... ان کلونو ژوندی وساتئ.**

تمرکز مو چې زده کړ جالبه مفکور ذهن ته درځي او د تمرکز دې درجې ته چې ورسېدئ، د هرې ستونزې حل لاره په لاس درځي.

څکه خو وايي چې عايد پيل کړئ؛ نو پيسو سره بايد ځانګړی ذهنيت هم ولرئ، دې حالاتو کې کار لوبې ته ورته وي. د کار راز اصلاً د معلوماتو دومره لوړول دي چې ټول کارونه اسانه شي، ان تر دې چې شتمني درته ډېره او بريا درته عادي خبره شي.

البته ځينو خنډونو سره مخ کېږئ، په دې نړۍ کې هر څه د تمرکز مخالف دي. موږ د خوند او خوښۍ په دوره کې اوسېږو. موږ د حواسو شيندل کېدو په وخت کې اوسېږو، څکه خو موږ نه لس دقيقې يا يو ساعت وروسته بيا هېر وي چې موږ څه کول؟ پخوانی کار پاتې شي او نوی راپيل کړو.

خو دا ياد ساته، زه چې درته کوم چل ښيم دا ځانځانی لپاره مه کاروه، څکه څه چې د نورو په لګښت ترلاسه کوې بلاخره ستا پر ضد مصرفېږي.

لامل يې دا دی چې د عليت قانون ژر اغېزه نه کوي، پايلې يې ډېر وخت نيسي، ته به ښايي دا وګڼې چې يو ځای ته رسيدلی يې او ډېر څه دې ترلاسه کړي خو په اصل کې به دې ځان غريب کړی وي.

د زاړه سړي ډوډۍ ختمه شوې وه، ډوډۍ سره د بطکو شوق هم کم شو. هيلی لا تر دې دمه ورسره نه وه يو ځای شوې، دې وخت کې ورو د ډوډۍ ځای ته را روانه شوه، خو ډوډۍ نوره نه وه په کار.

ورو يې ميليونر ته وکتل، دا خاکساره الوتونکې نوره بې حرکته شوې وه، جان چې له نږدې وکته خوند يې ورکړ او ښايسته ورته ښکاره شوه. سترګې يې پخوا غوندې نه وې او عجيبه ارامتيا پکې ليدل کېده.

زوړ سړي له جيبه يو بل کپ ډوډۍ را وويسته د ډنډ په غاړې يې پلتې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ووهله. هیلی ورنږدې شوه چې له لاسه یې ډوډۍ وخوري. هېڅ وېره ورسره نه وه او داسې ښکارېده چې ورته له کېدونکې پامه خوند اخلي.

هیلی جان ته وکتل، معصومیت پکې و، جان یې خپل واړه ژوند ته متوجې کړ چې څه وړې هیلي یې لرلې. داسې احساس یې کاوه چې ددې الوتونکې په بدن کې شته اروا دده تر اروا ډېره پوره (کامله) ده.

زوړ بنوال ودرېده، جان ته یې مخ کړ، په اوږه یې وټپاوه، لکه دده په زړه چې پوه شوی وي، ورته یې وویل:

- **تا چې ګورم هغه د زمري بچی رایادېږي، دا کیسه مې په یوې هندې لیکنې کې لوستې وه. د زمري بچی لا وړوکی و چې مور او پلار یې مړه شول. څو اوزو رالوی کړ. زمری چې را لوی شو ځان یې اوزه ګڼله. پاڼې او ګیاه یې خوړله خو غاښونه یې ورته جوړ نه وو. د هغوی غوندې غږ هڅه یې کوله، خو دده غږ ډېر درون و او غرېده. تر دې چې یوه ورځ یې یو بل زمری ولید، دې ونه پېژنده او د نورو وزو غوندې ترې ووېرېده. زمري خپل اصلي ماهیت هېر کړی و.**

زیاتره خلک هماغه زمري ته ورته وي، چې ځانونه اوزې ګڼي او ټول عمر د هغوی کارونه کوي. څوک چې ځان د اوزې په ځای زمری وبولي خلک ورپورې خاندي. زه درته وایم اوزې پرېږده چې زمری درکې را ژوندی شي.

بیا زاړه سړي له جان ازموینه اخیسته چې په خبره پوه شوی که نه؟ ورته یې وویل چې په یوه ګلاب تمرکز وکړه. جان زر اورېدلې خبره عملي کړه، میلیونر ورته په خواږه نظر وکتل، شبېه چې تېره شوه میلیونر جان ته وویل:

- **کار دې ډېر ښه دی.**

زلمي خپل مغرور نظر له ګلابه زوړ سړي ته راوګرځاوه او منته یې وکړه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


**میلیونر په ملنډو وویل: که رښتیا دې تمرکز کړی وی زما غږ به دې نه اوریدی او همداسې به دې ګلانو ته کتل، بیا یې پیل کړه.**

هلک خجالته شوه، بیا په ګلاب متمرکز شو. دا ځل یې ځان سره وویل: دا ځل مې هېڅ شی هم حواس نه شي شیندلی، ان که دا سپین ږیری مې هم له دې حالته راوباسي زه نه راوځم، حتی خوځېږم هم نه او همدې ګل ته ګورم، وبه ګورو چې ځوک یې ګټي زه که هغه؟ تا لا زه څه لیدلی یم.

جان همداسې متمرکز و، چې څو شیبې وروسته یې یو غږ واورېده، د ځناور غرېدا ته ورته غږ و، لکه د زمري غړمبار یا بل وحشي ژوي غږ ... غږ ورته ورو ورو نږدې کېده، جان تمرین پرېښوده، پورته یې وکتل، چې ګوري یو لوی زمری یې په سر ولاړ دی، تا به ویل ښکار ته ګني تیار ولاړ دی. له سترګو یې وحشت ورېده. خو په زمری په بڼ کې څه کوي؟ جان میلیونر ته ور وکتل چې د هغه غبرګون ویني، خو ګوري چې هغه قلارې ولاړ دی او سیل کوي، لکه دا چې زمری نه کومه پیشو وي.

جان غاښونه زور کړي وو په همدې وخت کې یې وویل: څه وکړم؟

میلیونر په خندا شو ویې ویل:

- **که رښتیا دې تمرکز کړی وی دا د زمري غږ دې هم نه اورېده.**
- **هو، ما به نه وی اورېدلی خو دې به زه خوړلی وی.**

دا خبره یې چې وکړه، زوړ سړی یې له لاسه ونیوه او ورته یې وویل راځه چې تښتو، بوډا ورته وویل:

- **مه وېرېږه، هېڅ خبره نشته.**

زمري له دوی څو ګامه لیرې ولاړ و ، غړمبا یې پرېښوده او د زاړه سړي پښو پورې یې ځان وموښه. سړي یې په ملا لاس راکش کړ او موسکی شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



زاړه سړي وویل: شاباس هوریسه، ته خو ښه هلک یې.
جان ورته هک پک و.
میلیونر وویل:

- **ودې لیده جانه، ځان چې څومره چمتو کوې، ګورې چې هسې بې ځایه خبرو ته اندېښمن کېږو او کار چې کېږي دلیل لري. پېښې تل ښې وي. هېڅ شی دومره مهم نه وي، موږ اهمیت ورکوو. بل ځل که داسې جدي حالت سره مخ شوې زما خبره رایاده کړه. یوه ورځ به پوه شې چې دا مسایل سوی تفاهم دی، دامونه دي او موږ پکې نښلو. څکه موږ په خپل ذهن لاسبري نه یو. مرګ نه ډېر خلک وېرېږي، خو هغه هم بې خطره دی، یوه بې ارزښته پدیده ده. که ذهن دې ارام وي بدو شرایطو ان مرګ سره د مخ کېدو په وخت دې ټوله وارخطایي ختمېږي او ستونزې حل کېږي. په دې موضوع ښه فکر وکړه، دا اصل چې درک کړې، خپلواکه کېږې.**

څو شیبې وروسته زاړه سړي د زمري په غاړه ګوتې راښکلې، زمری بېرته په خپله لاره لاړ خو دا ځل نه غریده او نه غړمبېده، دې سره جان هم ارام شو. زمری چې څومره لیرې کېده، جان په دې فکر کاوه چې دا زوړ سړی به ما نور څومره حیرانوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


نهم فصل

# زلمی د باور قوت مني...

زمری چې لاړ بوډا سړي د ډنډ په منځ کې ولاړې اوسپنې ته اشاره وکړه، ویې ویل: د ارادې قوت د تمرکز په تمرین زیاتیږي، لوی کارونه کولای شې.
جان نه پوهیده چې بوډا سړی څه وایي، دی پوهیده چې بوډا سړی ډیر مدبر دی او سخت ډیر ذهني قوت لري، ده ته یې وویل چې د ډنډ په منځ کې ولاړه اوسپنیزه میله د تمرکز په قوت وخرخوه، دې امکان لاره؟

- وه یې ازمویه!

زلمي شونډې راټولې کړې، عجیبه غوښتنه وه، دا هم لکه چې کوم دام و، بوډا سړي له هماغه اوله زلمی پوه کړی و چې ډیر رازونه ورسره دي.
جان میلیونر نه په سترګو کې پوښتنه وکړه، لکه ورته چې وایي رښتیا وایې؟
میلیونر موسکی شو او سر یې د هو په نښه وخوځاوه.
جان د زاړه سړی خبره ومنله، سترګې یې په اوسپنې متمرکزې کړې چې ګنې وبه یې څرخوي، خو بریالی نه شو. جان میلیونر ته ورغی هغه ورته وویل: ددې لپاره باید یو ډیر اسانه او چټک جادویي فورمول تکرار او تمرین کړې، مثلاً *زه هره ورځ له بیلابیلو اړخونو تر بلې ورځې ښه کیږم او لا ښه کیږم.* یا دې بل فورمول ته ګوره چې زه یې له کلونو راهیسې هره ورځ تمرین کوم. *زه هره ورځ له هره اړخه قوي کیږم، په ځان مې باور زیاتیږي، رغیږم او ځوانیږم.* ددې عبارتونو په مرسته د خپل داخلي قوت قلف خلاصولی شې، له همدې لارې خپل دننني غږ اوریدی شې او په دې مو مخکې هم خبرې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړې دي.

ستا ذهن د الادین څراغ دی، که غواړې چې جن (پیری) ترې راووځي نو هره ورځ باید دا لوی فورمولونه تکرار کړې، تر دې چې معجزه وشي. ورو ورو درنه هغه څوک جوړیږي چې ربښتیا ته یې. ورو ورو پوهیږې چې څراغ دې ذهن دی او جن یا پیری ته په خپله یې. ته هم رئیس یې هم مادون، خو خبر نه یې. خپل دننني غږ چې دې واوریده ځان مومې، که څه هم کله به مهم شوی نه یې. ته داسې ښځې ته ورته یې چې خپلې غاړکۍ پسې ټول ځایونو لټوي خو خبره نه وي چې غاړکۍ یې په غاړه ده. دا ښځه ویلی شي چې غاړه ترې ورکه ده؟ زیاتره خلک د ریالېزم په نامه ژوند ته پام نه کوي، دوی لوی خوبونه او ارمانونه هېروي او ځان سره وایي: ( ته باید حقایق ووینې)، خو حقیقت دا دی چې ژوند خپله معجزه ده او سوچه معجزه ده، ځکه انساني ذهن هر څه کولای شي، یوازې ستا دنني غږ ته اړتیا ده، ستا له خوا یو غږ په کار دی چې دا ثابته کړي.

میلیونر غلی شو، بیا د اوسپنې خوا ته ورتاو شو، لږ جدي شو، د سترګو ځلا یې زیاته شوه، د جان باور نه کېده خو څو ثانیې وروسته اوسپنه په تاوېدو شوه.

جان ویل که خوب ګوري، بوډا سړي خپله خبره ثابته کړه، مخکې یې لا ویلي وو چې انساني ذهن نامحدوده قوت لري. جان ولړزېده، روحاني احساس یې پیدا کړ، دا احساس هله کېږي چې انسان له خپل درک لوړه پدیده ګوري.

بیا لږ شکمن شو، ښایي زاړه سړي کوم ماشین نصب کړی وي، یا به یې کومه تیره په پښې زور کړې وي یا به دا اوسپنه باد ګرځولې وي.

جان ډېر ته ولیدل، اوبه ولاړې وې، یوازې د بطکو ګرځېدو یکې څپې سازولې، باد هم نه و ځکه ګلان بیخي نه رپېدل.

د اوسپنې څرخ تېز شو او دومره تېزه شوه لکه ځای په ځای چې ولاړه وي او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Solar Library


نه تاوېږي.

وروسته بیا یو ښایسته غږ تر غوږو شو، جان ورته غږ شو، نارامه غونډې شو، په علت یې نه پوهېده، موسیقۍ یې په اروا اغېز وکړ، په ژوند کې یې داسې غږونه ډېر اورېدلي وو، خو ارزښت یې نه و ورکړی، سترګې یې راډکې شوې.

دې وخت کې د مرغيو يو سیل راغی، راښکته شو او د اوسپنې شاوخوا ته راټولې شوې، په دوی هم لکه چې د موسیقۍ دا غږ ښه لګېدلی و، مرغاوې هم ورته رالټوې شوې او سرونه یې موسیقۍ سره خوځول.

یوه دقیقه وروسته د موسیقۍ شدت لږ شو، اوسپنه هم ورو ورو ودرېده، دې سره د مرغيو راغلی سیل هم والوته او بېرته په خپله مخه لاړ.

میلیونر جان ته وویل:

- یوه ورځ ته هم دا اوسپنه څرخوی او دا موسیقي تولیدوی شوې، له نامحدوده قوت برخمنېږې، خو دا مه هېروه چې له خپل قوته به سمه ګټه اخلې، د ځان او نور په ګټه به یې کاروې، یوازې د خپل ځان فکر به نه کوې، که ځانځاني دې وکړه د علیت قانون به دې پر ضد وکارېږي. تل دا زرینه خبره یاده ساته: (نورو ته هغه څه خوښوه چې ځانته یې خوښوې؛ د نورو خدمت کوه؛ په دې توګه به لا ډېر قوت ترلاسه کړې؛ خاکساري او تواضع کوه، په دې به درته ځان وړوکی ښکاري خو د لویو خلکو له ډلې به شې، که راتلونکې کې کله خفه شوې پوه شه چې دا اصل دې هېر کړی او ځانغوښتونکی شوی یې.

میلیونر شېبه غلی و، بیا یې وویل:

- ته یو ځل بیا هڅه وکړه چې دا اوسپنه وڅرخوې،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## وخت درته شته، زه به لږې پښې خلاصې کړم.

د جان باور نه کېده چې میلیونر دې د خپلې ارادې او تمرکز په قوت دا اوسپنه څرخولې وي. دې وخت کې يې له دننه يو ښایسته غږ راپورته شو، ډېر پخوانی غږ و، لکه د سهار شمال نرم و، دده غوږ ته يې سندره پيل کړه، چې دا کار دومره هم ناممکنه نه دی، ښايي دا کار يې له وړتيا ډېر لیرې نه وي.

نېغ ودرېده، څو کتابونو کې يې لوستي وو چې انسان نيغ ولاړ وي، انرژي پکې اسانه تګ کولای شي، همداسې نېغ ودرېده او په اوبو کې ولاړې اوسپنې ته ځير شو، سم نه پوهېده چې څه وکړي، د ذهني فرمانونو په مخابره يې پيل وکړ، لکه اوسپنه چې ژوندی مخلوق وي یا کوم کورنی څاروی وي او دی يې پالي، ځان سره يې دا خبره کوله چې (اوسپنې، اوس ستا د څرخېدو وخت دی.)

خو اوسپنه هماغسې په خپل ځای ګونګې سونګې ولاړه وه، رپ يې هم نه واهه، جان څو دقیقې دا هڅه وکړه خو بلاخره نهيلی شو، خوله وازې يې وکړ او خپل تندی يې زور کړ، سر يې په درد شوی و. دې وخت کې پوه شو چې اصلي ستونزه يې د نه پاللو او استقامت کمی دی، ده به چې هر کار کاوه زر به يې پرېښوده او تراوسه يې دې چارې ته پام شوی هم نه وه. بريا ته به لږې شېبې پاتې وې خو ده به کار پرېښود. په دې خاطر يې يو ځل بيا تمرکز وکړ او دده ګومان هم نه و، خو اوسپنه په څرخېدو شوه، تر دې چې د موسيقۍ غږ ترې پورته شو.

د غرور او خوښۍ یوه ګډوله يې تجربه کړه، که يې د خپل ذهن په مرسته ولاړ شيان خوځولي وی؛ نو بيا خو ورته راتلونکې کې هېڅ کار هم ستونزمن نه و. دده تر وړتياوو لوړ هېڅ هم نه وو او برياوې يې يو په بل پسې تجربه کولې.

سخت خوشاله و، ناڅاپه پوه شوی و چې له مافوق انساني قوته برخمن دی،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ودرېده، په نڅا شو، ښایسته شېبه وروسته یې چې هاخوا دیخوا ولیدل گوري چې میلیونر سړی لیرې ولاړ دی او د ده سیل کوي. جان یې په لیدو لاسونه راښکته کړل، ودرېده او پوه شو چې دا ځل هم اوسپنه سپین ږیري سړي څرخولې، د ده کار نه و.

میلیونر وویل: **(هر څه په یو وار نه زده کېږي)**

د جان مخ تک سور شو، له تېرې راښکته شو، ویې ویل: ما ویل تاسو به تللي یئ.

زاړه سړي یې خبره پرې کړه:

- **که رښتیا باور ولرې بریالی کېږې، باور غرونه خوځولای شي، خو له بده مرغه ځینې خلک وايي چې لیدل باور دی، رښتینې بریا لپاره رښتیني باور ته اړتیا ده. هغه باور چې تاسو خپلو موخو ته پرېږدي او ان ور رسوي مو. لکه بزگر چې را اخلي تخم، خو ښکاري ورته د غنمو سره وږي او زرین بمبلونه، بزگر کر په سپرلي کې کوي خو رسېدلی فصل ورته په اوړي کې ښکاري. اصلي باور هغه شی نه دی چې خلک یې گڼي، اصلي ایمان د لویو معنوي قوانینو په اړه دننی انگېرنه ده. ښکاري به داسې چې روحاني او معنوي خلک په څه باور لري، خو دوی چې کارونه کوي هغه عادي خلکو ته نه ښکاري. همداسې ټول میلیونران هم ځینې باورونه لري او عادي خلکو ته دا باورونه لافې او لیونتوب برېښي.**

دواړه ودرېدل، اوسپنه هماغسې لکه مسته نڅاگره تاوېده، ورو ورو له زوره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ولوېده، تر دې چې ځای په ځای ودرېده. دې وخت کې بوډا سړي وویل:

- **خو باور په هر څه کې دی. که غواړئ غوښتنې مو په وخت پوره شي، زړه او جرات وکړئ. وېره مه پرېږدئ چې ستاسو وړتیاوې ختمې کړي، ډېر خلک همدا زیان ویني. مثلاً ته خپل ځان وګوره، ستا یو کار ته زړه کېږي، ولې یې نه کوې؟**

جان چې تر څو خواب ورکاوه میلیونر وویل:

- **راځه چې کور کې دې وګرځوم.**

جان لا هم تر اغېز لاندې و او همداسې سودایې په میلیونر پسې شو، د ګلابو په کروندې چې تېرېدل، میلیونر پښه نیولی شو، په غمجن غږ یې وویل:

- **پوهېږې جانه! زه چې دغه مړاوی ګلاب ګورم، ته رایادېږې.**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


لسم څپرکی

# زلمي ته پخوانی وخت وریادیږي...

لمر په ډوبېدو و، د اسمان څنډې سرې شوې وې، دې وخت کې خدمتګار هنري راغی او جان یې خپلې کوټې ته ور وباله، په پاتخې (زینې) پورته کېدل، دواړو خواو ته انځورونه راځړېدلي وو، یوازې یوې تابلو کې د سړي څېره انځور شوې وه، دا د ختیځ د یوه روحاني شخص انځور و. نوم یې نیتیاناندا و، ځوان وچ هلک و، سپینې جامې یې وې او سترګو کې یې مینه او نرمي وه. تابلو لاندې لیکل شوي وو: (خدای په خپل زړه کې وګوره.) تر څنګ یې د مسیح یو انځور رسم شوی و او تر لاندې یې کښل شوي وو چې: (راوېښ شه، دعا وکړه). بل انځور د لرغوني یوناني فیلسوف افلاطون و، دې انځور لاندې لیکل شوي وو: (هېڅ جدي انسان، د جدي موضوعاتو په اړه، جدي نه غږېږي). د افلاطون او لئوناردو داوینچي تر منځ ورته والی و او د جان په لومړي ځل ورپام شو، د رنسانس د دورې لوی نابغه لیکلي وو: ( که غواړې خپله خپل بادار شې؛ نو یوازې اوسه.)

د موټرو د مخترع هنري فورډ تر څنګ د مونالیزا انځور ځړېدلی و، فورډ په انځور کې د خپل شرکت مدیره هئیت ته د خطاب په حالت کې و او ترې لاندې دا جمله لیکل شوې وه: ( ما چې څه کړي د باور قوت ترې څرګندېږي، د کوم شي په کېدو چې باور لرو، هغه کار کېږي). ده پسې خپله د بوډا میلیونر جالب انځور ځړېدلی و، دی د خپلو ګلابونو په باغ کې ولاړ و او دا جمله ورسره ښکارېده: ( هر څه د ګلاب په زړه کې دي.)

هنري جان په خپله خونه کې پرېښود، لویه خونه وه، دده د اپارتمان دوه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



چنده وه، فرش یې په پېړې غالۍ پوښل شوی و، غالۍ دومره پېړه وه چې جان فکر کاوه که بوټ یې پکې ورک شي بیا به یې نه شي موندلای. د دبرینې بخارۍ تر څنګ د زمري دوه مجسمې اېښودل شوې وې.

جان سمدستي بالکن ته ووت، له دې ځایه د میلیونر د ګلابو باغ ښکارېده او ان د سیند تر څنډو غځېدلی و. اوبه ورو ورو روانې وې او د سپوږمۍ نرۍ رڼا پکې لامبل، جان خپل کړې سفر ته حیران و، په باغ کې د ګل فلسفه، بیا د اوسپنې څرخول او د بوډا زمري ....

دې وخت کې راشل وریاده شوه، هغه به اوس څه کوي؟ بوستن ته ولې تللې؟ فکر ته یې وخت غوښته که څنګه؟ که دی یې یوازې پرېښوده او ځان یې بېلتانه سره عادتاوه؟ دا نښې یې لا له پخوا لیدلې وې.

دوی چې څه وخت سره لیدلي وو له هغه وروسته وخت او شرایط بدل شوي دي، هغه ماښام یې لا یاد و چې له کار وروسته یې راشل مېلمستیا ته وبلله او د شپې ډوډۍ یې یوځای وخوړه. دې خپلې چنغلې ته ځلی اخیستی و او غوښتل یې چې راشل ته یې ورکړي.

جان له بالکنه بېرته کوټې ته راننوت، ټیلیفون یې چې ولید ویې ویل راشه راشل ته ووهه، کیدای شي بېرته زر خپل کار ته راستنه شوې وی، ټیلیفون څو زنګونه تېر کړل، خو د پیغام ثبتولو ماشین روښانه شو، هلته د راشل ثبت غږ چالان شو او دلته هغه غږ په جان ډېر خوږ ولګېد، بس ده هم ورته پیغام پرې نه ښود او غوږۍ یې کېښود.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


يوولسم څپرکی

# زلمی د ژوند په معنا پوهېږي...

جان سبا سهار اوه بجې له خوبه راويښ شو، د لمر وړانديې له کړکۍ کوټې ته رانوتې وې، د ګلابو خوشبويي کوټې کې نښېده. جان ولامبل، جامې يې واغوستې او د ډوډۍ خوړلو تالار ته لاړ، مېز له مخکې جوړ و او پرې ايښې ځلېدونکو لوښو يې ښکلا زياته کړې وه.

جان مېز ته د کېناستو جرات ونه کړ، په مېز زنګ پروت و، هغه يې وواهه، خو ځوک رانغلل، جان حيران شو، ځکه تېره شپه ډېر خدمتګار وو، بيا يې زنګ وواهه خو ګټه يې ونه کړه. دی سخت وږی و، خو په مېز ځينې حبوبات وو، ويل يې راځه له همدې يې پيل کړه.

څنګه چې مېز ته کېناست د باخ (غربي سندرغاړي) ښکلې سندره پيل شوه، دی حيران و، بېرته چې پاڅېده سندره هم ورسره بنده شوه. ده خپله ځوکۍ وليده، وړه ځوکۍ وه، د ناستې اسپنج ته يې چې زور ورکړ سندره بيا پيل شوه، جان موسکی شو او د ميليونر دې تکو ته يې پام شو.

بيا په ځوکۍ کېناست، د باخ سندره غږېده، جان ځان ته يو څه غله (حبوبات) کاسه کې واچول او شيدې يې پرې واړولې، خو ژېړې کاشوغې ته يې چې لاس کړ، عجيب غږ يې تر غوږو شو.

جان حيران شو، خپل چپ خوا ته يې وليدل، چې غږ له دې اړخه راځي. مېز لاندې د زمري وړوکی بچی پروت و او له ژېړې کاسې يې شيدې څښلې، ښايسته شيبه يې د زمري واړه او ښايسته بچي ته وکتل، خو بيا يې ويل هسې نه چې اوس يې مور او پلاړ رانه شي، له دې وېرې زر زر د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



خوراک یو څو دانې خولې ته واچولې او له مېزه پورته شو، دې ځای نه مخامخ د گلابو باغ ته په دې تمه روان شو چې میلیونر به هماله وي.

زوړ سړی د گلابو باغ کې ولاړ و ویې ویل:

- **کوم کار چې دې خوښېږي ولې یې نه کوې؟**

پوښتنه یې ډېره جدي ښکارېده، طنز پکې نه و. د سړي په خبرو کې مینه ښکارېده، په جان کې یې یو ذهنیت راپیدا کړ، رښتیا هم دده چې کوم کار خوښېده ولې یې نه کاوه؟ ولې یې بریا ته د رسېدو لپاره له خپلو وړتیاوو گټه نه اخیسته؟، بوډا سړي بیا پوښتنه وکړه:

- **له څه شي وېرېږې؟**
- **نه، وېرېږم نه، خو ... زه وایم چې، زما ارمان دا دی چې ... زه چې کوم کار کوم هغه ....**

هلک یوه شېبه غلی شو او بلاخره یې خپله خبره وکړه:

- **زه غواړم چې یوه د فلم کیسه ولیکم او بیا پرې فلم ساز شي، خو نه پوهېږم چې د فلم لیکل به راته څه گټه وکړي که نه؟ ځکه دا کار ډېر سخت دی، یو خو مې مخکې فلم لیکلی نه دی او بل په دې برخه مې څوک پېژنم هم نه.**
- **فلم لیکل سخت دي که سپوږمۍ ته ختل؟**
- **نه دومره سخت نه دي خو...**
- **هر کار گټه او عاید لرلی شي، زرگونه بېلگې یې شته، بس زړه وکړه، د خپل زړه واوره، دې دنیا کې ډېر خلک ژوند کوي خو زیاتره په دې نه پوهېږي چې څه**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ته پیدا شوي دي. زموږ د ژوند پلان زموږ اروا ټاکلی دی، موږ ټول داسې هیلې او مفکورې لرو چې عملي کولای یې هم شو. ان کوم شیان چې زموږ مخه نیسي او که کوم خلک چې زموږ له پلانونو سره مخالفت کوي، همدوی هم زموږ په ګټه فعالیت کولای شي. دوی چې راته ستونزې جوړوي په اصل کې موږ قوي کوي، زموږ اراده، باور او استقامت زیاتوي.

خامې او نامکمله اروا یې له ابهاماتو سره مخ وي، دا ابهامونه بهرنۍ نړۍ سره په اړیکه کې وي. دوی باید فکر وکړي او په ډېره مینه مرسته وغواړي، دا دې نه دي اورېدلي: (چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي) یا (فمن طلب فقد وجده: څوک چې څه غواړي هغه ترلاسه کوي). کله کله اروا ناڅاپه یو څواب وممي او موږ سره مرسته وکړي، دا مرسته هر وخت وي خو موږ پرې نه یو خبر، زموږ لاربښوونکي داسې کار کوي چې موږ پرې نه خبرېږو، مثلاً خان در واخله، ته فکر کوې چې یې؟ په کوم منزل او مقام کې یې؟

- زه پوهېږم چې څه غواړم خو ...
- دا ډېره مهمه ده چې پوه شې څه غواړې. که غواړې چې برخلیک دې بدل کړې زړه وکړه. ته یو څوک یې او هغه کېدو لپاره زړورتیا په کار ده. دا به کار به ته خپله کوې، بل څوک یې درته نه شي کولای. که دې ته پام ونه کړې چې څومره ګټه کوې او ظاهراً څومره بریالی یې؛ نو د ماتو خلکو غوندې احساس به کوې، ټول عمر به څورېږې او لکه څنګه چې دې سرطان بدن ختموي همداسې به دې دا احساس هم وخوري.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جان خبرو ته غوږ و، چا لا ورته داسې خبرې نه وې کړې، داسې ښکارېده لکه میلیونر ته چې خبرې له لیرې ځایه راځي، هغه څه پوهېده، چې حالاتو سره داسې سمې خبرې یې کولې؟ میلیونر خپله خبره وغځوله:

- **ستا د ژوند پلان یوازې فم لیکل نه دي، ستا لیک باید د انسان عظمت وښيي، دا باید وښيي چې خلک عظمت ته څه ډول رسېږي، څنګه کولای شي چې خپل بایللی شرافت بېرته را وګټي، څنګه د پسه له ځرمنې راووځي او بېرته زمری شي.**

خلکو ته دا وښیه چې خدای په موږ ټولو کې دی او موږ چې خدای هېر کړی او خپل او د نورو ژوند په مقاومت کې وګورو؛ نو ځان ته خفګان پیدا کوو.
خلکو ته دا وښیه چې کمال ته رسېدو او عظمت ته د رسېدو فکر موږ سره د برخلیک په ټاکلو کې مرسته کوي، دا فکر موږ ته قوت راکوي او ځوان مو ساتي.
خلکو ته دا ووایه چې دوی ښه ښایسته او له اسانتیاوو ډک ژوند لرلای شي.
زیاتره وخت به درسره دا اندېښنه وي چې د ژوند له سمې لار ونه وځې، ځکه په ژوند کې پلان رعایتول سخت کار دی. که له سمې لارې خطا شوې خوشالي بایلې ... خو که داسې وشول ښه په ډاډه زړه بېرته سمې لارې ته راستون شه او کله چې خفه کېدې؛ نو په دې پوه شه چې د ژوند له پلانه لیرې شوی یې.
خپل زړه ته وګوره، له خپل زړه پوښتنه وکړه، له خپلو دننیو لارښوونکو پوښتنه وکړه او بیا یې ځواب ته په تمه شه. په ضمن کې نورو خلکو ته مثبت کارونه کوه، په دې خوشالېږې او خپل راتلونکی نیکمرغه کوې. دا داسې مثال لري لکه بزګر چې اوړي کې غله ساتي او په ژمي کې یې خوري.
دا په یاد ساته، تر ټولو لوی خدمت دا دی چې نورو خلکو ته د حقیقت موندنې چل وښیې، ځکه همدا چل هغوی خپلواکۍ او نیکمرغۍ ته رسوي.
خدمتګار هنري ورته رانږدې شو، پوښته یې وکړه چې غرمنۍ خوري که نه؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


- له غرمنی مخکې لږ جوس راوړه هنري.
- په سترګو صیبه

په دې خبره جان پوه شو چې میلیونر سره یې خبرې په ختمېدو دي، په دې چارې لږ خفه هم شو، خو د خفګان څه خبره نه وه، ځکه کوربه یې تراوسه ډېر سخاوت کړی و.
میلیونر جان ته وویل چې د لاس تلی دې راوښیه، جان په حیرانتیا خپل ښي لاس ور وړاندې کړ.
زاړه سړي ورته وویل: نه چپ لاس دې راوښیه.
بیا د جان چپ لاس ته ځیر شو، شېبه غلی و، لکه د لاس د تلي کرښې چې تعبیروي، ویې وی: خپلو هیلو او ارمانونو ته به دې پام شي، خو ډېر وخت وروسته.
جان په نهیلي وویل: ولې؟

- ځکه چې ستا طبیعت لا نه دی منظم شوی.
- نو څنګه به لږ زر منظم شي؟
- طریقه شته، خو بیه به یې ورکوې.
- په سترګو، هره بیه چې وي.

میلیونر په خندا شو، ویې ویل:

- ته بې فکره خبره کوې، که له بیې خبر وی، دومره زر به دې تېر نه واهه.
- ښه نو، لاره څه ده؟
- زه یې درته نه شم ویلای، خو چې وخت یې راشي پوه به شې. دا اصول دي او زه یې نشم ماتولای، خو که رښتیا غواړې چې کار دې لږ چټک شي مرسته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



درسره کولای شم.

جان یوه شیبه غلی و، بیا یې وویل:

- **غواړم یې او په رښتیا یې غواړم.**

میلیونر یوه شیبه د جان په خبره فکرمند شو، لکه چې ځان یې د جان په خبره او صداقت ډاډه کاوه، خدمتګار ته یې زنګ وواهه او جان ته یې وویل:

- **زه به خپله هڅه وکړم.**

خدمتګار راغی او له جوسو ډک ډبرین ګیلاسونه یې د تیږې په مېز کېښودل. سړي وویل:

- **جوس واخله، تودېږي.**

دواړو جوسونه وڅښل، بوډا سړی له ځایه پورته شو او جان پوه شو چې د تللو وخت را ورسېد، ورته یې وویل:

- **بیا کله سره وګورو؟**
- **په مناسب وخت کې، هنري ته تلې شې.**

څو شېبې وروسته جان د راډیو وړوکې بکس په لاس کې نیولی و او د ماڼۍ زینو ته خېرمه خپل مرشد سره ولاړ و. اډګار موټروان د موټر دروازه پرانیسته، جان موټر ته له ختو مخکې بوډا سړي ته لاس ورکړ او د هر څه لپاره یې ترې مننه وکړه. سړي د جان لاس په دواړو لاسونو کې ونیوه، ښایسته یې شېبه یې ور وکتل، بیا یې ورته وویل:

- **ته بریالۍ کېږې، بس تسلیمېږمه مه، هېڅکله هم، هېڅکله نه!**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


دولسم څپرکی

# د زلمي برخلیک بدلیږي...

جان د موټر وروستي څوکۍ کې کېناست، موټر روان شو او جان د زینو تر څنګ ولاړ بوډا ته لیدل. سړي لاس وخوځاوه، خفه ښکارېده، لکه خپل زوی چې ترې روان وي، جان په وروستي ځل د خپل کوربه ښایسته کور ته وکتل.

دروازې ته چې نږدې شو، ګوري چې هوریس زمری چمن کې ګرځي او بچی یې ورپسې دی، ورپسې یې ښځې زمری ته پام شو. ښیښه یې ښکته کړه، د بوډا راډیو یې لا په پښو ایښې وه، په دې خوشاله و چې د میلیونر کور کې یې شپه کړې وه، ځکه بوډا سړي ورته دا هم ویلي وو چې فلم به لیکې او بریا به مومې.

بیا د میلیونر خبرې وریادې شوې چې ویل یې:

- **په څه چې فکر کولای شې، هغه ته رسیدی هم شې.**

جان ځان سره وویل:

- **که رښتیا باور ولرم، فلم لیکلی او پلورلی شم، زه دا کار کولای شم او هېڅ شی مې مخه نه شي نیولی.**

ښایسته شپه وروسته د خپل اپارتمان په وره کې له موټره ښکته شو، هلته یې مانۍ لیدلې وه، خپل کور ورته چندانې نه ښکارېده، جان په دې فکر کې و چې که د میلیونر خبره رښتیا شي؛ نو دی به هم یوه ورځ هماغسې مانۍ ولري.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/. Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



راشل ته يې زنګ وواهه خو هغه لا نه وه راستنه شوې، سبا سهار چې وخته دفتر ته لاړ څه ګوري چې راشل له دې مخکې راغلې او خپل مېز ته ناسته ده، په ليدو يې خوښ شو خو دا سودا ورسره وه چې راشل به له دې جلا کېږي او که ورسره به وي؟ ايا دې ته يې بل فرصت ورکاوه؟

راشل د جان په ليدو له ځايه راپاڅېده، روغبړ يې ورسره وکړ. جان غوښتل ورته ووايي چې مينه ورسره لري، ډېره ورته ګرانه ده او تر اوسه پرې هېڅ يوه ښځه دومره نه ده ګرانه شوې؛ خو خپل خجالت يې ددې خبرو مخه ونيوله. هسې دا اندېښنه ور لوېدلې وه که راشل ته د مينې خبرې وکړي، هر څه به ګډوډ شي، بلاخره يې ووېل:

- **درپسې خفه شوی وم.**
- **زه هم.**
- **خو ورځې سم کلونه تېر شول.**
- **يعنې زه زړه شوې يمه؟**
- **نه نه، داسې مې نه دي ويلي...**

دې وخت کې ټيليفون وشرنګېده او راشل غوږۍ پورته کړ.

- **بيلک شرکت! بلې،نه هغه يوه کس سره خبرې کوي، زه فکر کوم څه ستونزه به نه وي، ښه ته يوه شيبه په تمه شه، زه يې دفتر ته سر ورښکاره کومه.**

راشل په غوږۍ داسې لاس کېښود، لکه له ځايه چې پاڅېدلې او دفتر ته تللې وي. شيبه غلې وه بيا يې ووېل: وخت لري، څه خبره نشته، هو هو ! نن سبا پرې لږه ګنه ګونه وي، ان شا الله چې ښه وړانديز سره به درشي، بس خنګه چې راشي زه به ورته ووايم ... نه نه ، مطلب مې دا و څنګه چې را اوزګار شو ورته به ووايم. مننه، ښه وخت.

Downloaded By: Afghan Salar Library


راشل غوږی په مېز کېښود او را کږس یې وهل، جان هم په خندا شو، راشل وویل:

- کله کله یو نیم داسې زنګ سهار کې له چایو هم ښه وي.
- هو هو همداسې ده.
- ښاغلی راجرز و، په یاد دې دی؟
- هو، زموږ یوازینی پېرودونکی و چې پیسې یې راکړې.
- ویل یې چې نن ماسپښین یو ځل دفتر ته ورشې، څه مهمه خبره ده.
- اممم ډېر ښه، حالات بدلیږي دخیره.

راشل جان ته وکتل، په سترګو کې یې پوښتنه وه، جان ورته وویل:

- ته چې نه وې، ما یوه زوړ میلیونر سره وکتل، راته یې وویل چې بریالی کېږې، ماته یې وویل چې ارمان دې پوره کېږي، هغه تاته مې چې ویلي وو.
- هغه د فلم لیکلو خبره و؟
- هو!
- نو هغه خو درته ما هم ویل چې کولای یې شې، خو تا نه منله.
- هو! ... خو اوس پوه شوم چې کېږي. زه په دې هم پوه شوی یم چې د څه شي په اړه لیکل وکړم. غواړم زاړه میلیونر سره د خپلو لیدو حالت ولیکم، هغه فوق العاده سړی دی، جادوګر دی، زه غواړم خپل وخت په دوو برخو ووېشم؛ اونۍ کې درې ورځې به فلم

Downloaded By: Afghan Salar Library



**لیکم او نورو ورځې به په ګډه د شرکت کارونه کوو.**

- **ښه خبره ده.**

راشل جان ته خواږه خواږه ور وکتل، په خوښۍ یې خوښه وه، د پلار له مرګ وروسته یې په لومړي ځل دې سفر ټولو ته ګټه لرله. بېلتانه د جان مینه لا سیوا کړې وه. راشل خبره وه چې جان یو څلی (ګوتمه) اخیستې او دې ته یې چې ورکوي؛ نو د واده وړاندیز به هم ورسره کوي.

خو راشل چې خپله کورتۍ وویسته؛ نو سر پرې وګرځېده او بېرته په خپلې څوکۍ کېناسته، جان ورته وویل:

- **څه وشو؟**
- **څه نه، ضعف راباندې راغی.**
- **ښه ته همدلته کېنه، زه درته لږ خوږ شربت راوړم.**

جان بهر لاړ او بېرته یې ځان سره جوس او کلچې راوړلې، راشل یو څو ګوټه وکړل ویې ویل:

- **بس دی، را ښه شومه.**
- **ښه شو، ما درسره یوه خبره کوله.**
- **څه خبره؟**
- **سبا ماښام ډوډۍ ته تلی شو؟**
- **هو، ښه به شي.**

ماسپښین جان د سرک په غاړې ولاړ و، ټیکسي یې نیوله چې ښځې او لاسونه یې سپک شول، څو قدمه یې چې واخیستل قدمونه یې ځانګ وانګ وو، لکه د بوټانو بندونه یې چې خلاص وي، یا لکه پلی تګ چې نه ورځي.

یوه شېبه ودرېده، لکه وړوکی ماشوم چې نوی پل اخلي، په زړه یې وېره ننوته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې په څمکه ونه لوېږي، یوې غاړې ته کښناست، بدن یې رپېده، وارخطا و، خو یو څو شېبې وروسته بېرته را ښه شو، ځان یې وځنډه، لکه چې ستړی شو، بېرته په حال شو، طبیعي حرکت یې کولای شو.

ټیکسي یې ونیوله او شېبه وروسته د پېرودونکي ودانۍ ته ولاړ و، بیا یې پښې سستې شوې، ضعف کېده، نوره هېڅ ستونزه نه وه.

څو کسان ترې راتاو شول، یو سړی ورنږدې شو:

- څه شوي؟ ښه خو یې؟

یوې زړې ښځې وویل:

- لکه چې د زړه حمله پرې راغلې، امبولانس را وغواړئ.

جان وویل:

- نه نه، اړتیا نشته، ښه یم.

خو وروسته یې فکر وکړ چې ښځه ګني رښتیا وایي، سره له دې چې په سینه کې یې درد نه و، خو ده ویل چې د زړه خفیفه حمله به وي.

په زړه یې لاس کېښود، یو سړی پرې وربیټ شوی و، هغه پوه شو چې د ښځې خبره رښتیا وه، ور نږدې شو چې نیکتایي یې سسته کړي، خو جان یې لاس لیرې کړ، ځکه د پلار نیکتایي یې تړلې وه او وېرېده چې هغه سړی به یې خرابه کړي.

جان چیغه کړه:

- لاس مه راوړئ، ومې ویل چې ښه یم، هېڅ خبره نشته.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



سړی نه پوهېده چې جان مرسته غواړي کنه، هیسې په خپله مخ لاړ.
ده هڅه کوله چې ودرېږي، خو ایله په ګونډو شو او بېرته ولوېده، سخت وارخطا و، نه پوهېده چې څه شوي وو، دې وخت کې امبولانس را ورسېده.
جان ډاکټرانو ته ډاډ ورکړ چې څه خبره نشته، خو دا چې له ځایه نه شو پاڅېدی؛ نو طبي مرستندویانو دې ته قانع کړ چې ځینو معایناتو ته ورسره لاړ شي.
شپه یې روغتون کې شوه، راشل ته یې زنګ وواهه او خبره یې کړه چې سبا ښايي کار ته ور نه شي، ځکه راجرز سره یې لیدل، خو د ډوډۍ ژمنه یې په یاد ده. د ناروغۍ یې ورته څه ونه ویل، ځکه هسې یې نه وارخطا کوله.
سبا له غرمې وروسته څو معاینې وشوې او د روغتون ډاکټر ښاغلي ګرانت ورته وویل:

- ستاسو د ملا کړیو (نخاع) کې ستونزه ده.
- کړیو کې ؟
- ډېره تشریح یې وخت غواړي، خو دومره ویلای شو چې ستاسو د ملا په تیر کې د وینې څو رګونه ...
- ستونزه جدي ده؟
- هو جدي ده.
- کله بېرته ګرځېدی شم؟
- نه پوهېږم او دا وېره هم شته چې بیخي ونه ګرځې، دستي ساعت خو ویلچیر (بایسکل) او امساء ته اړ یې.
- ویلچیر؟ یعنې زه عمري معیوب شوم؟

ډاکټر ورته وویل:

- تاسو مه وارخطا کېږئ، ما درته وویل تاسو یوې جدي ناروغۍ سره مخ یئ، لا یې ډېر معلومات نشته، که یو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


خو ورځو کې کومې پایلې ته ونه رسېدو، بیا به مجبور یم چې په عملیات فکر وکړو.

- عملیات؟ خبره لکه چې بیخي لویه ده؟
- مورې خپله هڅه کوو، خو ژمنه نه شو کولای، کیدای شي عملیات ته اړتیا پېښه نه شي.

جان د ډاکټر تشخیص ته حیران و، دې وخت کې یوه نرسه راغله چې جان ته د ویلچیر چلولو چل وښيي، دده بیخي باور نه کېده، خو ټوکې نه وې، رښتیا هم د معیوبو په سایکل سپور و، داسې وارخطا و، ته وا چا ورته ویلي چې یو څو میاشتې ژوند دې پاتې. ټول بدن یې خوله خوله و، دا هر څه ورته هسې یو خوب ښکارېده.
خو اخر یې باور وشو، نرسې یې ویلچیر لارې ته سیده کړ، هلته یو بل ناروغ هم په ویلچیر کې ناست و، هغه ورته داسې لاس وخوځاوه، لکه ددې حالت ښه راغلاست چې ورته وايي.
په دې ماسپښین یې له روغتونه رخصت کړ او جان تر خپل کاله یوه ټیکسي ونیوله، د کور څنگ کې ورسره د ټیکسي موټروان مرسته وکړه او په ویلچیر کې یې کېناوه. یوه گاونډي یې ولید، رنگ یې والوت، ویې پوښته چې څه شوي؟ ټکر یې کړی که څنگه؟
جان لفټ کې مجبور شو چې د خپلو گاونډیانو پوښتنې ځواب کړي، کور ته چې ننوت دروازه یې بنده کړه او د ارام ساه یې واخیسته، خو د ویلچیر چلول ورته ستونزمن وو، د بوډا سړي له لیدو وروسته ورسره ناڅاپي پېښې کېدې، دې وخت کې ورته دوه څیزه وریاد شول، یوه د بوډا سړي ورکړې راډیو او بله راشل ته اخیستی څلی. نه پوهېده چې راشل به په دې پېښې څنگه خبروي؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دیارلسم څپرکی

# زلمی د خپل ژوند تر ټولو سخته پرېکړه کوي...

اوه بجې وې راشل د کور زنګ وشرنګاوه، جان څو دقیقې مخکې خپل ویلچیر په الماری کې پټ کړی و، په څوکۍ ناست و ویې ویل:

- راځه

راشل چې جان په دې حالت ولیده حیرانه شوه، په اوږدې څوکۍ کې ناست و، د خوب کالي یې اغوستي وو او څادر یې په پښو خپور کړی و.
څان سره یې ویل چې دا جان ولې ور پورته نه شو، مخې ته ولې ور ونه ووت؟ مخکې خو داسې نه و، جان ورته زر زر ویل چې زکام شوی او تبې نیولی، په دې خبره یې پوهوله چې ولې ور پا نه څېده.
راشل اندېښمنه څوکۍ ته نږدې شوه، د جان په تندي یې ګوتې کېښوې، چې تبه یې شته کنه، خو تود نه و.
جان غوښتل ورته وایي چې ته مې د ژوند تر ټولو ښایسته ښځه یې، د ژوند دلیل مې یې، مینه مې ...
خو ایا راشل پوهېده چې په ده څومره ګرانه وه؟، جان ورته وویل:

- یخچال کې جوس شته، که څښې یې.

راشل یخچال ته لاړه، څان او د دواړو ته یې جوس را واخیست، جان پرې ور غږ کړ:

- که جوس درته ښه نه وي، چای هم شته.
- نه جوس څه مشکل لري؟

Downloaded By: Afghan Salar Library



راشل سندره چالانه کړه، جان ورته وویل:

- **ګوره راشل، زه درته یوه خبره کوم، ما یوه پرېکړه کړې، ډېره سخته پرېکړه ده، خو ده... زه وایم چې شرکت یو څه وخت وتړم.**
- **څه ؟ شرکت تړې؟ ولې؟ ګوره حالات ډېر بد نه دي، ما بانکي حسابونه ولیدل.**
- **پوهېږم، خو زه بل رقم ژوند غواړم.**
- **یعنې فلم لیکې؟**
- **هو**
- **ښه نو ...**

جان خوا کې په مېز یو پاکټ ایښی و، هغه یې را واخیست او راشل ته یې ورکړ، ویې ویل:

- **د یوې میاشتې معاش چیک مې درته لیکلی، بل ځای کې ځانته کار مونډلای شې، که تصدیق پاڼه دې په کار وي هم در به یې کړم.**

راشل فکر وکړ چې جان سره ګډ ژوند یې ختم شوی، ده دومره لویه پرېکړه کوله او راشل نه یې پوښتنه هم ونه کړه، خو د جان خپل شرکت و نو ... هر څه یې چې کول، خو بیا هم راشل سره یې کوژدنه کوله، دې یې ځان په ژوند شریک باله.

جان راشل ته پاکټ ورکړې، هغې پاکټ خلاص نه کړ، ستوني یې ډک و، لکه کوم بد خبر چې ورته راغلی، په ډک ستوني یې وویل:

- **پرېکړې کې درنه تادي شوې.**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



راشل پوهه شوه چې جان خفه دی، ځو ورځې مخکې ډېر خوشاله و، جان پسې دا هم ور زیاته کړه:

- او بله خبره دا ... چې موږ یو بل ته مناسب نه وو ... ښه به دا وي چې نو سره وه هم نه ګورو.

جان ورته د واده وړاندیز هم نه و کړی او دا تمه یې هم ختموله، نور څه نه وو پاتې، جان لکه چې ورسره مینه نه لرله.
راشل غریو ونیوله، خو ځان یې کلک کړ، په نیولي غږ یې وویل:

- پوهه شوم، نوره باید لاړه شمه، ته هم ارام وکړه.

جان فکر نه کاوه چې راشل به یې دومره په اسانه ومني، ده ویل چې اوس به چیغې وي، فریادونه به وي، سوال زارۍ به وي ... راشل په تلو کې وویل:

- سبا دفتر ته ورځم، خپل شخصي وسایل ترې را اخلم، کونجي به ځوکیدار ته وسپارمه.

دا یې وویل او همداسې بې خدای په امانۍ له کوره ووته.
دروازه چې بنده شوه، جان په څه چل ځان تر الماری ورساوه، ویلچیر یې را وویست، پکې سپور شو او ورغی چې سندره بیا له سره کړي، بیا کړکۍ ته لاړ، له هغه ځایه یې لاندې وکتل، راشل له سرکه واوښته او د بسونو په تمځای کې ودرېده.
شېبه وروسته راشل بس کې سپره شوه او جان له خپل جیبه د څلي وړوکې ډبۍ راوویست، ډبۍ یې خلاص کړ، څلي ته یې وکتل او له سترګو یې اوښکې راوڅڅېدې، که یې د ناروغۍ ورته ویلی وی، خپل حرمت یې بایله او چې ورته یې ونه ویل؛ نو مینه یې وبایلله.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په ورپسې اونۍ هم د جان حالت ښه نه شو او شرکت یې وتاړه، د ځای خاوند یې په موضوع خبر کړ، د کور خاوند نه غوښتل چې یو معیوب انسان سره نامهربانه شي، یوازې د درېیو میاشتو کرایه یې ترې وغوښته ... په هر حال ... کاروبار کاروبار وي او په دې توګه جان د خپلې نغدې پانګې څو زره نور ډالر هم له لاسه ورکړل.

جان خپل وسایل راټول کړل، د پلار او راشل انځورونه هم پکې وو. بیا یې دخل راکش کړ، د راشل د دوو میاشتو معاش چېکونه پراته وو، هغه پوهېده چې د ادارې مالي حالت ښه نه دی، په دې خاطر یې چېکونه نه وو نغد کړي.

جان د راشل له دې قربانۍ وشرمېده، خو دراز یې چې تر څو بنداوه، یو مړاوی ډوله ګل یې ولید، چې د راشل د زېږېدا نېټه پرې کښل شوې وه، د اپریل لومړۍ ... ده غوښتل هغه نښان په خپله سینه را وځړوي، خو لاس یې ولړزېده، د نښان ستنه یې په پوټکي کې ننوته، د ستنې له ځایه د وینې څاڅکي راووت او خاپ یې ساز کړ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



څوارلسم څپرکی

# زلمی باید یو شی ټاکلی وی: رڼا که تیاره...

د سهار پنځه بجې به وې، جان په ټیکسي کې د سیند غاړې ته لاړ، موټروان ته یې وویل چې ورته ودرېږي. هغه له موټره ښکته شو او سګرټ یې ولګاوه، دی په خپل سایکل کې سپور شو او د سیند غاړې ته ور وخوځېده.
هلته چې ودرېده د راډیو لرګین بکس ته یې بد بد وکتل، لکه زاړه سړي چې هسې دروغ درب ویلي وي. میلیونر ورته ویلي وو چې سختو سره به مخ کېږي خو دا سختۍ بیخي له حده اوښتې. ده خو ویل چې ژوند به یې د ګلابو باغ وي او له یوه حالته به بل ته ځي، خو خپل حالت ته یې چې ولیدل هېڅ شی ورته ښکاره نه شو، نه یې ژوند ښه شو او نه د ګلابو باغ و.
شرکت یې تړلی و، مینه یې بایللې وه، فلج شوی و، د بیا پاڅېدو معلومات یې نه وو.
نور یې چاته ژوند کړی وی؟ ولې؟ که پلار یې ژوندی وی ... هغه خو ورته ویلي وو چې همدا زما کار کوه. که د پلار خبره یې منلې وی کیدای شي حالت یې ښه وی، کیدای شي دې ناروغۍ نه وی نیولی. راشل یې هم دا ډېر وخت نه وه لیدلې، دا نو څنګه مینه شوه چې اول مئین شه او بیا یې وبایله؟
جان د سیند غاړې ته نږدې شو، موټروان ورلیدل، خطر یې احساس کړ، سګرټ یې په ځمکه وغورځاوه، شکمن شو چې دا معیوب سړی څه کوي؟ لکه ځان سیند ته غورځوي؟ که ځان وغورځوي زما کرایه به څوک لنډوي؟
خو وېره یې ختمه شوه، څکه د ځان پر ځای یې هغه زوړ لرګین بکس سیند ته ور وغورځاوه، تر هغې یې ورلیدل چې بکس په اوبو کې ډوب شو. جان

Downloaded By: Afghan Salar Library


فکر وکړ چې مسئولیت یې ختم شو، سکوت، ارامتیا او د ټولو دردونو ختمېدو ته بلنه اسانه وه، بس چې لړ یې د څوکۍ بریک ور سست کړی وی او پلار سره یو ځای شوی وی، بیا یې ترې ښښنه غوښتې وی چې د هغه خبره یې ولې ونه منله. خو دا لا څوک و چې د پلار خبره یې ونه ومنله، نور د راشل کیسه کې هم نه و، ورپسې خفه هم نه و، ځکه څه یې له لاسه نه کېدل، د څوکۍ په ټایرونو یې دواړه لاسونه کېښودل او د سیند اوبو ته ځیر شو.

دی لا په همدې شوق کې و چې ځان سیند ته ور وغورځوي، دې وخت کې لمر لومړی ځیره ووهله او په اوبو یې د خپل راتګ ننداره سازه کړه. جان عجیب احساس وکړ، د لمر سرې رڼا شین اسمان داسې پوښلی و چې جان یې په ننداره بوخت شو.

نور یې ځان سیند ته ور غورځاوه چې یو قوت پکې پیدا شو، د ځان وژنې شوق پکې ختم شو، یو خیال ورسره پیدا شو او د بوډا سړي د ګلابو باغ یې سترګو ته ودرېده. دې وخت کې یې یو دننني غږ واورېده، لکه د هغه زاړه سړي غږ، چې ویل یې: زما د راستنېدو یوازینی دلیل دا ګلاب دی.

ناڅاپه یې داسې احساس وکړ لکه ژوند چې غواړي، ځکه دا احساس په کلیماتو کې نه بیانېده، له مادې اومادیاتو لوړ شی و او په ده حاکم و. ټولو شیانو سره یې په هغه سړي باور لاره، خبرې یې عجیبې وې، ښوونې یې عجیبې وې، خو مهمه دا وه چې هغه سړي هم په ده باور درلود.

څه؟ هغه ځان واږه، بیخی ورنږدې شوی و او د لمر په یوې ځیرې دومره په وجد کې راغی؟ یعنې په خپلو غمونو او ستونزو کې دومره ډوب و چې خپلو سترګو ته مخامخ د ژوند بې ساري ښایستونه یې نه لیدل؟

ورياد شول، دا چې بوډا سړي سره موټر کې ناست و، هغه د سرک په غاړې ولاړ سړي ته اشاره کړې وه او خپل توپیر یې ورسره په ګوته کړی و. ده ویلي وو که له ما څوک هر څه واخلي، زر یا په څنډ یې بېرته ترلاسه کولای شم، ځکه ده لا تراوسه تر ټولو ارزښتمن شی لاره او هغه (ذهن) دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جان د ښو قوت بایللی و، راشل یې بایللې وه، پلار یې بایللی و، کاروبار ... او هر څه یې بایللي وو؛ خو ذهن ورسره و. دا ذهن لا تازه و، په همدې ذهن یې د ښار له ښایستونو او د لمر له لومړی ځړیکې خوند اخیستی شو.
ذهن یې د شتمنۍ تر ټولو لویه سرچینه وه او د خپلو ارمانونو پوره کولو لپاره یې له دې وسلې کار اخیستی شو، ده یو فلم لیکلی شو او همدې یو فلم یې ژوند بیخي ور بدلولای شو.
زاړه سړي ورته ویلي وو چې په لویو ستونزو کې د بریاوو زړی پټ وي. دی اول نه پوهېده چې دا بریاوې کومې دي، خو اوس یې په خپل ژوند باور لاره، اوس یې په خپل ځان باور لاره، په خپل راتلونکي یې باوره لاره، اوس یې د ارمانونو پوره کولو وخت و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


پینځلسم څپرکی

# زلمي په کلک هوډ کار پیل کړ...

نیم ساعت به لا نه و پوره چې جان د خپل کاري مېز او کمپیوټر مخې ته ناست و. تر څو راتلونکو اونیو یې یوازې همدا کمپیوټر ملګری و، څان سره یې وویل ددې میلیونر لیدل د فلم ښه کیسه ده، مخکې یې فلم نه و لیکلی و، خو سوداګریز اعلاونونه یې لیکل؛ نو په لیک پوهېده او په خپل خیال یې هم ډېر کار کړی و.

لا یې کار نه و پیل کړی چې د کړکۍ خوا کې یوه اسماني رنګه مرغۍ کېناسته، ده ته یې خوند ورکړ او لاړ چې له پخلنځي ورته دانه راوړي، مرغۍ مښوکې کې دانه واخیسته او والوته. جان دا مرغۍ په خوب لیدلې وه او په نیک فال یې نیولې وه، سره له دې چې ډېرې ستونزې یې لرلې، راشل ترې تللې وه، خو بیا هم ژوند ته په تمه و؛ نو باید کار یې کړی وی او ښه تمرکز یې پرې کړی وی.

په تبلیغاتي شرکت کې یې کلونه کار کړی و، کار سره عادت و؛ نو په همدې خاطر یې دوه پاڼې (شېفتېه) کار کاوه. د ورځې پنځلس ساعته او اونۍ کې یې د اوو ورځو کار حوصله لرله، په دې توګه یې د خپل لومړني فلم طرحه په یوه میاشت کې پوره کړه.

لومړی کار یې دا و چې د ویډیويي محصولاتو پلورنځي ته باید تللی وی او هلته یې د ستیو په نوم یوه کارکوونکي سره لیدلي وی. هغه فلم سره علاقه لرله او مخکې یې هم ساعتونه ورسره په سینمایي فلمونو بحث کړی و. د راشل له لیدو وروسته ده څو څله ستیو سره کتلي وو او پیزا یې هم خوړلې وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



سټیو چې جان لومړی ځل په ویلچییر کې ولید ویې پوښتل چې څه پرې شوي؟، جان ورته وویل:

- له خپلې شخصي الوتکې بهر را وتوغېدم.

سټیو د سینمایي علومو محصل و، عمر یې پنځه ویشت کاله و او ویښته به یې شاته تړل. جان ته یې وویل:

- ټوکې مه کوه، رښتیا ووایه څه شوي؟
- رښتیا خو زه هم نه یم خبر، خو د ملا تیر کې مې څه خبره ده.
- نو څومره وخت کې به ښه شې؟
- ولا ډاکټران هم نه پوهېږي.
- ښه زر ښه شې، هسې ټوکه کوم، خو دا ناروغي خو به راشل ته نه وي تللې؟
- نه ساري نه ده.
- هغه خندګه ده اوس؟
- ښه ده شکر دی.

دا یې ورته نه شوو ویلی چې راشل رانه بېله شوې ده، سټیو ورته وویل:

- ښه نجلۍ دې ټاکلې ده، زر یې واده کړه، په دنیا باور نه دی په کار.
- هو! دا خو ده.
- ښه، نو نن دې خندګه لاره را غلطه کړه؟
- ما یو فلم لیکلی، ما ویل چې یو ځل یې ولولې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


په سبا ورځ ستیو جان ته زنګ وواهه او ورته یې وویل:

- ښه نو شی خو مې ولوسته، اوس درته رښتیا خپل نظر ووایم او که هسې ستا زړه ښه کړم؟
- یاره که رښتیا ووایې ښه به وي.
- یاره خفه نه شې خو ماته دې کیسه داسې ډېره ژوندۍ ښکاره نه شوه، زه په شخصیتونو باور نه لرم. هالیووډ کې وایي چې هېڅوک د هېڅ شي په اړه په هېڅ نه پوهېږي. زه به ښایي په موضوع ښه پوه نه شم، که په بل چا یې ولولې دا به ښه وي.
- ښه سمه ده منته.
- خدای دې وکړي چې خفه شوی نه یې، خو تا نظر وغوښت نو، زما چلند به لږ انتقادي وي، ځکه زه پوهنتون کې د ورځې درې کیسې لولم، په دې خاطر به یهانې لږې ډېرې کوم.

جان له دې هم درس واخیست، کیسه یې بل چاته ورنه کړه، خپله یې ولوسته او پوه شو چې د ستیو خبرې کې وزن و، کیسې کې رښتیا هم ژوند نه و، ځکه دا د ماغزو کیسه وه د زړه نه و.

جان نهیلی شو، ځان یې وپوښته چې بلاخره زه څوک شوم؟ ددې برخې مسلکي زده کړې یې نه وې کړې، ان یو کتاب یې نه و لوستی و، خو زړه کې یې ویل چې فلم لیکلی شي، دا کېده؟

ستیو سره یې چې خبرې وکړې، راشل یې بیا سترګو ته شوه، ولې یې زنګ نه ور واهه، ولې یې ورته هر څه رښتیا نه ویل؟ ولې یې ورته دا نه ویل چې د هغې مینه نه شي هیرولای؟ ویل ورته نه وایي چې دروغ مې ویلي وو؟ که داسې وکړي ښایي راشل یې درک کړي او بېرته را وګرځي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


لا سر وخت و، ایله یوه میاشت مخکې سره بېل شوي وو.
زړه نا زړه یې د ټیلیفون غوږی پورته کړ، د راشل شمېره یې دننه کړه، دوه زنګه چې تېر شول، سرې بې زړه شو او غوږی یې کېښود. ژوره ساه یې واخیسته، بیا یې په لړزېدلو لاسونو شمېره دننه کړه، دا ځل په درېیم زنګ د راشل غږ راغی:

- بلې
- ....
- بلې؟ غږ مو نه راځي، زما غږ اورئ؟

جان لا هم غږ نه کاوه، راشل وویل:

- لوئیس یې، بندې که دا نخرې دې.

د جان زړه ولوېده، غوږی یې کېښود، لوئیس څوک و؟ راشل بل څوک موندلی و؟ دومره زر؟ په یوه میاشت کې؟ ستیو لکه چې رښتیا ویل چې باور نه وي په کار... په هر صورت دې په خپل وخت راشل ته و واده وړاندیز نه و کړی، بیا یې ځان سره وویل: دا امکان نه لري.
راشل ډېره حساسه او مینه ناکه ښځه وه، یوې میاشت کې یې هر څه نه شو هېرولی، لوئیس به یې څوک بلدي وي، یا به یې پخوانی ملګری وي.
د راشل هېرولو لپاره یې تلویزیون روښانه کړ، یوې ښځې سوداګریز اعلان کاوه، په آکاپولو سیمه کې د رخصتیو تېرولو اعلان ... جان ته سمدستي راشل ورياده شوه.
دا به څنګه وي چې زنګ ور ووهي، آکاپولو کې یوه اونۍ تېره کړي او ټول حال ورته ووایي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



شپاړسم څپرکی

# زلمی رټل کېږي...

جان آکاپولو ساحل کې په خپل ویلچیر ناست و او راشل ته یې وکتل، د راشل په شونډو موسکا خپره وه او د ماشومانو غوندې معصومه ښکارېده.
د جان په خوا کې یو چاغ سړی ناست و، نیمه ډوډۍ یې خوړلې وه، نورې یې سترګې سره ورغلې وې او په قاب یې مچان بنګېدل.
بیا یې په راشل سترګې ولګېدې، ګوري چې په لیرې ځای کې یو لوی نهنګ راښکاره شو، ده په راشل ورغږ کړ:

- **راشل، له اوبو راوځه، یو لوی نهنګ در روان دی.**

خو راشل دده غږ وانهورېده، د سیند په غاړه د چالانې سندرې غږ لوړ و، هغې ویل ګني جان یې مخکې تللو ته هڅوي، ورته موسکی شوه.
جان پوه شو چې راشل یې غږ نه اوري، خپله باید لاس په کار شي.
ده هڅه کوله چې شاوخوا خلک پرې را خبر کړي، خو ټول د موسیقۍ په شور کې ویده وو په ډزو هم نه راپاڅېدل، یوازې یوې ښځې او مېړه یې دده غږ واورېده، خو هغوی هم هسپانوي ژبه ویله او جان ورسره په خبره پوه نه شو.
جان ورغږ کړ:

- **راشل، شاته دې وګوره!!**

نهنګ به نوي متره واټن کې و او سیده راشل ته را روان و، ده باید څه کړي وی، د زاړه میلیونر خبره وریاده شوه چې ویل یې هر څه له باوره ترلاسه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کېږي. که غرونه یې ځای پر ځای کولای شول دده پښې یې هم رغولای شوې، ده داسې څه کولای شول چې راشل پرې وژغوري.

جان د خپل ویلچییر لاسکي کلک ونیول، تمرکز یې وکړ چې له ځایه پاڅېږي، د راشل ژوند دې سره تړلی و او دې وخت کې معجزه یې پېښه وشوه، د څوکی په لاسکو یې زور کاوه او همداسې له ځایه پاڅېده، په پښو ودرېده، د سړي په خوا کې پرته چاړه یې واخیسته او په منډه اوبو ته روان شو. راشل ته یې همدا چیغې وهلې چې له اوبو راووځه، راشل ولیده، خوشاله وه چې روغ شو، خو په دې نه پوهېده چې دا چاړه یې ولې لاس کې نیولې ده؟

هغه حیرانه وه، په همدې وخت کې جان ورمنډه کړه، له راشل یې غېږه تاوه کړه او اوبو ته یې ور وغورځوله. چاړه یې لا هماغسې لاس کې وه، په نهنګ یې د چړې وار وکړ، دی بیا په ځمکه ولویده، اوبه سرې شوې، خو چې راپورته شو راشل نه وه او خولې یې په اوبو لامبلو وهله. هاخوا دیخوا یې ولیدل، په زړه یې وخوړه چې بل نهنګ ګني ډوبه کړې ده څکه یو خو دې په چاړې وهلی و، بیا یې وویل چې کیدای شي له وېرې به د اوبو غاړې ته تښتېدلې وي، زر یې خولې راواخیسته او غاړې ته روان شو.

هلته ورته یوه ځوانه نجلۍ ولاړه وه، هغې چې دده زړورتیا ولیده تشویق یې کړ او ورته یې وویل چې یوه پیاله چای به سره وڅښو.

جان ښځې ته ولیدل، څواب یې ورنه کړ، هڅه یې کوله چې له اوبو ووځي خو پښې یې سستې شوې او پوه شو چې پښې یې یوازې د راشل ژغورنې لپاره جوړې شوې وې، هغه چې وژغورل شوه، پېښه ختمه شوه دده پښو هم بېرته کار پرېښود، دې وخت کې یې خپل ویلچییر ته وکتل، د نجلۍ هم ورپام شو ورته یې وویل:

- ته معیوب یې؟

بیا په خندا شوه، ملګرو ته یې وویل دا وګورئ، دې ګوډي ته هم لمبا زده ده،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ورته یې وویل چې وبښه ښاغلیه زه معیوبو خلکو سره چای نه څښم.
ټولو په کړس وخندل، خو جان د راشل په غم کې و او هڅه یې کوله چې ځان له اوبو راوباسي.
دې وخت کې د پولیسو د موټر ټنګار شو او ټول خلک سره خپاره شول.
دې سره جان هم له خوبه راویښ شو، خپل تخت کې یوازې و او د سیاحتي شرکت کارت یې خوا کې پروت و. لاندې د سرک په غاړه د پولیسو موټر ولاړ و، همدې غږ لکه چې جان له خوبه هم راپاڅولی و.
ستړی ستړی او خوله خوله و، ژورې ساګانې یې واخیستې، پوه شو چې خوب یې لیدلی او په دې خوشاله شو چې راشل لا ژوندۍ ده، خو دې څیزونو ته حیران و، د سمندر غاړه، راشل، زوړ سړی، نهنګ.
ساعت ته یې وکتل، پنځه باندې اوه بجې وې، سهار و، قهوې ته یې زړه وشو، په زورونو د تخت پر بازو کېناست. ګولیو پسې یې لاس وغځاوه، خو زړه یې ونه شو، څکه دده حالت یې نه ښه کاوه. د ګولیو ډبی یې په ځمکه وویشت، سرې شنې ګولۍ په ځمکه ورغړېدې.
بیا خپل خوب ورياد شو، زړه کې یې هیله وټوکېده، د سمندر په غاړه اضطراري حالت و، تمرکز یې کړی و او د خپل دننني قوت په مرسته یې پښو کار پیل کړی و. په معجزه یې ډول له ځایه پاڅېدلی و او روان شوی و، دا کار په ویښه ولې نه کیږي؟ مور چې څه په خوب وینو په ویښه یې کولای شو؟
جان بیا هماغه د خوب غوندې تمرکز پیل کړ، خو پوه شو چې که باور ولری؛ نو له دې ځایه پاڅېدلی شي. یوه شیبه یې داسې احساس کړه چې له ځایه پاڅیدی شي، خو دا وجد له یوې شیبې اوږد نه شو، بېرته په ځمکه ولویده.
څو شیبې هلته کېناست، خپل غم لړلي ژوند ته فکر یووړ، راشل پسې خفه شوی و، ځان ورته بیخي یوازې ښکارېده.
درې ساعته تېر شوي وو، د معایناتو لپاره روغتون ته ورغلی و، نرسې ورته وویل چې د ناروغانو مخصوص کالي واغونده او په تخت څمله، ده همداسې وکړل.

Downloaded By: Afghan Salar Library



د نرسې له وتو سره سم ډاکټر ګرانت رانووت، خپل لوی لاس یې سټرې مه شي لپاره جان ته ور وړاندې کړ:

- ښنګه یې ښاغلی بلیک؟ ښه یې؟
- ښه یم مننه.
- ښا؟
- ډاکټر صیب د ورځ په تېرېدو لا ښه کېږم، د بوسټن ماراتن لوبو ته مې نوم لیکنه کړې او که خدای کول پکې به اول شم، بس د بایسکل ټایرونو باید لږ غوړ وساتم.
- یعنې هېڅ بدلون نه دی راغلی؟
- نه هېڅ نشته.
- خو حالت خو دې ډېر بد شوی هم نه دی.
- له بدو به څه بدتر شي؟
- نه خو ...
- ډاکټر صیب! عملیات راته ولې نه کوئ؟
- لږ خطر لري.
- په دې حالت کې مرګ نه خو به ښه وي.
- خدای به خیر کړي، اول خو به دې دواګانو ته ګورو چې څه کیږي.
- هېڅ هم نه کېږي، زه ښه پوهېږم.
- خیر ته حوصله کوه، ځو میاشتو ...

ځو میاشتې! د جان زړه کې هم نه وو چې دا حالت به ګنی ځو میاشتې زغمي، ژوند یې سخت شوی و، نور یې څه ونه ویل، معاینات ختم شو، له روغتونه راووت او ځان ورته تر پخوا ډېر نهیلی ښکاره شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


اولسم څپرکی

# زلمی ابدي ژوند مومي...

له روغتونه چې راووت، ټیکسي یې ونیوه چې هدیرې ته د خپل پلار قبر ته لاړ شي، لاره کې یې یوه ګیډۍ ګلان هم واخیستل.
د هدیرې په دروازه چې ننوته د پلار د مړینې ورځ ورياده شوه. يوازې څو خپلوان یې راغلي وو، ده ډېر نه پېژندل. د کاکا زامن، کاکاګان او ځینې نور خلک هم وو، د پلار دوه درې ملګري یې هم وو، خو په دې ټولو کې یو جان خفه و او يو یې د پلار د همکارې ماډلین له سترګو اوښکې څڅېدې، کشیش هڅه کوله چې مراسم ژر ختم کړي.
د قبرکنو هم تادي وه، دده د پلار په تابوت یې لومړی موټی خاورې زر واچولې او ونښتل چې کار ختم شي.
جان ځان سره وویل داسې ژوند څه؟ چې له خپلوانو پکې سړی ژر هېر شي، یو څو څاڅکي باران یې ټوله خوشالي له منځه یوسي.
خو مړی خښ شوی و، د جان پلار بېرته نه را ګرځېده، دا ډېرش کاله یې یو ځای ژوند کاوه او اوس ناڅاپه یتیم شوی و.
د مور د قبر شناخته یې ومونډله، مور یې پلار سره څنګ کې خښه شوې وه، مور او پلار یې په ژوند هم یو ځای و او په مرګ هم څوا په څوا دي.
څو ګلان یې راوړي وو، د پلار په قبر یې کېښودل، د مور په قبر یې ګل نه و، د پلار له قبره یې یو ګل د مور په قبر کېښود.
بیا یې وویل: **پلار سلامونه، خدای خبر تاسو به څنګه یئ؟ زه خو ښه**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



**یم، په ویلچیر کې ناست یم، ټول عمر مې ښایي په همدې تېر شي، زه او راشل سره بیل شوي یو ... ته خپله ښه پوهېږې چې انسان څو میاشتو کې له کاره سترې شي، ډېرې ښځې راپسې دي، ویلچیر مې هم ښه تېز ګرځي، وایم یو موټر پکې ولګوم چې نور هم تېز شي، ما پسې عکاسان ګرځي، پرېږده چې حیران شي.**

کار مې تر دې نور نه شي ښه کیدای، دفتر مې تړلي، ځکه د فلمونو لیکلو کار مې دومره ډېر دی چې دفتر ورسره نه کېده. د سینمایي فلمونو جوړوونکي مې کور ته ځي راځي، وایي چې زر زر راته فلم ولیکه، د یوه ترون زرګونه ډالر راکوي، ژوند مې ښه روان دی؛ نو ما ویل چې زر درشم او دا ژوند سره ونمانځو.

دې وخت کې جان ته یوه خبره وریاده شوه، مانی کې یوه پېښه شوې وه، هلته زاړه سړي ویلي وو چې ژوند ښکلی دی او هره پېښه یې خپل ذات کې ښه ده، جان ورته وویل چې پلار مې زر مړ شو.

بوډا سړي ورته وویل: چا پسې زر مړ شو؟

جان حیران شو ورته یې وویل: ماپسې.

بوډا سړي ورته وویل:

- **ښه په ښه وخت مړ شوی، د هر چا له پیدا کېدو مخکې یې د مرګ ورځ ټاکل شوې وي، هغه په دې نړۍ کې خپل کار ختم کړی و او د ژوند بلې مرحلې ته باید تیار وی، ته به ورسره نهه کاله وروسته وګورې.**
- **نهه کاله!!!!!؟**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جان وارخطا شو چې نهه کاله وروسته ګني مري، ځکه د پلار لیدو خبره خو یې همدا مرګ دی نو، بوډا سړي ورته وویل:

- **ته به هغه ته خپله نیکتایي ور وښیې.**

جان په خپله نیکتایي لاس راتېر کړ، دا نیکتایي یې د پلار له مرګ وروسته اچوله او دا دویم وار و چې زاړه میلیونر ورته اشاره کړې وه، هغه څه پوهېده چې دا یې د پلار نیکتایي ده؟ خو دا پوښتنه یې ترې نه وه کړې، ځکه وخت یې نه و او زاړه میلیونر ورته ویل ته راشه چې څه در وښیم.

بیا یې ورته ویلې وو چې ژوند ښکلی دی، راتلونکی په تمه دی، ځکه ځیني خلک خپل نبوغ په ماشومتوب کې ښیي او راتلونکې مرحلې ته ځان تیاروي.

- **روښانه ژوند د مرګ وېره ختموي، هغوی چې څه باید وکړي هماغه کوي، د خپل عمل اجر ته نه ګوري، له دې نړۍ تلو ته هره شېبه تیار وي، هغوی خپل کارونه کوي او نورو خلکو ته لارښوونه کوي چې سم کارونه وکړي.**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



اتلسم خپرکی

# زلمی د موخې (هدف) په قوت پوه شو...

جان دې پایلې ته ورسېده چې ښه لاره بېرته کار پیلول دي، یوه میاشت کې یې بل فلم ولیکه خو دا ځل هم ستېو د تېر په څېر کیسه خوښه نه کړه او دده جرات یې وننګاوه.

جان سخته موضوع ټاکلې وه، ده ویل زه ګني فلم لیکلی شم او دا کار یې داسې و لکه څوک چې د خپلې سودا حساب کولای شي او ځان سره ووایي چې مانه خو ریاضي پوه هم سازیدی شي.

ځان سره یې وویل چې بېرته به ګلدستېن شرکت ته ورستېدل ښه وي، پخواني بادار نه به بېرته کار وغواړي، ځکه هلته یې سابقه ښه وه او باور پرې کیدای شو.

خو کار یې هم ښه وخت کې نه و پریښی، هغوی ته یې خبرتیا نه وه ورکړې او کار یې په پرېښی و، په دې کار شرکت یو لوی تړون هم له لاسه ورکړی و. خو دا امکان هم و چې ښاغلي ګلدستېن دا هر څه هېر کړي وي او ده ته ښایي بیا کار ورکړي، بانک کې یې خپل بانکي حساب ولید او پوه شو چې حالت یې ډېر ښه نه دی.

که یې ځان برابر کړی وی درې څلور میاشتې ګوزاره یې کولای شوه، وېره ورسره وه، ځکه مامور چې معاش اخلي بیا وېره نه وي، دا وېره نه وي چې انسان به لوږې ومري، د کور کرایه به ورنه کړي او د ناروغۍ درملنه به ونه کړي، یا به ښایي د خپل موټر پلورلو ته اړ شي.

لږ وروسته بیا د هغه شرکت ستونزې وریادې شوې، هغه یې کوله چې بېرته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هلته ور ونه گرځي، فلم لیکل دومره سخت کار هم نه و، د ډېرو داسې خلکو کیسې لوستې وې چې په لومړي ځل ناکام شوي وو، د هوټل هغه خدمتگار هم وریاد شو چې خپله کیسه یې پر مایکل ډاګلاس په ۲۵۰ زره ډالره پلورلې وه.

دې کار امکان لاره، په خپل کوچ کېناسته، فکر یې کاوه، گردچاپېره یې د دویمې کیسې کاغذونه پراته وو.

همدې وخت کې بیا میلیونر وریاد شو، هغه ورسره د هدف په ارزښت هم غږېدلی و.

دواړه د سیند په غاړه روان وو، بوډا سړي ورته ویلي وو:

- ښه نو، ته څه وایې چې لومړی کیسه به په څو خرڅه کړې؟
- نه پوهېږم.
- تېروتی یې.
- زه څه خبر یم چې په څو به یې وپلورم، خو چې یو ځل خرڅه شي، بیه به یې معلومه شي.
- په دې طریقه خو نه شتمن کېږې، ځان ته یو هدف وټاکه، عاید وټاکه، ته باید پوه شې چې کیسه په څو پلورې؟ بیا له خپل دننني قوته کار اخلې، هغه درته لاره ښیي، له سفر مخکې باید په دې پوه شې چې روان چېرته یې؟ که داسې ونه کړې، ستا به یو ځای خوښ وي او هغې پسې به ډېر ناخوښه ځایونه هم ولټوې؛ اوس نو ماته ووایه چې په لومړی کیسه دې څومره پیسې غواړې؟
نه پوهېږم، ښایي لس زره ډالر.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



میلیونر په خندا شو:

- ته باید ډېر کار وکړې، ښه فکر وکړه چې معقول ځواب ومومو.
- نه پوهېږم، پنځه ویشت زره بس دي؟
- ډېر ښه، پنځه ویشت زره ډالر.
- له لوی فکره مه وېرېږې، غواړې چې میلیونر شې که نه؟
- سل زره ډالر؟
- هممم ښه دي، خو ۲۵۰ زره ډالر ولې نه وایې؟
- ښه نو، ۲۵۰ زره ډالر.
- ښه، ته رښتیا فکر کوې چې دومره پیسې ترلاسه کولای شې؟
- هو، ځکه زه ځینې خلک پېژنم چې په لومړي ځل یې همدومره پیسې اخیستې وې، له دې ډېرې هم شته.
- دا فلم به څومره وخت کې لیکې؟
- نه پوهېږم، خو دا موضوع مهمه ده؟ مهم شی خو الهام دی، فلم څو اونیو کې نه لیکل کیږې، کیسه باید خپله پوره شي.

زاړه ښوال بیا وخندل، ته وا کوم ځوان هلک ټوکه اورېدلې وي، ویې یل:

- عجیبه خبره کوې ...... ښه راځه چې یو شرط کیږدو.
- شرط؟
- هو هغه مخامخ چترۍ درته ښکاري؟

Downloaded By: Afghan Salar Library



سړي دوه سوه متره لیرې اسماني رنګه چترۍ ته لاس ونیوه.

- **ښه هاغه، هو ښکاري.**
- **زه ورته له تا مخکې رسیدی شم.**
- **ماسره سیالي (مسابقه) کوې؟**
- **هو**
- **خو زه ځوان یم او ته ...**
- **ما درنه د عمر پوښتنه نه ده کړې، شرط وهې که نه؟**
- **ښه نو، څومره؟**
- **زر ډالره**

جان ټکان وخوړ، ویې ویل: سمه ده.

میلیونر سړي دی په ساحل کې یوې وړې غرفې ته مخامخ کړ، دلته خلکو جامې بدلولې، هلته څو ټوپونه، چترې او نور شیان ښکارېدل، سړي ترې د پښو تختې راوویستې، بیا یې پایڅې پورته کړې، پنډۍ یې لا قوي وې، زړښت پکې نه ښکارېده، ویې ویل:

- **زه تیار یم.**

جان حیران شو چې دا ماسره ځنګه منډه وهي، ځکه دومره بوډا سړی له ځوان هلکه نه شو مخکې کیدای، بوډا وویل:

- **څه ستونزه ده؟**
- **نه نه، هېڅ خبره نشته، ته چې تیار شوې زه تیار یم.**
- **سمه ده، یو دوه درې... منډه**

بوډا مخکې شو، دا هم ورپسې و، دا چې ورتېز شو هغه هم تېز شو، خو یوه ستونزه وه چې شګې وې او د جان پښې پکې ننوتې، خو د سړي پښو ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



تختې لګېدې وې او ښه تېز روان، د هغه پښې نه ډوبېدې. دې وخت کې جان په شګو کې را ولوېده، بېرته زر پاڅېده، منډه یې واخیسته، خو کار ونه شو. بلاخره جان تر بوډا سړي وروسته ټاکلي ځای ته ورسېد.

سړی همالته ولاړ و، ساه یې ډېره بده نه وه، خو د جان ساه تله راتله.

سړی چې له تختو راښکته شو، ویې ویل:

- **زر ډالر، دوه زره مې قرضداری شوې.**

جان جېب ته لاس ښکته کړ او ویې ویل:

- **ماسره خو به اوس دومره پیسې ...**
- **خیر دی، بل وخت یې راکړه.**

بېرته خپل ځای ته راغلل، تختې یې خپل ځای کې کېښودې، میلیونر ورته وویل:

- **هدف د پښې دې تختو ته ورته دی، دا راسره مرسته کوي چې زما غوندې بوډا تا غوندې ځوان مات کړي. زیاتره خلک د خپلې بالقوه وړتیا لږه برخه کاروي، که هدف مو سم وي ان له خپلې تمې هم لوړ تلی شو. خو دا ده چې هر هدف دوه لارې لري، لکه ما چې بې له دې تختو نه شو ګټلای. هدف ته رسېدو لپاره باید وخت مصرف کړې، ګني داسې به وي لکه د سیند په منځ کې چې کښتۍ کې ناست یې، یو پارو (رشپیل) درسره وي او هماغه یوه خنګ ته یې وهې، ته به ښه زور وهې، ښه هڅه به کوې، نیت به دې ښه وي، خو ګټه به نه لري. خو که شخصي هدف ولري او**

Downloaded By: Afghan Salar Library


وسایل ته ورته برابر کړې؛ نو ورته رسېږې.

زوړ سړی شګو کې په ګونډو شو او په همدې شګو یې د فلم د کیسې بیه ولیکله، ۲۵۰۰۰۰ ... جان ته یې وویل:

- ښه دې ته هدف ته به څومره وخت کې رسېږې؟

جان یوه شېبه غلی و، بیا یې په شګه ولیکل: (درې میاشتې)

- نه خو نېټه یې معلومه کړه، له کله تر کله؟

جان حساب وکړ، دا لیک یې پاک کړ او پر ځای یې دقیقه نېټه ولیکله. میلیونر په خوښۍ ور ولیدل، جان هم کار کړی و، بوډا سیند ته کتل ویې ویل:

- **اوس باید شپه او ورځ دا هدف تکرار کړې، ځکه ژوند مو هدفونه تتولی او پاکولای شي، دا د شګو لیک ختمولای شي.**

جان وویل:

- **نه مې هېرېږي.**

دې وخت کې له سینده غږ راغي، د ځوانې نجلی غږ و، بوډا سړي ور منډه کړه، دا ځل یې پښو ته تختې هم نه وې، خو تر جان مخکې ورسېده، نجلی یې له اوبو را وویسته، د سیند په غاړه یې واچوله او د بېړنی مرستې په توګه یې مصنوعي اکسیجن ورکړ، نجلۍ څو شېبې وروسته وټوخېده او له خولې تې اوبه را رواني شوې، شېبه وروسته یې سترګې پرانیستې او وژغورل شوه. میلیونر یوې ښځې او سړي رامنډې کړې، ددې نجلی مور او پلار ښکارېدل، میلیونر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پوه شو چې ده ته نوره اړتیا نشته، ودرېده او جان ته یې وویل:

- راځه چې ځو.

سړي خپلې بډ وهلې پایڅې ښکته کړې، جان ورپسې روان و، ورته یې وویل:

- هغه جینې مو له مرګه وژغورله.
- خلک وايي چې یوه انسان ژوند مو وژغوره لکه ټول انسانیت مو چې ژغورلی وي، خو تر دې مهم شی د هغه کس ازادول چې دي چې بیا دلته را نه شي او مړ نه شي، د یوه انسان ازادول د ټول انسانیت ازادول دي، ځکه یو انسان چې ازاد شي دده لومړی وظیفه دا ده چې بل انسان هم ازاد کړي، بیا ددې ازاد شوي انسان وظیفه د بل انسان ازادول دي.

جان چې له کومې ورځې دا سړی لیدلی و په زړه کې یې یوه پوښتنه وه او دې وروستیو پېښو یې سودا لا پسې زیاته کړه، بس زړه یې وکړ او ویې پوښت:

- که خفه کېږې نه، دا به راته ونه وایې چې ستاسو عمر څومره دی؟
- څومره درته ښکارم؟
- نه پوهېږم، خو زه چې ستاسو دې چلند ته ګورم، فکر کوم زما ماتولو لپاره هغه تختو ته هم اړتیا نه وه.
- ما نه غوښتل چې یو دیرش کلن ځوان دې ما مات کړي.

Downloaded By: Afghan Salar Library


- ښه نو د څو کالو یې؟
- ته به یې ونه منې، خو زه د ۱۰۲ کالو یم.
- ۱۰۲؟ امکان نه لري.
- موږ د غرونو خلک یو، زه پکې لا ځوان یم، موږ د ځوانۍ په راز پوه شوي یو، تولنه موږ ته د ځوانۍ په اړه ناسم معلومات راکوي. خلک ۱۲۰ کلنۍ ته پلان جوړوي خو موږ ته داسې فکر راکول شوی چې شپېته کلن نور بوډا دی او داسې نه ده. انسان په دې زړېږي چې په هغه وخت کې ژوند نه کوي، خپل ژوند هم په مینه نه تېروي. څوک چې هر چا سره مینه لري او له هر حالته خوند اخلي هغه نه زړېږي او د تېر وخت پنډ په اوږو نه ګرځوي، دا خلک زموږ د تولنې غوندې نه زړېږي، ناروغي پرې اغېز نه کوي، ځکه ژوند یې همغږی وي، دا همغږي چې پرېږدو مرض راپسې را ورسېږي. ناروغي همدا پیغام راکوي چې همغږي مو ختمه شوې ده.

ښه فکر وکړه، هغه وروستۍ ورځ رایاده کړه چې بې له منفي فکره دې تېره کړې وي، یا دې له چا کرکه نه وي کړې؟ منفي ذهنیت دې باید په مینه بدل کړې، بیا ماشوم شه، په خلاصه غاړه نورو ته ښه راغلاست ووایه، کرکه او تعصب پکې مه کوه.

البته ځینې نور شیان هم انسان زړوي، مثلاً د عادي حالت دوه چنده ډوډۍ خوړل؛ له عادي حالت لس چنده لږه ساه اخیستل او په خپلو بالقوه وړتیاوو فکر نه کول.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جان او میلیونر لا هم په شګو کې روان وو، څنګ ته څو ماشومانو لوبې کولې، سرې ورته پښه نیولی شو. داسې ښکاریدل لکه یو ټیم یا ډله چې کار کوي، ځینو یې کلاګانې سازولې او ځینو ورته له سینده ستلونو کې اوبه راوړلې چې شګه لمده کړي، بوډا سړي وویل:

- **څوک چې له مرګه ویرېږي لامل یې دا دی چې ژوند کې یوه شېبه هم خوشاله نه وو او نه یې کومه شېبه خوشالي تجربه کړې. مرګ نه خلک په دې ویرېږي چې حتی یو ځل خو باید دوی خوښي تجربه کړې وی، خو دا خلک ولې دومره خفه دي؟ دوی داسې دي لکه دا ماشومان، نن دلته د شګو کلاګانې جوړې کړي، سبا چې راشي بیا نه وي او دوی ورته حیران شي. ته دا تېروتنه مه کوه، خپل ځانته وګوره، دننه دې وګوره، خدای په خپل زړه کې محسوس کړه، خدای د ټولو خلکو په زړونو کې ولټوه.**

دوی چې د سیند په غاړې خپل ځای ته را ورسېدل، ګوري چې لیکلی هدف یې پاک شوی دی، باد هغه کرښې ورانې کړې وې، خو جالبه دا ده چې په څمکه لیکل شوې پیسې اوس هم سمې دمې ښکارېدې.

Downloaded By: Afghan Salar Library



نولسم څپرکی

# زلمی په خپل بایللي ژوند فکر کوي...

د جان مالي سرچینې ورځ تر بلې کمېدې، خو ده پرېکړه وکړه چې له نوي فلم لیکلو مخکې به لږ ذهن اراموي.
جان پرېکړه وکړه چې راشل به هېروي، ځکه دې دوه زړېتوب له پښو غورځاوه. په وروستي ځل یې هغه سندره واورېده او سي ډي یې گوزاره کړه.
په دې ورځ پوه شو چې دوه ساعته ترې راشل هېره وه. خو ټکسي کې چې سپور شو بیا هماغه سندره خپره شوه چې دې دواړو یو ځای اورېدلې وه، دې سره بیا راشل وریاده شوه. پوه شو چې ځان یې تېرایستی دی، راشل یې لا نه وه هېره کړې او ښایي هېڅکله یې هېره نه کړي.
د ټکسي موټروان بیا پوښتنه وکړه:

- چېرې ځئ صیبه؟

هنداره کې یې چې وکتل، د جان سترگې له اوښکو ډکې وې، ده ویل سړی گني نشه دی. جان ورته وویل:

- بس چې چېرته مې وړې، لږ مې وگرځوه.

ماښام و د بروکلین پل ته نږدې شول، ټول ځایونه روښانه وو، دا ځای یې خوښېده. خو اوس یې خوند نه ورکاوه، په دې پوه شو چې د راشل پرېښودل لویه تېروتنه وه، هغه ښه نجلۍ او د دې بچو ته ښه مور کیدای هم شوه.
ژوند یې یوازې شوی و، راشل پسې خفه و، راشل سره هر څه ښه وو، هر څه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ته یې ژوند ورکاوه، هر چا سره یې ناسته پاسته او راشه درشه کول.

بیا یې یو دم موټروان ته وویل چې بروکلین ته ورستون شه، د راشل پته یې ورکړه خو ورته یې ویل چې زما د کور په لاره لاړ شه، ځکه هلته یې د کوژدنې څلې پاتې و.

ځان سره یې وویل چې راشل ته به ربښتیا حال وایم، راشل به یې هم خبره منلې، هر څه یې له معلولیته ښکارېدل، ده راشل غوښته خو دې ته یې زړه نه ښه کاوه چې راشل دې دی د خواخوږۍ له مخې خپل کړي، که د راشل مینې ته رسیدلی وی ښایي ناروغي یې هم ښه شوې وی. ډاکټر ورته ویلي وو چې ښه کېږې، خو وخت یې نه دی معلوم، ناڅاپه کیدای شي ښه شې. اونی، میاشت، کال ....

د راشل په مینه یې ناروغي ماتولای شوه، هر څه نه په دې ښلتانه ډېر خفه و.

ټکسي د راشل کور ته ودرېده، د زړه درزا یې زیاته شوه، چې اوس به بیا راشل گوري.

موټروان وویل:

- **۲۴ ډالره مې کېږي.**

موټروان وېرېده چې پیسې به ورکړي که نه، ځکه معلول انسان به څه پیسې ورکړې وی.

جان ورته وویل:

- **صبر پیسې درکوم.**

دا خبره یې وکړه او پنځوسی یې ورکړ، ډرېیور وویل:

- **څه خیر دی، وروسته یې راکړه!**

ده چې پیسې ورکړې د کور دروازه ېرته شوه او راشل له یو نږدې څلوېښت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کلن سړي سره له کوره راووته، سړي ښایسته جامې اغوستې وې، دا سړی وکیل و، اصلاً فرانسوی و او دا څو کاله یې نیویارک کې وکالت کاوه، نوم یې لوئیس و. دده عمر تقریباً د راشل دوه چنده و او له یوې کونډې سره یې واده کړی و.

جان ته وریاد شول چې څو ورځې مخکې راشل د همدې لوئیس یادونه کوله.

جان ته دې حالت خوند ور نه کړ، ځان سره یې وویل چې راشل لکه چې موقع له لاسه نه ده ورکړې، بیا یې وویل چې یاره داسې به نه وي.

دی ناڅاپه په راشل مئین شو او ناڅاپه یې له ځانه بېله کړې هم وه، دې کار یې نجلۍ خفه کولای شوه او بیا راشل پوه شه او د هغې ژوند، له ده د څه شي اجازه واخلي.

سړی پوه شو چې راشل نوی ژوند پیل کړی او جان یې هېر کړی دی. جان ومنله چې راشل یې بایللې او په مات زړه یې موټروان ته ببرته د ستنېدو وویل.

Downloaded By: Afghan Salar Library



شلم ځپرکی

# زلمی د استقامت په ارزښت پوه شو...

جان چې کور ته راستون شو ځلې یې د مېز په طاقچه کې کېښود، دلته د راشل نورې ډالۍ هم ایښې وې.

د زاړه سړي خبرې وریادې شوې، فکر یې وکړ فلم په دې خاطر نه شي لیکلای چې دقیق مالي هدف یې نه دی ټاکلی.

۲۵۰ عدد ورياد شو او پوه شو چې له دې لارې باید ۲۵۰ زره ډالر ترلاسه کړي.

په دې شپه ګلاب ته کېناست او په لوړ غږ یې ځان سره وویل چې:

- **تر درېیو میاشتو به د فلم له کیسې ۲۵۰ زره ډالر پیدا کوم.**

کیسې ته یې دا وخت ددې لپاره ټاکلی و چې دومره وخت کې بریا ته رسیدی شو، همدا فکر یې کاوه چې خوب ټالی ورکړه.

سبا په ښه روحیې له خوبه راویښ شو او خپل ذهن ته یې مراجعه وکړه، له سام (دا نوم یې د نیمه شعور لپاره ټاکلی و) یې غوښتل چې د فلم د کیسې الهام ورکړي. ذهن ته یې دا خبره راغله چې د نوې کیسې لپاره باید خپلې زړې کیسې یو ځل ولولي، په دې خبره زاړه میلیونر هم ټینګار کړی و.

چې په ټول باغ کې یو ګلاب ولې تر نورو ډېره وده کوي، بوډا ورته ویلي وو یوازې میلیونران پوهېدی شي دې باید جزیاتو ته پام کړی وی او هغه اصول یې موندلي وی چې لږ کیسه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


لیکوال یې تر بریا رسولي دي.
یوه مفکوره ورسره پیدا شوه، د تېرو شلو کلونو سل بریالي فلمونه یې باید کتلي وی.
سان تزو د جګړې هنر کتاب کې لیکلي: د جنګیالي نهایي بریا دا ده چې دښمن بې له جګړې مات کړي. جان پوه شو چې بې تورې میدان ته ښکته شوی، د هر کار لپاره پلان په کار وي.
جان لاړ او له ستیو نه یې یوه مجله واخیسته، په دې مجلې کې د سل غوره فلمونو لیست خپور شوی و.
جان دوه اونۍ هره ورځ د مجلې په ترتیب اوه فلمونه وکتل، ستیو به هره ورځ له جان اوه لیدل شوي فلمونه اخیستل او نوي فلمونه به یې ورکول.
په دې موده کې به جان ډوډۍ تیاره را غوښته، فلم ته به یې لیدل او ډوډۍ به یې خوړه، یوازې لیدل نه وو لا چې یادښتونه به یې هم اخیستل.
که د ژړا او خندا صحنه به یې ولیده د لامل په لټه به یې شو چې ولې انسان ژړوي یا خندوي او داسې صحنه به یې لس دولس ځله بیا لیدله.
خومره به یې چې فلمونه لیدل هومره به پکې د خپلې کیسې طرحه راسازېده، بلاخره په دې پوه شو چې ټولو بریالیو فلمونو کې یوه مشترک ټکی دی، خو دا ځانګړې او ټاکلي قواعد نه شي کارولی.
په فلمونو کې تر دې دمه دومره نه پوهېده اوس په ځینو اصولو او قواعدو پوه شو، میلیونر ورته سمې خبرې کړې وې، ورته یې ویلي وو چې ذهن دې باید پلټونکی وي، دا ذهن داسې شیان پیدا کوي چې مغشوش او شکمن ذهن یې نه شي پیدا کولای. په دې پوه شو چې تمرکز د بریا کونجي ده، د راشل په تلو یې اوس له زړه فکر کاوه او په ذهن یې احساساوه. ورو ورو ترې هنرمند جوړېده.
سل فلمونه یې چې ولیدل د دریمې کیسې لیکلو ته کېناست، د ورځ په تېرېدو یې تمرین زیاتېده، اوس یې په ذهن کې هغه انځورونه لیدلای شول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې پخوا ترې عاجز و.

میلیونر ورته یوه ورځ د فزیکي سکون ارزښت ښودلی و، د پاسکال دا خبره یې ورته کړې وه: د خلکو تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې په کوټه کې یوازې نه شي پاتې کیدای. اوس د میلیونر د خبرو په راز پوه شو، د زړه په ارامتیا کې یې پټ قوت یې احساساوه.

کله کله به یې پنځلس شل دقیقې داسې تمرکز وکړ چې خپله به وېرېده، ځومره ثانیې به چې کار ته ننوت اصولاً به ترې هېر شو چې څوک دی او څه کوي.

اوس ورته الهام ډېر ځله راته، حافظه یې ښه شوې وه او د کار ډېر وخت یې لاره.

دې حالاتو په وجد راوړ، له خپل حالته یې خوند اخیست، لکه د خپل بدن یوه نالیدلې برخه یې چې لیدلې وي.

د شپې به یې چې پنځلس ساعته کار وکړ، په کړس کړس به یې وخندل، د ګاونډیانو به یې ورته سودا شوه، دومره ارام او هوسا شوی و چې ویل یې که دې حالت کې مړ شي هم هېڅ پروا نه کوي.

په دوه نیمو میاشتو کې یې د فلم کیسه نهایي کړه او په منډه د ویډیویي وسایلو دوکان ته لاړ، ستیو ته یې کیسه پرېښوده، هغه ورپسې نیمه شپه زنګ را وواهه، ورته یې ویل کیسه دې دومره خوږه ده چې په یوې ناستې کې مې ټوله ولوسته:

**تراوسه مې دومره ښه کیسه نه وه لوستې، په دې ښې پیسې ګټلای شې، زه یې دا دی اوس خو پروډیوسرانو او پروډکشنونو ته استوم.**

جان د ستیو خبره ومنله، د کیسې دولس نقلونه یې وویستل او لویو پروډکشنونو ته یې واستول، یوه نیمه میاشت وروسته یې یو لیک ترلاسه کړ او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغه کې هم کیسه رد شوې وه، په دې حالت جان هک پک شو، څکه پیسې
بې خلاصې وې، ایله یوه میاشت گوزاره یې په سختۍ کېده.
بیا یې زوړ میلیونر ورپاته، ټول اصول یې ورته هسې گپ شول، فکر یې کاوه
چې تېروتی دی، دنیا کې نه اصول وو، نه قوانین او نه راز، هر څه گډوډ وو،
هر څه بې معنا وو، څان هم ورته هسې ساده ښکارېده.
جان نهیلی په کټ کې وغځېده، خو په دې شپه یې عجیبه خوب ولیده، جان
خپل ویلچییر کې په یوه لویه تیره ناست دی، دې وخت کې توري لړې
خپرې شوې، باران شو، ده هڅه کوله چې کور ته ځان ورسوي، خو باران
پرې راتېز شو او ټول یې لوند خیشت کړ، دی روانېده خو سایکل حرکت نه
کاوه، ځان پسې یې مخ واړاوه چې څه شي نیولی دی، خو هېڅ نه وو، دې
وخت کې ورته یو نوراني شی رانږدې شو.
گوري چې دا نوراني سړی هماغه زوړ میلیونر دی، هغه ویلچییر کې ناست و
او ده خوا ته راته، خو جالبه دا وه چې طوفان ورپورې کار نه لاره، څو شېبې
وروسته سړی جان ته را ورسېده، په شونډو یې موسکا خپره وه او ټول وچ و،
پوښتنه یې وکړه:

- **څنگه یې؟**
- **ښه نه یم.**
- **شامپو درته راوړم؟**

دا خبره یې وکړه، بیا یې له جیبه یو بوتل راوویست، رڼې اوبه پکې پرتې وې،
شامپو نه وه، سړی بوتل پرانیست او په جان یې تش کړ، دده ټول بدن پرې
لوند شو، د ارامتیا احساس یې وکړ، مخکې یې دومره خوند نه و لیدلی، ډېر
خوږ احساس و، زړه یې غوښتل چې ټول عمر همدا احساس وي.
زاړه میلیونر وویل:

- **هر څه له هغه ځایه پیل کیږي، چې ته یې ختم وگڼې**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



**او ددې شامپو اوولس ډالره پوروړی شوې.**

- **اوولس ډالر؟**
- **نه تېوکې کوم، خو کیسه دې ولې خرڅه نه شوه؟**
- **نه پوهېږم.**
- **باور لرې چې خرڅولای یې شې؟**
- **هو !**
- **باوري یې.**
- **هو!**
- **که رښتیا باور ولرې هر څه کولای شې.**
- **زه رښتیا باور لرم.**
- **ښه نو ثابته یې کړه، ځان له دې کمر نه وغورځوه، هله تکړه شه.**
- **نه خو .. ما ویل دا به لږه سخته نه وي؟**
- **باور لرې که نه؟**
- **هو!!**
- **ثابته یې کړه.**

جان پوه شو چې بله لار نشته، سایکل یې په دې باور کمر ته برابر کړ چې د الوتکې غوندې به الوځي.

همداسې وشول، سایکل یې ځمکې ته ونه لویده، له بره یې لاندې را وکتل، هر څه ورته تېټ ښکارېدل او په اسمان کې د بودۍ رنګین ټال اچول شوی و.

دې وخت کې یې باور لږ مات شو او ځان سره یې وویل چې دا پېښه ناشونې ده، ځکه سایکل خو نه الوځي ناڅاپه سایکل ځمکې ته راخلاص شو، لکه د

Downloaded By: Afghan Salar Library


الوتکې ماشين يا وزر چې خراب شوی وي. جان چيغې کړې، د سترګو وړاندې مرګ و، سړی پوه شو چې باور يې بايللی و، ځکه سايکل ولويده، يو دم يې چيغې کړ:

- **زه الوتی شم، زه الوتی شم.**

که معجزه شوې وی، دی الوتی شو، دې وخت کې بوډا سړی هم د جان خوا ته راغی، لکه دوه الوتکې چې خوا په خوا الوځي، ورته يې وويل:

- **ودې ليده، دومره سخته خبره نه ده، خو بس باور په کار دی ... لږې لوبې نه کوو؟**

د بوډا سړي سايکل تېز شو، جان تمرکز وکړ، پسې ورنږدې شو، سړي ورته وويل:

- **دا ياد ساته، په څه چې دې باور ورته رسيدی شې. دا مه هېروه، اوس زه ځم چې کارونه مې ډېر دي.**

ميليونر نور هم تېز شو، جان هڅه کوله ځان ور ورسوي، خو ونه رسېده، شېبه وروسته ميليونر له سترګو فنا شو، خو غږ يې په هوا کې انګازې کولې: ته بريالی يې، مه تسليمېږه، مه تسليمېږه.

بيا د بوډا غږ راغی: **هره ورځ ستا د پاتې ژوند لومړۍ ورځ ده، تېرې ماتې هېرې کړه، سبق ترې واخله، ځان ته ووايه چې د هرې ناکامۍ تر شا يوه کاميابي پرته ده او په راتلونکې کې دې يوه ناکامي کمه شوه.**

دا به درته عجبه ښکاره شي، خو هره ماته او ناکامي دې موخې ته نږدې کوي. ناکامۍ ستاسو قوت ګرځي او بريا مو زياتوي. د پخوانيو ناکاميو او خفګانونو هېرول زده کړه. لوحه دې پاکه کړه، ژوند له سره پيل کړه، هوډ دې ورځ تر بلې قوي کېږي او کومه بريا چې تاته ناشونې ښکارېده اوس ورنږدې

Downloaded By: Afghan Salar Library



کېږي، بس ته خپله لاره وهه.

کار پسې گرځه، پرېږده يې مه، دا دې ستونزې ختموي، نبوغ په همدې کې ځرگندېږي، دا کار د مينې ثبوت دی، که خپل کار سره ډېره مينه ولرې، گټه به پکې وکړې او ماته به نه خوري.

ستا هر کار يو سبق درکوي، ماته يوازې د معمولي خلکو په سترگو کې ښکاري، تېروتنه خجالتي نه ده، څومره چې ماتېږې هومره دې اروا قوي کېږي او د کار حوصله پيدا کوې، په خپل برخليک نور هم لاسبرى کېږې، هراکليوس وايي چې خوي له برخليک سره مساوي دی.

ھره ناکامي د خوي ستونزې او نيمگړتياوې کموي. ماتې او ناکامى چې ھمره په صبر زغمې هومره به پخېږې، ځکه صبر د مشرانو فضايل دي.

ناکامى د برياوو د بنسټ ډبره ده. پوه شه چې ته بريالى يې، بخت دې ښه ى او له ماتې ډېر لوی يې، ان له بريا هم لوی يې، نو هېڅکله مه ماتېږې، هېڅکله مه تسليمېږه ... هېڅکله نه.

Downloaded By: Afghan Salar Library



## یو ویشتم څپرکی

# زلمی د خطر مخې ته وځي...

جان سبا له خوبه ښه زړور راویښ شو، د میلیونر خبره یې لا سر کې ګرځېده چې ویل یې: ته بریالی کېږې. اول خو دې خپل عجیب خوب ته حیران و، خوب یې لیدلی و چې په باور الوتی و، باور یې باید لرلای وی، د فولادو غوندې قوي باور یې باید لرلای وی چې دا کیسه به پلورې.

خو اونۍ یا خو میاشتې ټول ژوند سره د پرتلې نه وې، چې بریالی شي دا ټولې نارامۍ به هېرې کړي، خو زر یې خپل مالي حالت ته پام شو او پوه شو چې په ډېرې سختۍ ایله تر دوو اونیو رسیدی شي.

نارامه شو، آیا د کیسې د خرخلاو لپاره یې ټول اړین کارونه کړي وو؟ ټول رد شوي لیکونه یې بېرته را واخیستل، غوښتل یې چې هر یو جلا جلا تجزیه او تحلیل کړي، ښه یې چې ولیدل پوه شو چې ځینو لیکونو له یوه سره نه دی رد کړی، ځینو یې ویلي وو چې هغوی خپله د کیسو فرمایش ورکوي او نورې نه اخلي، دوی بیخي کیسه لوستې هم نه وه، اوس یې باید څه کړي وی؟ د سینما په ډګر کې یې هېڅوک نه پېژنده چې مرسته یې ترې غوښتې وی، له څه لارو به یې ګټه اخیستې؟

البته دا شونې وه چې کورونو ته یې لاړ شي او خلکو سره له نږدې وغږیږي، خو دا چې ویلچییر کې به تلی؛ نو دې کار یې په خلکو ښه اغېز نه کاوه.

کوټې کې ګرځېده راګرځېده، ویل یې کوم فکر ذهن ته ورشي خو ونه شو. له کړکۍ چې تېرېده یوې جوړې بوټانو ته یې پام شو، دا بوټان ورته تبلیغاتي شرکت کې د کوپر شرکت ډالۍ ورکړې وو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جان بیټ شو، بوټان یې را واخیستل او یوه شیبه ورته ځیر شو، کیفیت او څرمنه یې ښه وو، باید یوې سټوډیو ته ورغلی وی، ولې یې دا کار نه کاوه. نیم ساعت وروسته یې د کور مخې ته موټر ودرېده او ده ته یې یوه بکسه ورکړه، دا بکسه یې یوې سټوډیو ته سازه کړې وه، ددې سټوډیو ځواب یو څه ښه و. جان خپله کیسه او یو بوټ په پاکټ کې کېښود او یو یادښت یې ورسره ولیکه: (سټوډیو ته د ننوتو لار.)

په دې کار یې د وجد احساس وکړ او هیله من شو. دوه ورځې واوښتې، دی لا له کوره نه و وتی، په دې تمه ناست و چې سټوډیو به ورته زنګ وهي یا به لیک رالیږي، خو هېڅ احوال رانغی. دوه اونۍ وروسته سړی ډېر نهیلی و، چې دې وخت کې ټیلیفون وشرنګېده، دی زر ورغی، یو نابلده ښځینه غږ وویل:

- ښاغلی جان بلیک شته؟
- هو!
- ښاغلی ایوانویچ درسره غږیږي.
- سلام، ښاغلی بلیک؟
- هو زه یم، مهرباني.
- ستاسو ډالی مې ځو ورځې وړاندې ترلاسه کړه، جالبه وه، ستاسو کیسه مې هم ولوسته، یو وړاندیز درته کوم، سبا که وخت لرې دفتر ته یو چکر راشه.
- ولې نه، حتمن.
- زما سکرتره به چارې سمبال کړي.

غږ پرې شو او څو شیبې وروسته سکرترۍ وویل:

- سبا ماسپښین درې بجې
- امم، خو سبا درې بجې خو ډېر وخته دی، ځکه زه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


نیویارک کې یم او سخت بند یم.

- ګورئ ښاغلی بلیک، سبا درې بجې د لیدو فرصت له لاسه مه ورکوئ، زما رئیس ډېر بوخت وي، خلک یې لیدو پسې مري او بله دا چې سبا نه بل سبا لاس انجلس ته ځي، څو اونۍ به هلته وي، بیا چې راځي دلته به یې کارونه ډېر وي او ستاسو موضوع ښایي همداسې پاتې شي.
- ښه سمه ده پوه شوم، ډېره مننه چې پوه مو کړم.
- تاسو د هالیووډ له شرایطو سره بلد نه یئ ښاغلی بلیک؟
- نه ولا، ډېر نه یم.
- ښه نو، هر کلی درته وایو.
- مننه، سبا درې بجې به سره وګورو.
- د لیدو په هیله! خو یوه خبره ده، وخت ته پام کوئ، ځکه د رئیس صیب ناوخته راتګ او انتظار ښه نه راځي.
- سمه ده، په سترګو.
- ښه وخت.

جان غوړی کېښود، لکه خوب چې ویني، بلاخره یې کیسه خرڅېده، که دا کار نه وی شوی درېیو ورځو کې یې باید نوې دنده موندلې وی او کیسې یې پرېښي وی، سبا ته په وخت رسېدو لپاره یې همدا نن تیاری ونیوه.

زر زر یې غوټه وتړله، درانه شیان یې وانخیستل، ښه دریشي یې وټاکله، د پلار نیکټایي یې هم هېره نه وه، پوهېده چې دا ورپورې بختوره ده، ټیکسي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



یې ونیوه او هوایي ډګر ته لاړ، د ټکټونو لومړۍ غرفې ته ودرېد:

- وبښئ لاس انجلس ته څو بجې الوت لرئ؟
- نیم ساعت وروسته.
- نیم ساعت، ښه ډېر ښه.
- بیه یې ۱۸۰۰ ډالره ده.
- ۱۸۰۰ ډالر؟
- هو یوازې د لومړۍ درجې ټکټونه پاتي، وبښئ.
- ورپسې الوت څو بجې دی؟
- پنځه بجې، خو څوکۍ پوره دي، که اوس ټکټ وانخلئ وخت ختمېږي.
- سبا څنګه؟
- یوه شېبه، سبا یوولس بجې الوت شته، هغه هم ډک دی، البته که د اونۍ تر رخصتۍ وار کولای شئ، تشې څوکۍ به وي.

جان څو نورو شرکتونو ته هم لاړ، خو ټولو کې لومړي درجې ټکټونه وو، دی باید نن تللی وی، بېرته لومړۍ غرفې ته لاړ، د بانک کارت یې ورکړ، ځان سره یې وویل چې څو ورځې وروسته به ښې ډېرې پیسې وي؛ نو سختي ولې کوم، ورته یې وویل:

- یو د لومړۍ درجې ټیکټ راکړئ.
- ښه، کارت مو راکړئ.
- دا کارت څو بند شوی، بل نه لرئ؟
- ښه دا واخلئ.
- دا هم کار نه کوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


## ښه وښئ دلته نږدې ای تي ایم شته؟

لاره يې ورته وښودله، جان پوه شو چې د لومړۍ درجې ټکټ اخیستو امکان نشته.

جان ای تي ام ماشین ته لاړ، زړه کې یې ویل کاشکې ځینې چیکونه نه وي نغد شوي، بخت یې ښه و، په حساب کې یې ۱۹۱۴،۲۵ ډالر وو، که دا ټیکټ یې اخیستی وی سل ډالر ورته پاتې کېدل. بېرته د پخوا په څېر نیستمن کېده، بوډا سړي چې پنځه ویشت زره ډالر ورکول هم دی په همدې حالت کې و، اوس یې لا د کور کرایه هم نه وه ورکړې، خو بله لاره نه وه، ۱۹۰۰ یې ولیکل خو ماشین ورته ولیکل چې یوازې ۵۰۰ ترې اخیستی شي او ده ۱۳۰۰ نورو ته یې هم اړتیا لرله. دا پنځه سوه یې واخیستې، نورې یې چې اخیستې ماشین ورته ولیکل چې نننۍ ونډه دې ختمه شوې ده. اوس به څه کیږي؟ وخت په منډه روان و، که یې پیسې نه وی پوره کړې الوتکه ترې تله او دې سره یې هلته کړې ژمنه هم ماتېده. زر یې خپل بکس ولټاوه چې که د چیک کتابچه پکې وي، خو هغه هم نه وه، بده ورځ وه، له دې ځایه مخامخ د ټیکټونو غرفې ته روان و، زړه یې له اندېښنو ډک و، نهیلی د ټیکټ غرفې ته ولید، دې وخت کې یې یوه خبرتیا ولیده، زړه یې خوشاله شو، وینه پکې وچلېده، دده د بانک خبرتیا وه، زر لاړ، د بانک غرفې ته ودرېده، خپل کارت یې ورکړ او ۱۳۰۰ ډالر یې ترې وغوښتل، هغه ترې کارت واخیست او ۱۳۰۰ ډالر یې ورکړل.

شل دقیقې به لا تېرې نه وې چې د الوتکې په لومړۍ درجه څوکۍ کې ناست و، د ځنګ ملګری یې هم راغی.

په لومړۍ درجه کې ټول مشهور نه خو مهم خلک سفر کوي، جان ته یې د معلولیت له امله مخکې څوکۍ ورکړې وه، دده په څنګ کې ناست سړی د هالیووډ سینما مشهوره څېره وه او کوچنی معلول زوی ورسره و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



له شپېتو به بره و، ویبنته یې وتي وو، ګرګ نیکولاس شل کلنی کې د هالیووډ ستوری شوی و، ډېر نفوذ یې لاره، ځکه سینما ډېر مشهور پروډیوسران او لوبغاړي یې پېرودنکي وو.

سړي یې چې بایسکل ته ولیدل حیران شو، لاس کې یې د فلم کیسې ته هم پام شو، خلکو ورسره مرسته وکړه او جان یې په خپله څوکۍ کېناوه، د سړي خپل زوی هم معلول و، له جان یې وپوښتل چې څه شوي؟

- **د ملا تیر کې مې لږه ستونزه وه.**
- **مورزادي؟**
- **نه دا خو میاشتې کېږي.**
- **زما زوی هېڅ ګرځیدلی نه دی.**

دا خبره یې وکړه او خوا کې ناست دولس کلن هلک ته یې سترګې واوښتې ویې ویل:

- **دا مې د درېیم واده ثمره ده.**

هلک موسکی شو او د ټوکو په کتاب یې بېرته سر ټیټ کړ، جان وویل:

- **اووه، خفه شوم، خو دی به یوه ورځ لوی نابغه وي.**
- **ته دا ګڼې؟ ....... ته لومړی کس یې چې دا خبره دې راته وکړې، ته لطف کوې خو ... زه پنځوس کاله بچې ته په تمه وم، بیا جان پیدا شو.**
- **جان یې نومیږي؟ زما همنامی دی.**
- **اوه وبښه، ما ځان هم در ونه پېژنده، زما نوم ګرګ نیکولاس دی، ګرګ راته ویلی شي.**
- **زما نوم جان بلیک دی.**
- **لیکوال یې؟**

Downloaded By: Afghan Salar Library



- هو، سبا د ایوانوویچ په نامه یو کس سره ګورم، زما کیسه یې خوښه شوې ده.
- ایوانوویچ، ښه ښه هغه پروډیوسر؟
- هو.
- ښه ښه هغه سره بلد یم، زه پروډکشن لرم.

نیکولاس خلکو ته ځان په دې خاطر نه ورپېژانده چې ټولو خلکو پېژنده او په کار یې خبر وو، جان ترې پوښتنه وکړه:

- زما کیسې لوستو ته وخت لرئ؟
- هالیووډ کې چې څوک کار کوي هغه کیسې په خپله نه لولي، زیاتره یې سکرتر یا معاونین لولي، څوک چې وایي کیسه مې خپله لوستې یا یې کیسه نه ده لوستې یا هالیووډ کې کار نه کوي، کیسه دې راته په ۲۵ یا دې نه لږو کلیمو کې ووایه.

جان حیران شو، ځکه تراوسه ترې چا لنډیز نه و غوښتی و، نه پوهېده چې څنګه یې ووایي، سرې ورته وویل:

- که په یوې دقیقې کې راته کیسه نه شې کولای زه یې هم نه شم اوریدی، ځکه زه همدومره وخت لرم، هر ځای کې د هوښیارو خلکو د توجه موده شل دقیقې ده خو په هالیووډ کې دا موده یوې دقیقې ته راځي، یا له دې هم کمېږي.
- ښه نو، زه ښښنه غواړم، زه به یو ځل تشناب ته لاړ شم.

ښایسته شیبه ووته، جان چې بېرته له تشنابه راستون شو، حیران شو، ځکه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نیکولاس ورته وویل:

- **دویمه برخه کې لږه ستونزه شته. د فلم هیرو وروسته ژوند جوړوي خو لومړیو کې بیخي پر بل تکیه وي، دا حالت لیدونکي ستړي کوي، نوره بنه کیسه وه، هم مې وخندل، هم مې وژړل او ستړی ورسره نه شوم، دا د بنې کیسې ځانګړنه ده.**

نیکولاس په دې فن کې بلد و او په لسو دقیقو کې دننه دننه یې په کیسې سر خلاص شوی و، جان ورته په نیمه ژبه وویل:

- **ټوله کیسه مو ولوسته؟**
- **هو.**
- **ما خو ویل هالیووډ کې به یې څوک څه نه لولي.**
- **زه په هر چا باور نه کوم، ځینې کارونه نورو ته نه شو پرېښودی.**

سفر کې د هالیووډ دغې مشهورې څېرې جان سره یو څه علاقه پیدا کړې وه او پوه شوی و چې زلمی بنه وړتیا لري، د ژوند کیسه یې ورته وکړه او له الوتکې چې کوزېده خپل کارت یې ورته ورکړ، ورته یې وویل:

- **سبا شپه مې مشهور کیسه لیکوال ویلیم ګلډمین مېلمه دی، ته هم راشه، خوښ به شم، نږدې اته بجې به درته په تمه یو، بنې چارې.**
- **ډېره مننه، حتماً به درځم.**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## دوه ویشتم څپرکی

# زلمی د خبرو اترو هنر زده کوي...

جان ارزانه هوټل پیدا کړ، ځان سره یې وویل چې داسې هوټل کې به یې وروستی شپه وي، زړه یې غوښتل دا ټولې کیسې راشل ته وکړي خو ... بلاخره شپه اندېښنو او خوښیو کې تېره شوه.

سبا دوه نیمي بجې د ایوانوویچ دفتر ته ورغی، لږ مخکې په دې خاطر ورغی چې بیا پرې ناوخته نه شي.

د ایوانوویچ سکرترې فورډ تورې سترګې اچولې وې، ددې په لیدو حیرانه شوه، ویلچییر یې چې ولید خبرې ترې هېر شوې ورته یې وویل:

- **که خفه کېږئ دلته کېنئ، لږ په تمه شئ، یعنې ما ویل چې ... که خفه کېږئ نه.**

دا یې وویل، نوره غلې شوه، خبرې ترې ګډې وډې شوې، جان موسکی شو، نجلی وویل:

- **ښاغلي ته ستاسو د راتلو خبر ورکوم.**

زنګ یې واهه، څو خبرې یې وکړې، بیا یې جان ته وویل چې لږ کېنه، زنګونه ډېر تلل راتلل او زیاتره د مشهورو فلمي خلکو وو، جان دې حالت ته حیران و.

درې نیمې بجې شوې، جان راتنګ شو، فورډ ته یې وویل چې صیب نه لکه چې زه هېر شوی یم، هغې ورته وویل زه دا دی بیا زنګ ور وهم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بیا یې لنډې خبرې وکړې، جان ته یې وویل:

- **صیب نه هېر شوی نه یې خو، هنري نیکولاس سره ناست دی.**

هنري نیکولاس مشهور لوبغاړی و، طبعیي خبره ده چې ده سره خبرې د جان بلیک تر خبرو ډېرې زیاتې مهمې وې.

نیم ساعت وروسته جان نیکولاس له کوټې راووت، خو لږ ګډوډ او غوسه ښکارېده، جان پوه شو چې اوس نو دده نوبت دی.

سکرترې بیا زنګ ور وواهه، خو سړی لا هم د جان لیدو ته تیار نه و او نیویارک کې خپلو وکیلانو سره یې ټیلیفوني کنفرانس لاره. د دوی د شرکت څه حقوقي موضوع او د څو میلیونو ډالرو خبره وه، سکرترې جان ته وویل:

- **لا هم اوزګار نه دی، نیویارک کې وکیلانو سره په ټیلیفون غږېږي.**
- **ښه ښه**
- **لږ نور صبر کولای شئ؟**
- **هو ولې نه**
- **خفه نه شئ، په صیب لږ ګڼه ګوڼه ډېره وي، تاسو خو پوهېږئ، ښه رښتیا چای قهوه څه شی درته راوړم؟**
- **ښه به شي، ستړی شوی یم.**

سکرتره لا قهوې پسې روانه شوې نه وه چې بیا ورته زنګ راغی، دا ځل د جولیا جانسن زنګ و، ورته یې وویل:

- **سلام اغلې جانسن، ښه ... هو هو، نن اوه بجې صیب سره نشئ کتلای، ښه خیر دی، هو تاسو ته یې وخت درکړی و ... نه نه څه خبره نه ده، امم اته بجې؟**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



**هماغه پخواني ځای کې؟ سمه ده، بس ما یادښت واخیست ... او رشتیا عکس مو ډېر ښایسته و، ښه وخت.**

جان درې نیم ساعته انتظار وویست، څو شېبې وروسته مېرمن فورډ غوږی کېښود او جان ته یې وویل:

- **صیب غوښتي یئ.**

سکرترې دروازه پرانیسته، جان چې لوی او ښکلي دفتر ته ننوت دروازه ورپسې بنده شوه.

ایوانوویچ زړه راښکونکی سړی و، لنډی و، ایله به ۱۵۵ سانتي و، پلنه نیکټایي یې تړلې وه او د عمر به یې پنځوسم کال و، د هوانا د پاڼو لوی سګرټ یې ګوتو کې نیولی و.

جان لا داسې سړی نه و لیدلی، سترګې یې خوږې وې، خو جان چې ورننوت هغه ورته سر هم ونه خوځاوه، یوه خبره یې ونه کړه، له سګرټ یې اوږد کش وکړ او لوګی یې خوشې کړ.

بلاخره سړی په خبرو شو او ویې ویل:

- **نه، ته څه ثابتول غواړې؟**

جان هک حیران شو، نه پوهېده چې سړي ولې داسې خبره وکړې، خواخوږي وه او که په دې یې څه شک ورته یې وویل:

- **وبښئ پوه نه شوم.**
- **ګوره! موږ دوه بجې سره ویلي وې، ته درې بجې راغلې، تاته زه دومره اوزګار ښکارم چې یو ساعت به درته ناست یم؟**
- **ماته خو ستاسو سکرترې وویل چې درې بجې وخت**

Downloaded By: Afghan Salar Library



دی؟

- نبه نو، یعنې ته وایې چې زما سکرتره په خپل کار نه پوهېږي؟
- نه، ما داسې نه دي ویلي، خو زه فکر کوم سوی تفاهم به شوی وي.

سړی له ځایه داسې راپاڅېده لکه په جان چې برید کوي، جان ته رانږدې شو، ورته یې وویل:

- بد زیری دا دی چې کیسه دې زما یوه مشاور لوستې، ویل یې چې چټیات دې لیکلي دي، یوه ډله لیکوال یې باید اصلاح کړي او په دې کار ډېر لګښت راځي.

دا خبره یې وکړه او جان ته یې تړون ور واچاوه:

- ددې کار یوازې پنځه ویشت زره ډالر درکولای شم، که دا اخلې نبه ده ګني په مخه دې نبه، دا پاڼه لاسلیک کړه او زه به درته همدا اوس د پنځه ویشت زرو ډالرو چیک ولیکم.

بیا یې جیب ته لاس کړ او له مخکې لیکلی چیک یې جان ته راوویست. جان چیک ته ولیدل یې وویل:

- خو دا ډېرې لږې نه دي؟
- لږې دي؟
- یعنې ستاسو چیک کې یو صفر کم دی.
- یو صفر کم دی؟ لیونی شوی یې؟ یعنې زه یوه نوي لیکوال

Downloaded By: Afghan Salar Library



**ته دوه نیم لکه ډالر ورکړم؟ هغه هم معیوب ته؟ ماغزه دې روغ دي؟ شکر وباسه چې دومره پیسې لا درکوم.**

دا خبره یې وکړه او چیک یې وشکاوه. جان حیران شو چې اوس به څه کوي، پیسې یې هم نه لرلې، بیا یې ځان لږ ارام کړ. بوډا سړی ورته ښکاره شو چې د ګلابو باغ کې ولاړ دی او ده ته په شنو سترګو ګوري، دې سره د جان په زړه کې هم وېره ختمه شوه.

ایوانوویچ ته یې وکتل، په څېره یې غوسه ښکارېده، په ځان یې باور ختم شوی و، وېره پرې خپره شوې وه، دا حالت یې لا نه و لیدلی، ویې ویل:

**- وباسه دا سړی زما له دفتره، ورک شه، رنګ دې ورک کړه.**

ایوانوویچ بېرته په خپلې څوکۍ کېناست، سګرټ یې کش کړ، جان پوه شو چې د لیدو وخت ختم شوی دی، د ویلچییر مخه یې را وګرځوله او زر له کوټې ووت، هر څه دومره زر وشول چې د جان خیال کې هم نه راتلل.

زړه یې درزېده، لکه چې تېروتی و، دوه نیم لکه ډېرې وې؟ پنځه ویشت زره یې منلې وی؟ په هر صورت د لومړي کار پیسې دومره بدې نه وې، خو دده ورته هسې زړه ونه شو.

ده ډېرې غوښتې، هدف یې لوړ و، خو ښایي تېروتی وي، تمه به یې بیخي لوړه وه، لکه چې ښه فرصت یې بایللی و، بیا داسې فرصت اسانه نه و، هالیووډ ته د ننوتو چانس یې بایللی و؟ ډېر لکه چې حریص و؟

دی ساده و، په دې نه پوهېده چې د کیسې خرخول هسې یو رسمیت دی او ایوانوویچ په ټیلیفون ښې خبرې وکړې، اوس ولې یو دم بدل شو؟

دی که بلد وی پوه شوی به وی چې د ایوانوویچ خبرې چنې وې، اول یې دی وراټه او نهیلی یې کړ، دا یې عادت و او ان د بالیووډ له څو تنو نویو لوبغاړو سره یې هم ورته ټرونونه کړي وو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



درویشتم څپرکی

# زلمي هوښیارتوب وکړ...

جان څو ژورې ساګانې واخیستې، خپل زړه ته غوړ شو، بوډا سړی ورته ویلي وو چې هر څه ښه کیږي، خو زموږ ذهن محدود دی موږ یې نه شو لیدی او د پیښو ژور لاملونه نه شو لټولای، ځینې پیښې موږ ته خندونه ښکاري، خو هغو مو ویښوي.

سکرترې ته ورغی، هغه خپل مېز ته ناسته وه، هغه هم ورته حیرانه وه چې دا ځنګه را ووت، مېرمن فورډ وویل:

- دومره زر؟
- هو، حالات ډېر ښه نه وو.
- اوه، دا خو ښه ونه شو.
- خو تاسو نه یوه هیله لرم، لږه مرسته راسره وکړئ، یوازې دومره راته ووایئ چې ښاغلی ایوانوویچ نن جولیا مېرمن سره چیرې ګوري؟
- ما به درسره مرسته کړې وی، خو دا معلومات پټ دي.
- خیر دی، ډېره مرسته به مو کړې وي.
- پوهیږمه، خو ښښنه غواړم.
- ښه دومره خو ووایه چې کوم عمومي ځای کې ګوري؟ نور خلک هم وي؟ رئیس به مو نه خبریږي.

فورډ یوه شیبه شکمنه شوه، خو دده له ځوابه مخکې زنګ راغی، هغه به

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



خبرو شوه، د جان ښه بخت ته گوره، په میز یو خړ کاغذ پروت و د جولیا جونسن په اړه پکې خبرې وې خو د لیدو ځای نه و معلوم. جان له مېزه روانېده چې د مېرمن فورډ خبرې ختمې شوې، ده ورته وویل:

- ښه نو، څنگه چل شو؟
- دا کار نه شم کولای، که رئیس خبر شو شړي مې، دلته قوانین سخت دي، معلومات نشم درکولای.

بیا زنگ شو، فورډ دوسیې پسې ور تاوه شوه او جان زر کاغذ ته ولیدل، دا ځل یې پته هم ولیده، پولولانچ.

بس قسمت یې ښه و، څکه دی هم پولولانچ ته ور روان و، د گرگ میلمستیا ته. زر بهر وواته او زنگ یې ور وواهه، سړی لا دفتر کې و، ده ورته وویل:

- سلام ښاغلی نیکولاس، زه جان بلیک یم، تاسو راته ویلي وو، زه دخیره پولولانچ ته درځم.
- څنگه چل دی؟ خیر خو به وي؟
- نه نه، څه خبره نشته، بس لږه مرسته مې په کار وه، ما ایوانوویچ سره وکتل، لږ یې خفه کړم، ایله پنځلس زره ډالر یې راکول، زه خپل کار ښه کولای شم، ډېر یې ښه کولای شم. سکرترې یې راته وویل چې زما کیسې ته یې کوم خریدار پیدا کړی دی، خو نوم یې راته ونه ښوده.
- ښه نو، زه یې درته نوم پیدا کړم؟
- نه نه، تاسو یو وړوکی کار وکړئ، زه تاسو ته له درتلو مخکې یو ځل ایوانوویچ سره گورم، بس تاسو دومره وکړئ چې هلته مو زه ولیدم، یو ځل زما میز ته راشئ

Downloaded By: Afghan Salar Library

او سترې مه شي راسره وکړئ، هغوی چې وګوري زه له دومره لویو خلکو سره پېژنم، زما وړاندیز به ومني.

نیکولاس په کړس کړس وخندل.

- ښه ښه ، هېڅ خبره نشته، نن شپه مې چې ولیدې، مېز ته درځم او دا کار درته کوم.

- مننه، ډېره مننه، خوشاله اوسئ، وخت مو نه نیسم، ښه وخت.

پنځه کم اته بجې وې چې جان پولولانچ ته ورسېده، ویلچییر ته یې د ټولو ورپام شو، دې ځای ته د سینما ډېرې مشهورې څېرې تلې راتلې. له منتظمینو یو کس راغی، جان یې نه پېژنده، ورته یې وویل:

- نوم لیکنه مو کړې؟

- هو، ښاغلی نیکولاس نه مې وخت اخیستی، ګرګ نیکولاس.

نیکولاس خپل یوه مېلمه سره ناست و او تر ټولو ښایسته مېز یې ورته ځانګړی کړی و.

- ښه سمه ده، د نیکولاس صیب مېلمانه راغلي، راځئ ماسره راشئ.

جان سړي پسې شو، شېبه وروسته د تالار یوې څنډې ته ورسېدل، د نیکولاس مېلمانه او دی خپله هم و. شېبه وروسته یې په ایوانوویچ سترګې ولګېدې، سړي نه یې ښښنه وغوښته ورته یې وویل چې نیکولاس ته وروسته ورځي اول ښاغلي ایوانوویچ سره ویني.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



- **سمه ده، څنګه چې ستاسو خوښه وي.**

ایوانوویچ د سینما لویې ستورې جولیا جونسن سره ناست و، جان چې ورننوتو شوی سړی تک سور شو چې دا دلته څه کوي، دا ورو ورو نږدې کېده او هغه چې پرې تر څو خوله را خلاصوله، ده جولیا جانسن ته لاس وړاندې کړ او ځان یې ور وپېژنده، ګرګ خو ورته ویلي وو چې لوی خلک خپله کیسې نه لولي:

- **اغلې جونسن په لیدو مو خوښ شوم، ښاغلي ګرګ نیکولاس راته وویل چې زما کیسه مو ډېره خوښه شوه او هیله یې ښودلې چې تاسو به یې پکې مرکزي رول لوبوئ؛ نو که داسې وشي ماته به لوی ویاړ وي، زه پوهېږم چې تاسو د ننني سینما لویه څېره یئ.**

جولیا ورته وویل:

- **مننه، بلکل ستاسو کیسه ډېره ښکلې وه.**

ایوانوویچ پوه شو چې تېروتی دی، څکه کومه کیسه چې د جولیا خوښه شوه هغه خو بیا بهترینه کیسه وي، خفه و چې دې بلیک ولې بیا زه خبر نه کړم؟ ولې یې نه ویل چې نیکولاس سره بلد دی، یا به هسې لافې کوي...
ده په همدې ډاډ زړه خوشالاوه چې دا اندېښنه یې هم ختمه شوه، څکه نیکولاس د پلان له مخې مېز ته رانږدې شو، چې جان سره روغبړ وکړي، خو د رواج له مخې یې لومړی جولیا سره روغبړ وکړ، ورته یې وویل:

- **زه باید یوه شپه تاسره ډوډۍ وخورم او د جان د کیسې په اړه درسره وغږېږم.**

بیا یې په شوخۍ وویل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



- **البته که جان نه خفه کېږي.**

دې پسې یې ایوانوویچ ته وکتل ویې ویل:

- **ښه نور څه حال دی؟**
- **خیریت دی.**
- **ښه زه ځم چې مېلمانه په تمه دي، او جانه ته هم زر راځه چې ډوډۍ را غواړو.**
- **سمه ده، بس درغلم.**

دې وخت کې د جولیا موبایل وشرنګېده او ایوانوویچ دومره وخت وموند چې جان سره شخصي خبرې وکړي.

- **ګوره زه کیسې نه بیخي نه وم خبر، ته چې لاړې ما خپل یوه ښه مدیر ته وویل چې دا کیسه ولوله...**

سړي غږ ټیټ کړ او خبره یې وغځوله:

- **خو ګوره، زه چیک کې هغه یو صفر ورزیاتوم، خو ته دستی ځواب راکړه.**
- **ماته څلورویشت ساعته وخت راکړه چې فکر وکړم.**
- **سمه ده، خو ګوره درې نیم لکو پورې درکولای شم.**
- **سمه ده، سبا دفتر ته درځم.**

دا یې وویل او دواړو نه یې خدای پاماني واخیسته، د مېزونو او څوکیو منځ کې نیکولاس خواته روان شو.
هلته ورته نیکولاس او مېلمه دواړه په تمه وو، جان وویل:

- **ستاسو په لیدو خوښ شو ښاغلی ګلډمن**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



لاس یې ورمخکې کړ:

- **ستاسو کیسې مې لوستي او ډېرې خه مې ترې زده کړي.**
- **دا ګلډمن نه دی، دا ښاغلی زېلر نومېږي، فلمونه جوړوي.**
- **ښه ښه، وبښئ.**

جان خجالته شو، نیکولاس ورته وویل:

- **اصلا کیسه دا ده چې زموږ پلان بدل شو، تا چې زنګ راووهه زه دوی سره ناست وم، دا هم د ایوانوویچ غوندې کارونه کوي، اصل کې هغه مخکې زېلر ته کار کاوه.**

بیا یې یی زېلر ته وکتل، لکه اجازه یې چې ترې غوښته.

- **او د ښاغلي زېلر څینې پروژې یې پر مخ وړي دي.**

جان وویل:

- **وبښه ستاسو خبره نیسم، خو د مرستې لپاره ډېره زیاته مننه، سړي راته درې نیم لکه ډالر ومنل.**
- **هیله کوم، خو جولیا جونسن په تمه ده چې ستا د کیسې مرکزي کرکټر ولوبوي.**

زېلر چې د جولیا جونسن واورېدل، پام یې ور واوښت ویې ویل:

- **وبښئ، ګوره زویه زه خپل پخواني کارمند سره چنې**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

**هم نه وهم، خو یوه خبره کوم او هغه دا چې ددې کیسې درته نیم میلیون (پنځه لکه) ډالر درکوم، نور یو سینټ هم نه درکوم ... او هو ددې ډوډۍ بیل دې پیسو کې نه دی.**

- **پنځه لکه ډالر؟**

جان زیلر ته وکتل، هغه هم د تایید سر وخوځاوه، ویې ویل:

- **بې فکر خبره نه کوم.... چیک درته ولیکم که نه؟**
- **سمه ده ویې ولیکئ.**

زیلر چیک لاسلیک کړ، دې سره یې له جیبه د ټرون دوه پاڼې هم راوویستې، جان ته یې وویل چې دا ډکې او لاسلیک کړه، دواړو لاسلیک وکړ او جان چیک واخیست.

جان چې چیک ولیده، یې ویل:

- **څلور لکه؟ تاسو خو پنځه لکه وویل؟**

نیکولاس ټرون لاسلیکاوه ویې ویل:

- **یو لک زما مزدوري شوه.**
- **نو یو ساعت کار په یو لک ډالر؟**
- **هو، لږې ډیرې دي، خو ځوانی کې مې له دې هم ډیرې اخیستې.**

جان نور څه ونه ویل، نیکولاس ورته دوه مهمې خبرې کړې وې، یوه دا چې هالیووډ کې څوک کیسه نه لولي او بله دا چې دروغ وایي

Downloaded By: Afghan Salar Library



شلرویشتم څپرکی

# زلمی د خپلو سختیو په لامل پوه شو...

نیویارک ته چې راستون شو لومړی کار یې د خپل مرشد پیدا کول وو، څکه دې سړي یې په بریا کې مهمه ونډه لرله، که څه هم حالات بیخي هغسې نه شول لکه ده چې ویلي وو.
هنري خدمتگار دروازه پرانیسته، جان یې چې په ویلچییر ولیده، موسک شو ویې ویل:

- خیر خو دی؟ څه در شوي؟
- د ملا تیر کې څه خبره ده، ډاکټران هم نه پوهېږي، کور کې دی؟
- هو باغ کې دی، درسره لاړ شم؟
- نه نه مننه، بلد یم.

جان د باغ په دروازه کې یو تازه گلاب ولید چې په څمکه پروت دی، ورتیټ شو، گلاب یې راواخیست، لږ مخکې چې لاړ پوه شو چې گلاب له کومه شوی، د ناروغ گلاب په خوا کې یې د گلاب بوټي نه و لیدلی، اوس یې چې ولیده حیران شو، یعني زاړه میلیونر یې د وچېدو مخه نیولې وه.
جان ته د سړي هغه خبره وریاده شوه چې ویل: زه چې دا گلاب وگورم ته رایاد شې، یوازې په دې خاطر راستون شوم چې دا بوټي وژغورم.
جان ټکان وخوړ، یو معنوي او روحاني حالت یې تجربه کړی و، زر روان شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بوډا سړی د باغ په منځ کې ولاړ و او ګلاب یې لیدل، دا ځل یې بل رقم جامې اغوستې وې، سپین ګرد کمیس یې اغوستی و، تور بوټان وو او په کمیس یې کمربند تړلی و.

جان وویل چې راځه د ستړي مه شي پر ځای ورسره تږوکې وکړه.

په وروستي ځل یې چې لیدلي وو جان په ډېره سختۍ هغه اوسپنه ښرخولې وه خو اوس یې باور و چې په ذهن واکمن شوی دی، ځان سره یې وویل چې ذهن به متمرکز کوم او دا اوسپنه به ښرخوم، اول یې ونه کړی شول خو شېبه وروسته اوسپنه په تاویدو شوه.

جان د ملا په تیر کې یوه لړزه احساس کړه، ښه کېده؟ اوسپنه یې بوډا سړي غوندې دومره په اسانه ښرخولای شوه؟ خو شېبه وروسته اوسپنه ودرېده، جان حیران و، تمرکز دومره قوت لري چې اوسپنه وښرخوي؟ بیا یې هڅه وکړه خو ناځابي خوښۍ یې حواس شیندلي وو او تمرکز یې ختم شوی و.

څو شېبې وروسته اوسپنه بیا په نڅا شوه، دا ځل تېزه شوه او بلاخره تري هغه جادوګره موسیقي راووته.

زاړه میلیونر سر راپورته کړ، نه پوهېده چې اوسپنه باد وښرخوله که څنګه؟ باد هم ډېر نه و، دې وخت کې څو مرغۍ هم ډنډ ته راغلې.

څو مرغۍ د جان په اوږه کېناستې او سړی یې حیران کړ، ایا دده قوت دومره ډېر او پراسراره و؟

د زاړي سړي بیا سودا شوه، باد نه و، ګردچاپیره یې وکتل، ګوري چې جان دی. سړی موسکی شو ویې ویل:

- **اخر هم راغلې؟**
- **هو راغلم.**

د جان د تمرکز په ختمېدو اوسپنه بېرته ودرېده او مرغۍ والوتې.

زاړه سړي اوسپنې ته وکتل ویې ویل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



- ښه شوی یې د خیره.
- هو، خو تاسو چې راته د بریا کوم راز ښودلی و هغه کار ونه کړ، ما خپله موخه ۲۵۰ زره ډالر ټاکلې وه.
- نو؟
- نو څلور لکه مې وګټل.
- هیڅوک پوره نه دی.

جان خپل ویلچییر ته اشاره وکړه ویې ویل:

- هو! کاشکې تاسو دلته وی.
- زه همالته وم، ان ځینې وخت مې په خپلو اوږو هم پورته کړې، خو ستا پام نه و. اصلاً ما تاسره ډېره مرسته کړې، که دا څه وخت په دې څوکۍ نه وی ناست کلونه به دې د بریا هم مخ هم نه وی لیدلی، ما چې تاسره په وروستي ځل ولیدل معجون مې درکړل او هغې په دې څوکۍ کېنولې.
- یعنې زما ته په دې حال کړی یم؟

د جان په سترګو کې غوسه لیدل کېده، بوډا ورته وویل:

- هو! تا ویلي وو کنه چې بریا لپاره هرې بیې ته تیار یې.
- که زه خبر وی چې بیه به یې دا وي نه مې منله.
- د اعصابو د ودې لپاره دې باید ښو کار پریښی وی، ما درسره مرسته کړې چې بریالی شې، خفه یې؟
- زما خو دا ژوند نه خوښیږي، ډاکتران وایي نه ښه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کېږي.

- ډاکټرانو پسې مه ځه، ستا ذهن مهم دی، زما خبره دې هېره شوه؟ ما درته ویلي وو چې باور غرونه خوځولای شي، که ته دا باور لرې چې له دې ځوکۍ پاځېدی شي، پاځېږې او روانیدی شي، هېڅوک دې مخه هم نه نشي نیولای.

- ته څه وایې چې ما هڅه نه ده کړې؟ له سل ځله مې ډېره کړې، چې پاځېږم، خو نشم پاځېدی.

دا خبره یې وکړه، د پاځېدو هڅه یې وکړ، ټول خوله خوله و، خو پانځېده.

- ودې لیده؟

- نه ومې نه لیده. ځینې خلک دومره قانع وي چې هېڅ کار ترې نه کېږي، هېڅ بریا نه مومي او چې مات شي بیا وايي ودې لیده چې زه یې نشم کولای؟

- بریا بیل شی دی او معلولیت بیل.

- ته ولې په دې ویلچیر کې ناست یې؟

- پښې مې فلج دي کنه.

- څوک فلج دی؟

- زه فلج یم کنه، نه ښکارم درته؟

- ته په ویلچیر نه یې، ستا اصلي اروا هلته نه ده. ته ذهن یې بدن نه یې، بدن هسې وسواس دی. ته نه ورکېږې، نه فنا کېږې، ته قوي یې، ځکه درته وایم چې که ته باور ولرې زما په خبره پوهېږې، زه درته وایم چې پاځېدی او ګرځیدی شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


جان په بدن کې یو رپ (لړزه) احساس کړ، د میلیونر خبرې هسې خبرې نه وې، د انرژۍ قوي څپې وې، ده ته راتلې او ټول بدن یې دده لړزاوه.
جان لاسونه د څوکۍ په لاسکي زور کړل، پښې یې مخکې کړې، په ډېرو هڅو ایله ودریده، بیا یې قوت ختم شو او بېرته کېناست.
دې وخت کې میلیونر عجیب حالت کې شو، اسمان ته یې ولیدل او ښي لاس یې هوا ته ونیوه، لکه قوت چې لټوي، نامعلومه غږونه یې له خولې وتل، لومړی غږونه ورو وو او وروسته پسې لوړ شول.
باد تېز شو، اوسپنه په نڅا شوه، د موسیقۍ غږ لوړ شو، مارغان راټول شول.
جان پوه شو چې څه به کېږي، نه پوهېده څه وکړي، وېرېدلی و، خو بیا یې وېره نوره هم زیاته شوه، زمری په ځغربا باغ ته راننوت، غوسه ښکارېده، ته وا حمله به کوي.
د جان ذهن کار پرېښود، دا ترې هېر شو چې له میاشتو په دې څوکۍ ناست دی، له څوکۍ یې ټوپ کړ او په منډو شو، په کوم ځای کې چې باور کار کړی و، وېرې هم پکې ځان وښود، خو د جان منډه لنډه شوه، سړي لاس راښکته کړ او زمری یې پښو کې پرېوت.
باد ورو شو، مرغۍ والوتې او اوسپنه ودرېده.
جان زمري ته لیدل، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، پوه شو چې روغ شوی دی، زاړه سړي ته یې وویل:

- څه وشو؟
- ستا ناروغۍ ته نوره اړتیا نه وه.

جان زر ورمخکې شو، د زاړه سړي لاسونه یې ښکل کړل، هغه یې په سر لاس راښکوده، ویې ویل:

- ښه زه باید لاړ شم، دلته مې کار ختم شوی، ورونو ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مې ورځم.

جان حیران ودرېده:

- دومره زر؟
- هو بس کار خلاص شو نو.
- بیا به کله وګورو؟
- خدای خبر.
- تاسره یو ځای ژوند نشم کولای؟
- نه، لا تیار نه یې، دلته درته لا ډېر کارونه پراته دي.
- خو زما نور کار نشته.
- رښتیا؟ داسې کار لا نشته چې تا نه وي کړی؟ مثلاً د یوې ښځې ستونزې ختمول؟

جان ته راشل وریاده شوه، خو د هغې په اړه یې ده ته نه وویلي، دا څه خبر و؟ د پوښتنې وخت نور نه و، دې وخت کې موټروان راغی، یوه بکسه یې له موټره راوویسته، لومړی یې میلیونر او بیا جان ته درناوی وکړ. بودا ورته وویل:

- راځه ادګاره، ډالۍ دې راوړه.
- جانه دا ډالۍ ستا ده، خو په یوه شرط.
- څه شرط؟
- چې دا به هسې د سودا له مخې نه پرانیزې، بس چې کله دې په کار شوه او اړتیا وه پرانیزې به یې.
- ښه سمه ده.
- خو دا ځل یې هغې بلې ډالۍ غونډې سیند ته ونه غورځوې.
- زه نه پوهېږم چې بیا به سره وګورو که نه، خو که له ما

Facebook:https://www.facebook.com/groups/7822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Saldr Library

څه غواړې راته ووایه، خوښ به شم.

- هر څه چې وغواړم؟
- هو، هر څه.
- ښه نو، زه درنه یوه نیکټایي غواړم.
- نو دا به ستا څه په درد وخوري؟
- ته څه وایې ولې یې غواړم؟
- دا زما د پلار نیکټایي وه، زه به درته همداسې بله واخلم، هر څه چې غواړې درته یې اخلم خو دا مه غواړه.
- پوهېږم چې دا رانه کوې، ښه سمه ده نو، لارې مو بیلې شوې.
- یوه شېبه، صبر صبر.

د جان سترګې راډکې شوې، نیکټایي یې سسته کړه، د پلار له مرګ وروسته یې دا نه وه پرانیستې، نیکټایي یې میلیونر ته ورکړه او هغه ترې په خوشالی واخیسته.

سړي چې ترې نیکټایي واخیسته جان ارام شو، سپک غوندې شو، لکه د پلار د مرګ ټول خفګان چې ترې هېر شوی وي، ازادي یې احساس کړه، لوی بار ترې ښکته شوی و، دا میاشتې میاشتې یې په اوږو پروت و.

میلیونر پرې لکه چې پوه شو، نیکټایي له خپلې غاړې تاوه کړه، له جان یې پوښتنه وکړه:

- ښه راسره ښکاري؟

جان راکړس وهل، میلیونر هم په خندا شو، ادګار هم وخندل او دومره یې وخندل چې تشو یې درد وکړ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



میلیونر خندا بس کړه، ویې ویل:

- **زه خو وایم چې نوره همدا نیکتایي تړم، څکه په خلکو تاثیر کوي.......... ښه جانه، ته نو ورځه.**
- **همدا اوس؟**
- **هو، وخت مه ضایع کوه، هغه ښځه باید وګورې، ښه وخت دی، ورشه، خپل ظاهر ته مه ګوره، صرف زړه ته ګوره.**

جان ډالی په څمکه کېښوده، زاړه سرې ته ور غاړې واته، نه پوهېده چې مننه ترې څنګه وکړي، د پوښتنې وخت نه و.

- **څه زویه، ناوخته کېږي.**

جان له مانۍ راووت، نیستي او ناروغي یې دواړه ختم شوي وو، کلونه یې همداسي ژوند کولای شو، خو راشل لا بندیوانه وه، میلیونر سره یې ژمنه کړې وه چې راشل به ګوري، ځان یې ازمایه، که څه هم ښایي زړه یې مات شوی وی او احساسات یې تېي شوي وی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


وروستی څپرکی

# زلمی د مینې په اصلیت پوهېږي...

راشل خپل اپارتمان کې واده ته سینګارېده، سپینې ښایسته جامې یې اغوستې وې، لوئیس پرې ټینګار کاوه چې خلک یې راتلو ته په تمه دي.
نکاح ته څو ساعته پاتې وو، خو راشل خفه وه، سترې به وه او که ددې سندرې لامل و چې جان سره به یې یو ځای اورېده؟
جان چې د راشل کور ته را ورسېده، دروازه بېرته وه، بې زنګه ور ننوت.
ګوري چې راشل هنداري ته ولاړه ده، دلته یې څه کول؟ میلیونر ورته ولې ویلي وو چې د راشل لیدو ته لاړ شه؟ همداسې غلي بېرته ګرځېدل به ښه وي، خو بیا یې وویل چې راشه حقیقت ورته ووایه، ورته یې باید ویلي وی چې ولې ترې بیل شوی و، خو د واده په ورځ دا خبره ښه وه؟ ځانځاني ګني نه وه؟
سندرې ته هم حیران و، دا هسې تصادف و او که پخوانی مینه یې وریادوله؟
دې وخت کې د راشل ورپام شو، زر یې منډه کړه او سندره یې غلې کړه.
سترګې یې سره ولګېدې، د جان خیال کې هم نه راتلل چې داسې ورځ به وویني، دده دا نجلۍ خوښه وه، خو پرېښې یې وه، ځکه چې نه یې خفه کوله خو اوس دی بېرته روغ شوی و، راشل وویل:

- جانه؟

راشل غلې شوه، خبره یې نشوه کولای، خو زړه یې غوښتل چې وغږېږي او ورته ووایي چې مینه ورسره لري، اوس یې هم ورسره لري، خو جان پرېښې وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



لوئیس له دې حالته ګټه نه وه اخسیتې، خو جان له راشل مخ اړولی و.

جان خبرې پیل کړې:

- **زه،،، زه نه وم خبر چې.......**

خبره ترې ونه شوه، دې دردونکو خبرو یې ژبه ربېله، خو راشل واده کېده او هغه هم یو ساعت وروسته.

جان په بنده ژبه ووېل:

- **ما ... ما ویل چې تاته ووایم چې ... ګوره ما چې ته پرېښودې، داسې نه وو چې مینه مې درسره نه وه، خو زه ناروغ وم او فکر مې کاوه چې نه رغېږم .... زه فلج شوی وم، په تا مې ځان نه باروه.**

راشل یې په خبرو شکمنه شوه، رښتیا یې ویل؟ خو د جان سترګو ته یې چې ولیدل پوهه شوه چې دروغ نه وایي.

راشل فکر وکړ چې معلول خاوند، خو بیا یې هم دا دومره ستونزه ونه ګڼله چې واده دې ونه شي.

د جان راشل ته ورپام شو، ډېره ښایسته ښکارېده، له هر وخت ښایسته وه، خبره یې وکړه او نور ېې‌رته روانېده ویې ویل:

- **ښه نو، زه ځم، بختور شئ، مبارک مو شه، ژوند مو خوشاله شه.**

د راشل زړه نری شو، نږدې یې ورته له خولې وتي وو چې اوس هم ورسره مینه لري، خو بس ځان یې راکلک کړ، لوئیس ډېر درون او مهربانه سړی و، دې باید خپل احساسات قابو کړي وی.

جان چې له کوره واته ګوري چې لوئیس راننوت. پخوانۍ چنغله یې ګلوریا ورسره وه، ګلوریا که څه هم خفه وه، خو دا چې د لوئیس ملګرې وه؛ نو د دوی د نکاح شاهده شوه.

لوئیس د جان په لیدو حیران شو، دلته یې څه کول؟ ځا... خو واده ته نه و

Facebook:https://www.facebook.com/groups/782281282297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



راغوښتی، ګلوریا جان نه پېژنده او په دې هم نه وه خبره چې راشل سره یې اړیکه وه، لوئیس هم ورته څه نه وو ویلي.

ګلوریا خړې جامې اغوستې وې او خولۍ یې په سر وه، د جان په لیدو موسکی شوه، دا یې هم مبلمه وګاڼه، خو د جان جامې د واده جامې نه وې.

د راشل په خېټه کې سخت درد شو او ځنګه چې په ځمکه رالوېده له خولې یې جان ته غږ ووت.

لوئیس پوه شو چې ولې یې دده پر ځای جان ته غږ وکړ، ځان سره یې وویل چې دا ښځه ماسره خوشاله ژوند نه شي کولای، ښه به دا وي چې راشل له جان سره واده وکړي.

لوئیس راشل ته وکتل، په شونډو یې موسکا خپره شوه، خجالته شوه چې دده پر ځای یې جان ته غږ وکړ، لکه هغه سره یې چې ظلم کړی وي.

خو لوئیس په هر څه پوه شو، ګلوریا لوئیس ته لاړه، له لاسه یې ونیوه، سترګو ته یې دده ولیدل، لوئیس پوه شو چې دا د اوسني ژوند پای دی او نوی ژوند ورته په تمه دی.

لوئیس جان او راشل ته وکتل، ویې ویل:

**د یو بل په څنګ کې درته ښه او خوشاله ژوند غواړم.**

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بالآخره

جان د خپل واده په لومړیو څلورو کلونو کې دوه نور فلمونه ولیکل، ډېر بریالی شو، ژوند یې ښه و، د سینما له لویو کاروباریانو سره یې پنځه کلن تړون لاسلیک کړ او ددې تړون لاسلیکولو یې میلیونري تضمین کړه.
راشل سره یې د ژوند اته کاله په خوشالۍ تېر شول، یوه ورځ یې ناڅاپه ذهن ته دا خبره راغله چې میلیونر یوه ډالۍ ورکړې وه او اوس یې باید هغه ډالۍ راسپړلې وی.

**پــــای**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

- اصلي ستونزه وېره ده، حیني
پر ځان پوره باور نه لري، که
رښتیا یې باور لرلی هرومرو
بریالي کېدل...

- د انسان په ذهن کې چې څه
ورګرځي، که باور پرې ولري
هرومرو ورته رسېدای شي...

- شکسپیر ویلي، دنیا دومره
سخته ده چې څوک یې
د فلسفې په کتابونو نشي
پېژندی...

- عادي خلک وحشیانو ته
ورته وي، دوی فکر نه کوي
چې مفکورې (ایډیاوې) ګنې
واقعي دي. بېخي هماغسې لکه
ځنګلي انسان چې د راډیویي
څپو واقعیت نه مني...

دانش خپرندویه ټولنه

سالنګ وات، انحصارات، د پخواني ملي سینما
څنګ ته، دانش کتابپلورځی/ ۰۷۷۱۱۴۴۳۱۷

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

- اصلي ستونزه وېره ده، ځينې پر ځان پوره باور نه لري، که رښتيا يې باور لرلی هرومرو بريالي کېدل...

- د انسان په ذهن کې چې څه ورگرځي، که باور پرې ولري هرومرو ورته رسېدای شي...

- شکسپير ويلي، دنيا دومره سخته ده چې څوک يې د فلسفې په کتابونو نشي پېژندی...

- عادي خلک وحشيانو ته ورته وي، دوی فکر نه کوي چې مفکورې (ايډياوې) گنې واقعي دي، بېخي هماغسې لکه ځنگلي انسان چې د راډيويي څپو واقعيت نه مني...

دانش خپرندویه ټولنه

سالنگ وات، انحصارات، د پخوانی ملي سينما
څنگ ته، دانش کتابپلورځی/ ۰۷۷۱۱۴۴۳۱۷

002507

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar